



شَهرُ رَمضَانَ الّذِي أنزِلَ فِيهِ القُرآنُ هُدًلّلنَا سِ وَبَينتِ مِّن الهُدى وَالفُرقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَليَصُمهُ:الايه(بقره ١٨٥)
وقال النبي (ص) من صام رمضان وقامه ايماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه :الحديث (ترميذي جـ١صـ٨٦)

د روژې فـضائل او مــسائـل

په قـنـدهاری پـښتو

د کتاب خصوصیات
په دې کتاب کښې د روژې مبارکي فضائل،د تراويحو فضائل اومسائل،د روژې ضروري مسائل،د روژې اقسام،د اعتكاف فضائل، دليلة القدر فضائل.او دصلاة التسبيح دلمانځه طريقه اوفضائل ليکل سويدی.

مـؤلـف
الـعبد الـضعيف احـقرالـناس
قـاري مـولـوي عـبدالـباري(عـرفـان) غفرله المنان







شَهرُ رَمضَانَ الّذِي أُنزِلَ فِيهِ القُرآنُ هُدًلّلنَا سِ وَبَينتِ مّن الهُدى وَالفُرقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَليَصُمهُ:الايه(بقره ۱۸۵)
وقال النبي (ص) من صام رمضان وقامه ايماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه :الحديث (ترميذي جـ۱صـ۸۶)


دروژې فضائل





اومسائل







مؤلف
العبد الضعيف احقرالناس
قاري مولوي عبدالباري(عرفان) غفرله المنان

فــهــرست

(سريزه)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي فرض علينا الرمضان:
وجعل لقائميها في الجنة باب الريان:
وانزل في شهرها القران:
والصلوة والسلام على رسوله آخر الزمان:
وعلى آله واصحابه الذين عليهم رحمة ورضوان:

قال الله تعالى في محكم كتابه المجيد(يَا اَيُّهَاالذَينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبلِكُم لَعَلَّكُم تَتقُون(البقره ۱۸۳) وقال رسول الله(ص) بنى الاسلام على خمس شهادة الا اله الله وان محمد عبده ورسوله واقام الصلوم ايتاء الزكوة والحج وصوم رمضان(مشكوة جـ۱صـ۱۲) امابعد محترمو لوستكو لكه څه رنګه چې روښانه اوڅرګند حقيقت دي چي په هروخت اوزمان كي الله ج دخپل دين دتقويې لپاره خادمان پيداكړي دي چي دپيغمبر(ع) دزماني څخه آن ترننه پوري ئې ددين اومذهب لپاره ځانګړي قرباني اوديني خدامات كړي دي چا دتأليفاتو اوتصنيفو له لاري چا دتعلم له لاري چا دخپلو متو اواسلامي جزبې له لاره خاص كرت علماء كرامو په هروخت اوهرځاى كي خپلي هلي ځلي نه دي سپمولي دخپلو عوامو مسلمانانو ورڼو دآسانتيا اودښه افهام اوتفهيم لپاره ئي قسم قسم كتابونه اورسالې په خپله مورنى ژبه تأليف ياتصنيف كړي دي.نوبناءً دهمدي خدمت له لاري ما عاجز هم خپل وس ونه سپماوه چي دزياتو مصروفياتوسره مي بياهم دعوامو ورڼو دآسانتيا لپاره ددوی په غوښته سره دخپل قليل علم په زريعه او دالله ج په نصرت اوتوان سره يو كتاب چي دروژې فضائل او مسائل يه نامه سره دی چي اهمي اوضروري موضوعات پکښي ځيرل سوي دي.لكه دروژې مباركي فضائل،دروژې ضروري مسائل،دروژې اقسام،داعتكاف فضائل، دليلة القدرفضائل، ضروري مسائل،نوځكه ما هم دغه كتاب دتولني وخدمت ته وړاندي كړی.الله ج دې دخپل رضا سبب وګرځوي.آمين،
اولكه څه رنګه چي څرګنده او معلومه خبره ده چي يوه خيمه پرپنځو ستنيو ولاړه وي چي هغه يوه راسته طرف ته بله چپه طرف يومخ ته بله شاه ته او يوه په منځ كي. همدا ډول زموږ اوستاسو اسلام هم پر پنځو بنا وو مشتمل يا ولاړ دی.چي موږ او تاسو ورته داسلام پنځه بناوي وايو. معلومه خبره ده چي داسلام درېيمه بنا روژه ده اودا روژه دالله ج داسي يو سترعبادت دی چي الله ج صرف پر دې امت نه بلكي پرمخكنيو اومتو هم فرض كړې وه اوهر يو عبادت مشركينو دخپلو بتانو لپاره كړی دی.لكه لمونځ،خيرات،طواف،نذر، اوداسي نور..مګر روژه هغه عبادت دی چي ببله الله ج بل دهيڅ ځا لپاره نه ده نيول سوې.نومعلومه خبره سوه چي روژه هم يو ډير بهترين عبادت دی چي مسائل،احكام،اواقسام ئې هم زيات دي نوځكه موږ هم دخپل وس اوتوان په اندازه هم دغه كتاب مرتب اودتولني خدمت ته مو وړاندي كړ.اللهم اجعله مقبولاً وخالصاً لوجهك الكريم:وجعله كفارة لذونوبي يا ارحم الراحمين.وبک نستعين.

په درښت : العبدالعاصي احقرالناس قاري مولوي عبدالباري(عرفان) غفرله المنان

(دروژې تعريف:دصوم اورمضان ترمنځ فرق)

دا يو څرکند حقيقت دی. کوم څوک چې په يوه موضوع باندي ځان خبرول غواړي، نو لومړی بايد دهغه معرفت(پيژندګلوي)ځان ته حاصله کړي، نوموږ اوتاسي هم بايد دروژې تراحکامو مخکي دروژې تعريف(لغوي اواصطلاحي) معنا زده کړو.

روژه چي په عربي ژبه کي ورته صوم وايي.صوم د مصدر صيغه ده . دصام يصوم صوماً دباب ، صوم په لغت کي مطلق بنديدو ته وايي: دخوراک ،چښاک ، خبرو، نکاح اوتګ کولو څخه ،

اوپه اصطلاح کی بيا صوم هغه بنديدو ته وايې:چې په ځانګړې طريقه سره دهغه شيانو څخه چي دروژې ماتونکي وي، لکه خوراک چښاک اوجماع کول دي.(المسوعة الفقهية الكويتية جـ٢٨صـ٧)

رمضان :- رمضان مأخوذ درمض څخه دی. رمض په لغت کي هغه تودې ځمکي ته چي دلمر په توسط شديده ګرمه سوې وي وايی. اوپه اصطلاح کي رمضان دهغي مشهوري مياشتي نوم دی ، کوم چي موږ اوتاسو ورته دروژې مياشت وايو. نو له دې څخه دا جوتيږي .چې د صوم او رمضان ترمنځ لغوي او اصطلاحي تفاوت شتون لري. ځکه چي رمضان خاص دفرضي روژې مياشتي ته وايي او پرنفلي اونذري روژه يې اطلاق نه کيږي.اوصوم بيا عام لفظ دی،چې پر نفلي ، فرضي ، واجب او نذري روژې ئې اطلاق کيږي.دروژې اورمضان تر منځ عموم او خصوص من وجه دی.

(دروژې اثبات اودفرضيت تاريخ)

دروژې مبارکي مياشتي روژه نيول بالاتفاق فرض ده . په فرضيت کي يې بې له کافره د بل هيڅ مسلمان شک اوشبهه نسته .خو بيا هم موږ دنمونې په ډول د روژې دفرضيت ځينې ثبوتونه تاسو لوستونکو ته وړاندې کوو.

زموږ په محمدي شريعت کې د يو عمل د اثبات له پاره څلور دلائل دي.

لومړی:- قرآن شريف

دوهم:- حديث شريف

دريېم:- اجماع

څلورم :- قياس

هروخت چي د شريعت يو حکم ثابتيږي ، نو دهغه حکم لپاره ددغو څلورو دلائلو څخه يو دليل راوړل ضروري دی. دروژې پر فرضيت دقران عظيم الشان دليل دادی: چي الله (ج) فرمايې. (يَا اَيُّهَاالذِّينَ آمَنُوا کُتِبَ عَلَيکُمُ الصِّيَامُ کَمَا کُتِبَ عَلَى

الَّذِينَ مِن قَبلِكُم لَعَلَّكُم تَتقُون(البقره ۱۸۳) ترجمه:ای هغه کسانو چي تاسو ایمان راوړی دی . پرتاسو روژه فرض کړل سوېده، لکه څرنګه چي پرمخکنیو کسانو فرض کړل سوې وه ، په تحقیق سره به تاسو متقین(پرهیزګاران)جوړ سئ :
اود یوبل آیت شریف په یوه حصه کي الله (ج) داسي فرمایي:(فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَليَصُمهُ:الایه بقره ۱۵۸) ترجمه: هغه څوک چي په تاسوکي روژې ته حاضرسي ، نو دغه کس دي روژه ونیسي،په همدې آیت شریف کي لفظ دفلیصمه دی، فلیصمه د امر صیغه ده ، اودا امر د وجوب یا فرضیت لپاره دی.

دوهم :- د روژې دفرضیت دلیل داحادیثو څخه: (وقال رسول الله(ص) بنی الاسلام علی خمس شهادة الا اله الله وان محمد عبده ورسوله واقام الصلوم ایتاء الزکوة والحج وصوم رمضان(مشکوة جـ۱صـ۱۲)
ترجمه: پیغمبر (علیه السلام) فرمایي: اسلام پر پینځو شیانو بناء دی. یعني په دې معني چي د اسلام بناوي پینځه دي.
۱ :- کلیمه ویل
۲ :- لمونځ کول
۳ :- زکات ورکول
۴ :- حج کول
۵ :- دروژې دمیاشتي روژه نیول
اوپه یو بل حدیث شریف کي پیغمبر(ع) فرمایلي دي.
(صوموا تصحوا)روژې نیسئ تاسوبه صحت پیداکړی.

درېیم:-دروژې اثباب په اجماع(اتفاق دامت) سره هم سوی دي.د پیغمبر(ع) د زمانې څخه بیا ترننه پورې هیڅ مسلمان هم په ښکاره دروژې دفرضیت څخه انکار ندی کړی،نو همدې نه انکار کولو ته اجماع ویل کیږي.

څلورم:- قیاس هم دا تقاضا کوي ، چي په روژه نیولو سره دانسان دجسم اوچتوالئ راځي:
داهم دروژې ثبوت ؤ، په ادله اربعه (څلورو دلائلو)سره
اوس د روژې مبارکي تاریخ ته راځو . روژه دهجرت په دوهم کال دشعبان(برات)په میاشت کي فرض سوه . یعني دهجرت څخه اتلس ۱۸ میاشتي وروسته دشعبان په میاشت کي دقبلې دتحویل وروسته درمضان دمیاشتي روژه فرض سوه.تردې مخکي دعاشورا د ورځې روژه فرض وه، وروسته دهغې دفرضیت حکم منسوخ سو . خو د ذکر سوي ورځي روژه نیول سنت ده.

په ابتدا داسلام کي چي کله د رمضان روژه فرض سوه .نو هر انسان ته اختيار وُ. که به يې روژه نيوله او که يې فديه ورکوله. پدې اړه الله (ج) داسې فرمايي (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ط فَمَن تَطَوَّعَ خَيراً فَهُوَ خَيرٌلَّه ط وَاَن تَصُومُوا خَيرُ لَّكُم اِن كُنتُم تعلَمُون[بقره ۱۸۴]

ترجمه: هغه کسان چي د فديې وس او توان لري. دوی لره اختيار دی، که روژه نيسي اوکه ومسکين ته فديه ورکوي . که څوک مسکين ته اضافي څه چې په وسه يې پوره وي ورکړي، دا ئې خپل خير دی. که چيرې تاسو روژه ونيسئ. دا به ستاسو لپاره خير وي ، که چيري تاسو پوهيږئ. خو دغه اختيار د فديې په ابتداء کي وُ. وروسته همدغه ذکرسوی حکم په لاندې ذکر سوي آيت سره منسوخ سو(فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَلَيَصُمهُ:الايه بقره ۱۵۸)

اوس نو اصل حکم دادی. که چيرې انسان ناروغ ، مسافر او همداراز ښځه حامله ، مرضعه ، حائضه او نفاسه نه وه . ضرور به روژه نيسي . په قضاء يا فديه سره نه ادا کيږي.

(دروژې فضيلت(ثواب)

دروژې مبارکي دومره زيات فضائل دي چي ليکل او لوستل ئې زموږ او ستاسو تر توان او طاقت لوړ دي، خو موږ ستاسو د پوهاوي پخاطر د روژې مبارکي څه ناڅه فضايل دلوی خدای«ج»په توفيق تاسوته وړاندې کوو.

الله «ج» په قران پاک کي فرمايي: (شَهرُ رَمضَانَ الّذِي اُنزِلَ فِيهِ القُرآنُ هُدًلِّلنَا سِ وَبَينتِ مِّن الهُدى وَالفُرقَان،الايه(بقره ۱۸۵)

ترجمه:ـ د رمضان مياشت هغه مياشت ده . چي قرانکريم پکښي نازل سويدی، داسي قران شريف چي هدايت کونکی دی خلکو لره.اوښکاره دلائل،لاربښوونکی،اود حق اوباطل په منځ کي جدا کونکی دی. بل څرګند او په ثبوت رسيدلی حقيقت دادی: داچي قرانکريم دالله (ج)هغه سپيڅلی کتاب دی چي په نزول سره ئې ټول آسماني کتابونه منسوخ سويدي .اود قرانکريم فضيلت او بهتروالی پر نورو کتابونو دومره دی. لکه دالله (ج) فضلت چې پر نورو مخلوقاتو فضيلت او ښه والی لري. داچي دا مقدس کتاب دومره فضيليت لري، نو ددې سپيڅلي کتاب د نزول وخت هم ډير افضل او بهترين وخت سو .چي هغه د رمضان مبارکه مياشت ده، بايد يادونه وکړو. چې الله (ج) يوازې قران شريف په روژه مبارکه کي نه دی نازل کړی. بلکي درې نور اسماني کتابونه لکه:تورات،انجيل،اوزبور هم خدای تعالی(ج) په روژه مبارکه کي نازل کړي دي، اوس ممکن تاسو ته په ذهن کي سوال پيدا سي .چي موږ خو اوريدلي دي، چي قران شريف په درويشت کلونو کې نازل سويدی.اوحال دا چي الله تعالی(ج) په پورته آيت

شریف کې فرمایي: قرآنکریم د روژې په میاشت کې نازل سو.په دې تړاو حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایلي دي.الله (ج) د روژې په مبارکي میاشت کې لومړی ټول قران شریف د لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته په یو ځل را نازل کړ. وروسته د جبرآئیل آمین (علیه السلام) په توسط پر خوږ پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) باندې آیت په آیت په درویشت «۲۳» کلنو کی نازل کړل سو. (تفسیرالقرطبي جـ۲صـ۲۹۷)

اوهمدارنګه د روژې مبارکي د فضیلت په تړاو خوږ پیغمبر «ع » فرمایي:

(من صام رمضان وقامه ایماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه: الحدیث (ترمذي ج۱ ص۸۶)

ترجمه: هغه کس چي د رمضان د مبارکي میاشتي روژه ونیسي او تراویح پکښې وکړي. باعث ئې ایمان اوثواب وي، یعني د ایمان دارئ او ثواب په وجه الله «ج» به ددغه شخص ټوله ګناهونه ور وبخښي.

عن سهل بن سعد عن النبي (ص) قال ان فی الجنة باب یقال له الریان یدخل منه الصائمون یوم القیامة لایدخل منه احدغیرهم یقال این الصائمون فیقومون لایدخل منه احد غیرهم فاذا دخلوا اغلق فلم یدخل منه احد(بخاري جـ۱صـ۲۵۴)

ترجمه: پیغمبر(ع)فرمایي: په جنت کي د ریان (تږو) په نامه یوه دروازه ده . دقیامت په ورځ به په همدې دروازه بغیر دروژه نیوونکو څخه بل څوک جنت ته نه سي داخلیدلای.دقیامت په ورځ به یو اواز وکړل سي ،چي روژه نیوونکي چیري دي ؟

چی په هم دې وخت کي به روژه نیوونکي ټوله ولاړ سي . او د همدې دروازې له لاري به جنت ته داخل سي. بغیر له روژه نیوونکوڅخه بل هیڅوک نسي داخلېدلای.

همداشان په یوبل حدیث شریف کي نبي کریم «ص» فرمایلي دي چي ترجمه ئې داسي ده.. الله ج فرمایي: دانسان هرعمل ده لره دی.بغیر دروژې چي هغه زما لپاره نیول کیږي. نو ځکه خپله الله«ج» مسلمان ته د روژې مبارکي بدله اوثوابونه ورکوي،. بیا پیغمبر«ع»و فرمایل: روژه دانسان لپاره سپر دی. کله چې مو روژه سوه.نو تاسو فسق ،فجور اوخرابي خبري مه کوئ.که چیري تاسو ته یو څوک بنکنځل وکړي یاجنګ در سره کوي. تاسو ورته بنکنځل مه کوئ او مه ورسره جنګ کوئ. بلکي تاسو ورته داسې ووایاست، چي زه روژه نیونکی یم.د روژې په اړه په یو حدیث شریف کي نبي کریم«ص» فرمایي: چي زما دې قسم په هغه ذات سره وي. چي زما نفس یا روح دده په قبضه کي دی. چي د

روژاتي دخولې بوی الله ج ته تر مشکو هم خوښ او محبوب دی .اوهمدارنګه روژاتي لره، دوې خوشحالياني دي.يوه خوشحالي دروژه مات په وخت کي ده .اودوهمه خوشحالي چي کله دالله «ج » ديدار او ملاقات کوي. (بخاری جـ١صـ٢٥٥) نوای انسانه داچي ستا دخولي بوی الله ج ته ترمشکو هم محبوب کيږي.اوتاته دجنت دداخليدو لپاره خاصه دروازه درکوي.ستا ګناهونه بخښل کيږي.نو ته هم بايد د روژې مبارکي مياشتي تعظيم وکړې. دخرابو خبرو خرابو مجالسو اوبې ځايه خبرو څخه اجتناب(پرهيز)وکړې. که چيري ته اجتناب ونه کړي.اود روژې مبارکي مياشتي عزت ونه ساتي .ددې پر ځای چي الله «ج» بخښنه درته وکړي. بلکي د الله ج په مخلوق کي به هغه بد ترين ، فاسدترين او مغضب شخص ونومول سې. اوددې روژې دفضلت په اړه يوبل اوږد حديث شريف راځي چي مضمون ئې داسي دی:سلمان رض فرمايي چي دبرات دماشتي په آخري ورځ يعني دروژې يوه ورځ مخکي به نبي ع موږته خطبه ويل او په دې خطبه کي به يې موږ ته داسي وفرمايل.ای خلګو پر تاسو داسي عظيمه مبارکه مياشت راغله چي په دې مياشت کي يوه شپه ده چي ددي شپې عبادت دزرو ١٠٠٠مياشتو ترعبادت بهتره دی اوددې مياشتي روژې الله ج پرتاسو فرض ګرځولي ده. اوتراويح يې سنت ګرځولي دي.اوڅوک چي په دې مياشت کي الله ج ته په يوه نفلي عمل ځان نزدې کړي،يعني يو مستحب عمل وکړي. ددې دومره ثواب دی لکه څوک چي بيله روژې يوفرض عمل وکړي.اوڅوک چي په دې روژه کي يو فرضي عمل وکړي.دا دومره دی لکه څوک چي بيله روژې اويا ځله هغه فرضي عمل وکړي.او دا دصبر مياشت ده او دصبر بدله اوثواب جنت دی او دا مياشت دغمخواری(کوښښ) مياشت ده اودا درزق دپراخی مياشت ده اوڅوک چی يو روژاتي ته په دې مياشت کي رو ژمات ورکړي دده دګناهونو دبخښلو زريعه به وګرځی.

او الله ج به يې داور څخه دجهنم ازاد کړي.اودغه روژمات ورکونکي ته به الله ج دروژې نيونکي غوندي ثواب ورکړي. او درو ژه نيونکي دثواب څخه هم څه نه کميږي.کله چي اصحابو کرامو دا واوريدل نودوی داسي وفرمايل چي اې دالله ج رسوله موږ خو ټول دروژمات ورکولو توان نه لرو.نبي ع ورته وفرمايل چي دغه ټول ثواب الله هغه چاته هم ورکوي چي روژاتي ته صرف يوه خورما يا يو غوړف اوبه ياشيدې ورکړي.بيا نبي ع ددې مياشتي په فضلت کي وفرمايل.

داهغه مياشت ده چي اولي ١٠ ورځي يې درحمت دي.

پردغه روژاتي الله «ج» رحمت کوي. اومنځنی لس ورځي يي دمغفرت دي

الله «ج» دې انسان ته بخښنه دګناهونو کوي.او آخيري لس ورځې يې دجهنم څخه دازا ديدو دي الله «ج» خپل بندګان ددوږخ څخه ازاده وي،اوڅوک چې په دې مياشت کي پر مريانو تخفيف راولي يعني لږ کار په وکړی.چی مزدوران هم پکښني شامل دي. نوالله «ج» به دغه انسان ددوږخ څخه ازاد کړي.
اوبيا نبي ع وفرمايل چي تاسو په دې مياشت کي څلور خصلتونه(خويونه) په خپل ځان کي زيات اوعملي کړی. چي دوه هغه خويونه دي چي تاسو ورڅخه چاره نه لرئ. اودوه هغه خويونه دي چي تاسو خپل رب الله «ج» په راضي کوئ.هغه دوه خويونه چي تاسو الله ج په راضي کوئ.
هغه يو لَااِلٰهَ اِلَّاالله ويل دي دوهم استغفار ويل دي.اوهغه دوه وخويونه چي تاسو ورڅخه چاره نه لرئ.هغه يو داچي تاسو دالله «ج» څخه دجنت غوښتنه کوئ.اودوهم ددوږخ څخه پنا غواړئ.
اوهغه څوک چي روژاتي ته اوبه ورکړي.الله «ج» به ده لره زما دحوض کوثرڅخه اوبه ورکړي. داسي اوبه چي بيابه هيڅ تږئ نه سي.ترڅوچي جنت ته داخليږي. (مشکوة جـ۱صـ۱۹۰)
په بل حديث شريف کي راځي.
(قال رسوالله ص اذا ادخل رمضان فتحت ابواب السماء وغلقت ابواب الجهنم وسلسلة الشياطين(بخاري جـ۱صـ۲۵۵)
ترجمه:هرکله چي دروژې مياشت داخله سي ، نو داسمان دروازې خلاصي او دجهنم دروازې بندي سي او سرکښنه شيطانان وتړل سي.
نبی «ع» فرمايي:. په روژه مبارکه کي زما امت ته پينځه خصلتونه(خويونه) ورکړسوي دي.چي تر دې وړاندې نورو امتونو ته نه وه ورکړل سوي.
لومړی:- داچي دروژاتي دخولې بوی الله «ج » ته د مشکو تربوی هم خوښ وي.
دوهم:- د روژياتي انسان لپاره کبان(ماهيان) په دريابونو کي د الله«ج» څخه دبخښني غوښتنه کوي. ترهغو پوري چي روژه ماتوي.
دريم :- الله «ج » هره ورځ جنت ښکلی(ښايسته) کوي. اوداسي ورته وايي.چي ډير ژربه زما د نيکو اوصالحينو بندګان څخه تکليفونه ليري کړم.اوډير ژر به تاته راسي.
نبي اکرم«ص» وفرمايل : په روژه مبارکه کي الله «ج » سرکښنه شيطانان تړي. چي مخکي تر دې روژې دوئ ته ورايله وه.

او د روژې په وروستۍ شپه الله «ج» خپلو ټولوروژاتي بندګانو ته بخښنه کوي.صحابه کرامو پوښتنه وکړه.چې یا رسول الله«ص» آیا دا د لیلة القدر شپه ده.؟

نبي اکرم «ص» په ځواب کې ورته وفرمایل: چي دا د لیلة القدر شپه نه ده .بلکې هر کارګر(مزدور) چي خپل ورسپارل سوی کار تکمیل(پوره) کړي. مزدوري ورکول کیږي.(رواه احمد فضائل رمضان جـ١ صـ١٨)

په بل حدیث شریف کي پیغمبر «ع» فرمایي. (صوموا تصحوا)روژې نیسئ تاسوبه صحت پیداکړی، نو معلومه خبره سوه چي په دې میاشت کي الله قران شریف نازل کړی دی.الله «ج» انسان ته دنفلو ثواب دفرضو ورکوي.دفرضو ثواب یو په ٧٠ ورکوي. الله «ج» هر ورځ جنت روژاتي شخص ته ښایسته کوي.ددې انسان دخولې بوی الله «ج» تر مشکو هم خوښ وي. دټولو ګناهونو بخښنه ورته کوي. ماهیان په دریابوکي دده لپاره بخښنه غواړي.جنت ته یې پر خاصه دروازه داخلوي چي دریان په نامه سره ده. ددې هرڅه سره سره دانسان دصحت لپاره هم داروژه مفیده اوګټوره ده.

(د روژې په اړه دپنځوقبرو حکایت(قصه)

کتابونو کي راځي ، چي یو ګناه کاره شخص دخپل وخت یو بزرګ اوفقیه عالم عبدالملک بن مروان ته راغی. پوښتنه کوي. چي ای دالله «ج» دوسته له ما څخه ډیره غټه ګناه سوې ده.اوس له تا څخه سوال کوم ، چې آیازما له پاره توبه سته او که نه؟

عبدالملک بن مروان په ځواب کي ورته وایي: چي ای د الله«ج» بنده! ستاسو ګناه لویه(غټه) ده ، که دالله تعالی «ج» لوح اوقلم ؟.

ګناهکاره شخص ورته وایي: زما ګناه دالله «ج» د لوح اوقلم څخه غټه ده. بیا عبدالملک بن مروان ورته وویله : ستا ګناه غټه ده که دالله«ج»مځکي او اسمانونه .؟

ګناهکار شخص ورته وویله : چي زما ګناه تر ځمکو او اسمانونو هم غټه ده. عبدالملک بیا پوښتنه ورڅخه کوي.چي دالله «ج» عرش او کرسي غټه ده ،که ستا ګناه ؟ ګناهکاره شخص ورته وایي: زما ګناه ترعرش اوتر کرسي هم غټه ده.عبدالملک بیا ورته وایي. ستا ګناه غټه ده ، که دالله« ج» رحمت غټ دی؟ ددې خبرې په اورېدو سره ګناهکاره شخص چوپ سو . اودا یې ونه سوای ویلای، چي دالله «ج» تر رحمت هم زما ګناه غټه ده.ځکه دالله «ج » رحمتونه بې نهایته دي.نوعبدالملک بن مروان بیا پوښتنه ورڅخه وکړه.

اې ځوانه ستا ګناه څه ده؟ ته باید ضرور دغه ګناه ماته وښيې . ګناهکار شخص ورته وايي: چي نه زه دخپلي ګناه په ويلو سره شرميږم.
عبدالملک ګناهکاره شخص ته وويل: بيشکه چې ته اوس ببرېږې.خو ته باید حتمی ماته ستا کړې ګناه ووايې. ترڅو زه ستا لپاره د آسانتيا يوه لاره پيدا کړم.نوګناهکار هم مجبور سو او خپله ګناه يی ورته وويله. او ورته وايي: چې زه مخکي نباش(کفن کښ) وم ، کله به چې يو مړی ښخ سو. زه به دشپې ورغلم هغه کفنونه به مي ورڅخه يووړل. ځکه په هغه وخت کې هغه لويه غلا دتوکر وه.دغه شخص وايي، چې کله ما پينځه قبرونه دکفن لپاره لڅ کړه. دهغو پنځو قبرونو د حالت په ليدو سره زه پر توبه باندي باعث کړه سوم. کله چې ما اول قبر وکيندئ. نو په قبر کې د مړي مخ د قيبلې شريفي څخه ګرځېدلی وو. په ډيره بيره سره د کيندل سوي قبره څخه راوګرځيدلم.د قبر څخه د راګرځېدو په وخت کي دالله «ج » له لوري يو اواز راته وکړل سو.چي اې ظالمه ته ولي ددې مړي دحال پوښتنه نه کوې؟
چي ولي يې مخ دقبلې څخه اوښتی دی.ما پوښتنه وکړه: ته څوک يې.؟
زه خوددې حال دليدلو او پوښتلو جرآئت اوتوان نه لرم.نو دالله «ج» له لوري راته وويل سوه. چي دا شخص شراب خوره او زناکاره وو.عبدالمالک بن مروان ته همدغه ګناهکار شخص وايي. چي کله ما دوهم قبر لڅ کړ،نو په دې قبر کي مي يومړی وليد. چي مخ يي دخينزيرګرځېدلی وو،اود دوږخ په زولنو اوځنځيرانو تړل سوی ؤ.
د دغه مړي د کتلو په مهال بيا يو آواز راته وسو. چي ای فاسقه ته بيا ولي ددغه مړي د حال او احوالو پوښتنه نه کوې.؟ ګناهکاروايې:ما په جواب کې ورته وويل: چي زه ددغه حالت دپوښتولو توان نه لرم.نو بيا دالله له لوري راته وويل سول.چي داهغه شخص وو. چي د درواغو قسمونه به يې اخيستل اوحرام يې خوړل.سبحان الله ورونو د ناحقه قسمونو اخيستلو اود حرام خوړلو يوازينی د قبر دومره عذاب دی. چي مخ به يې د خنزير وي اود دوږخ په ځنځيرونو به تړل سوی وي.
په حديث شريف کي پيغمبر«ع» هم فرمايي:.که چيرې يو انسان يو ذره حرام وخوري. نو څلويښت«۴۰»ورځی به د دغه انسان نه فرضي اونه هم نفلي عبادت قبليږي.په هر صورت چې بحث ډير اوږد نسي.نوخپلي اصلي موضوع ته راځو.همدارنګه ګناهکار شخص ورته وايي. چي کله ما دريېم «۳ » قبر وکيندئ.نو په قبرکي يو مړی وو چي د اور په مېخونو سره په مځکه تړل سوی

ؤ.او ژبه ئې ترڅټ را وتلې وه.او پرهمدغه حالت کې نورعذابونه هم ورکول کېده.نو زه بيا په ډېره بېره سره د هماغه قبرڅخه را وګرځيدم. د را ګرځېدو په وخت کې دالله «ج »له لوري بيا يو آواز راته وسو. چي اى فاجره! ته بيا ولي ددې مړي د احوالو پوښتنه نه کوي. چي په څه سبب په همدې عذاب آخته دى؟.بيا ما ورته ويل چي زه ددې دپوښتنو طاقت نه لرم. نو دالله «ج» له طرفه راته وويل سوه.چي دا شخص فساد جوړونکى ،غيبت کوونکى اوچوغلګر(شيطانت) کونکى شخص وو.استغفرالله ورونو! دا ګناهونه نن سبا په موږ اوتاسو اوزموږ اوستاسو په ټولنه کي څومره زيات سوي دي. چي هرځاى غيبت شروع وي.چوغلګري اوشيطانت کيږي. همدارنګه د فسق ، فساد ، دورقو اوسروزو مجلسونه جوړيږي او زمينه ورته مساعدوو. . لوى څښتن تعالى «ج» دې مو د دغسي حاله وساتي.په هر لحاظ بيرته خپلي قيصې ته راګرځو.ګناهکار وايي: کله چي ما څلورم«۴» قبر وکيندئ. نو په قبر کي يو مړى ؤ. چي بدن يې اور اخيستى ؤ. او پردغه حال سره سره ملائکي ورته ولاړي وې.ددوږخ په ګرزو اوسوټکانو سره يې وهى.نوبيا هم زه په ډيره بېره د هغه قبر څخه راوګرځېدلم.نو پدې وخت کې بيا راته وويل سوه. چي اى بدبخته! ته ولي ددې مړي دحال پوښتنه نه کوې. ما ورته وويله: چي زه ددې حال دپښتولو طاقت نه لرم. نو دالله «ج »له لخوا راته وويل سوه. چي داهغه شخص ؤ. چي دلمنځونو اوروژو سره يې بې باکي کوله .د فاني دنيا څخه مخکي ترتوبې ايستلو اوبي له ايمانه ووتى.ورونو تاسو څه فکر وکړئ.دلمانځه اوروژې سره د بېباکي کولونتيجه دا سوه، چي په قبر کي به يې بدن اور اخستې وي.او همداشان په يو بل حديث شريف کي راځي.کوم څوک چې په لمانځه کي سمه رکوع اوسجده نه کوي. دمحشر په ورځ به يې په شاه پسي د دوږخ صندوقونه موښتي وي. عبدالمالک بن مروان ته راغلى ګناهکار قيصه کوي. ماچي کله پينځم«۵» قبر وکيندئ. نو داقبر دومره فراخه ؤ. چي زه يې فراخي نه سم بيانولاى. ددې علاوه په قبرکي يوتخت(پلنګ) پروت ؤ. پر تخت باندي يو ځوان ناست ؤ.مخ ته يې خادمان اوحوري ګرځېدې.زه بياهم ددغه قبره څخه د نورو قبرو په څېر په ډېره بېره سره راوګرځيدم.پدې حالت کې بيا يو اواز راته وسو، چي اې بدبخته! ته ولي ددې ځوان دحال پوښتنه نه کوې. چي په څه سبب او علت باندې داکس په همداسي استراحت کي دى.نوما وويل چي زه ددې حال دپوښتولو طاقت هم نه لرم.بيا راته وويل سوه ، چي دا هغه ځوان ؤ. چي په

ځواني کي يې دنصوح توبه ويستلې وه ، په ښه طريقه سره يې لمنځونه کول ،ښې روژې يې نيولې. د روژې اولمانځه ادب يې ساته.
نو مسلمانو وروڼو! ددې قيصې پر مبناء نبی اکرم « ع »په حديث شريف کي فرمايي:(التائب من الذنب کمن لاذنب له) توبه کښونکی د ګناه څخه داسي دی، لکه ګناه چي کړې نه وي.اود ځوانۍ عبادت داسي دی، لکه سره زر
خو افسوس چي زموږ اوستاسو دټولني يو شمير ځوانان په خواهش پرستۍ پسي وي، قسم قسم ګناهونه اوناروا اعمال کوي.دلمنځونو او روژو سره بې باکي کوي، يا خو يې هيڅ نه کوي. او که يې کوي. همداسي لکه چرګ چي دانه ټولوي.اوحال داچي په حديث شريف کي راځي.چي پېغمبر«ع» درې ځله دا کلمه وويله .دا د منافق سړي لمونځ دي، چي دا ډول لمونځ کوي. زموږ اوستاسو روژې پر څه حال دي.صرف خوله يې دخوراک اوڅيښاک څخه بنده کړې وي.
نور چي هرڅه پر خوله ورسي هغه وايي. اوهرڅه چي په لاس ورځي هغه کوي.ورځ ټوله په خوب تېره کړي.دشپې پر ناروا مجلسونو لکه: ورقي کول سروز اورېدلو تېره کړي.پداسې حال کې چي روژه مبارکه مياشت دکوښښ اوعبادت کولو مياشت ده.خو افسوس پر موږ اوتاسو په غفلت تېره سي.
په وروستۍ کې عبدالمالک بن مروان ته راغلی ځوان وايي :چي زه د قبرونو ددغه پينځه حالتونو په ليدولو سره پرتوبه باعث کړل سوم.نو ممکن عبدالملک ورته وويلي وي. چي ای ځوانه! ستا لپاره توبه سته ، الله «ج » ته د نصوح تو به وباسه.

(دتراويحو تعريف اواثبات)

تراويح جمع دترويحة ده. ترويحة په لغت کي واستراحة يعني ديومشقت ليري کېدو ته وايي.زموږ اوستاسو په عادي اصطلاح هوساه کېدلوته وايي.ځکه چي استراحة په اصل کي مطلق ناستي ته وايي. بيا هغه ناستي ته وويل سوه. کوم چي د تراويحو په منځ کي کيږي.وروسته ترهغه هر څلور رکعته تراويحوته يوه ترويحه مجازً وويل سوه.
اودغه لمانځه ته چي تراويح ويل سويدي. په دې سبب چي په دې کي به اصحابو کرامو ولاړه اوږده وله. اوترهري تراويحې يعني د هرو څلورو رکعاتو وروسته به داستراحة لپاره کښېنستل. اوپه اصطلاح کي تراويح د رمضان د مبارکي د مياشتي شپې په دوه دوه رکعته سره قائمولو ته وايی.
(الموسوعة الفقهية الكويتية جـ٢٧صـ١٣٥)

د تراويحو حكم:- تراويح دفقهاو په اتفاق سره سنت مؤكد دي.كه نر وي او كه ښځه .ځكه همدغه تراويح د دين دشعائرو څخه يوشعاردی ، او پېغمبر«ع» خپله سنت بللي دي.اوتراويحو ته يې دخلګو رغبت کړی دی.
پېغمبر«ع »فرمايي:
(ان الله فرض صيام رمضان عليكم وسننت لكم قيامه)
ترجمه:بېشكه الله ج درمضان د مياشتي روژه پرتاسو فرض كړېده .اوما تراويح درباندي سنت كړي دي.همدارنګه پېغمبر«ع »پخپله اصحابو كراموته تراويح وركړي دي.خوهمېشتوب يې ځكه ورباندي نه وكړ . ځكه ده مبارک يې دنه همېشتوب علت هم دا ووايه چي زه ډارېږم(بېرېږم). چي زما پر امت فرض نه سي. لكه بي بي عائشه «رض» چي يو حديث روايت كوي. چي پېغمبر«ع » به په مسجد نبوي كي تراويح وكړې. خلګو هم تراويح پسي وكړې. پېغمبر«ع» دوهمه شپه بيا تراويح وركړې.او خلګ هم ښه ډېر وه. درېيمه شپه بيا ډيرخلک په نبوي مسجد كي راجمع سوي وه . او پېغمبر«ع» ته يې انتظار كوئ.خوپېغمبر«ع» په درېيمه شپه دحجرې څخه ورته نه راووت، كله چي سهارسو،نو پېغمبر«ع» اصحابو كراموته وويل: ماهغه څه وليدل ،چي تاسو كول يعني ستاسو انتظار او راتګ ما تېره شپه وليد. زه ستاسو د ګمان خلاف هيڅا د حجرې د راوتلو څخه نه يم منع كړی.مګر زه پردې ډارېدلم چي پرتاسوبه تراويح فرض سي.(الحديث)
اوهمدارنګه خلفاء راشيدينو (رضوان الله عليهم اجمعين) هم هميشه توب پركړيدی .او د حضرت عمر(رض)د زماني څخه مسلمانانوهم دتروايحو په جماعت اداكولو سره همېشه توب كړيدی.ځكه بخاري شريف كي يو اثر راځي هغه داچي عبدالرحمن بن عبدالقارئ رض داسي فرمايي: چي زه دحضرت عمر رض سره دروژې مباركي دمياشتي په يوه شپه مسجد ته راووتلم ،چي كله مو وكتل په مسجد كي خلګ متفرق متفرق سره ولاړ دي .يونفر جلا خپل ځان ته لمونځ(تراويح)كوي. اوبل نفر جلا ولاړ دي. يوه ډله ورپسي لمونځ كوي.نوچي كله حضرت عمر رض داحال وليدی. نويي وويل :چي زه دا رأيه لرم چي ټوله سره پر يوه قاري را ټول كړم، دابه ښه وي.نو ځكه يی دا قصد وكړ. چي پر ابی بن كعب رض يې ټوله سره راجمع كړل.عبدالرحمن بن عبدالقاري رض فرمايي: كله چې زه بله شپه بيا ورسره راووتم.اوخلګو ټولو په ابی بن كعب رض پسي اقتداء كړېوه.نوحضرت عمر رض وفرمايل (نعم البدعة هذه) ډير ښه دئ دغه نوی كار.اوهغه څه چي تاسو ويده كېدلاست دابنه دی. ترهغه چي تاسو

يې قائموئ.د حضرت عمر «رض» ددې قول څخه اراده دشپې آخيري
وه.نوځکه خلک به دشپې په اول حصه کي ويدېدل.(بخاري جـ١صـ٢۶٩)

(دتراويحو فضيلت اواحکام)

مخکي تردې چي دروژې مسائل وڅېړو. لومړی دتراويحو په اړه دالله «ج »په توفيق او اراده مختصره رڼا اچوو.ځکه چي تراويح دروژې مبارکي د ورځي يوه شپه مخکي اداء کيږي.

د تراويحو فضيلت:- نبي «ع» په يوحديث شريف کي فرمايي: دا حديث تردې مخکي هم وړاندې سوی ؤ. (من صام رمضان وقامه ايماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه: الحديث (ترمذي ج١ ص٨۶)

ترجمه: هغه کس چي د رمضان د مبارکي مياشتي روژه ونيسي او تراويح پکښې وکړي. باعث ئې ايمان اوثواب وي، يعني د ايمان داری او ثواب په وجه الله «ج» به ددغه شخص ټوله ګناهونه ور وبخښي.

او د وعظ په يو شمير کتابونو کي راځي .که چيري يومسلمان انسان شل رکعاته سنت مؤکده تراويح وکړي.نو الله «ج» به اووه«٧» نعمتونه اواحسانونه پردغه انسان وکړي.

١:لومړی:- داچي الله« ج »به د دغه انسان بدن دهرقسم ناروغی څخه وساتي هغه لکه ابلوج،سرطان،پيس،ليونتوب، دزړه ناروغي،دبدن درد،دسر درد،اوداسي نور....

٢:دوهم:- داچي په هرګړي کې به دوه سوه اتيا«٢٨٠» ملائکي دده ساتنه کوي.

٣:دريېم :- الله «ج »به يې رزق ډير کړي.

۴څلورم :- الله ج به پرروژه نيوونکي باندي هغه دځنکندن تکليفونه آسانه کړي.

۵پنځم :- الله ج به يې آخيره خاتمه پرايمان او پر(لَااِلَٰهَ اِلَاالله مُحَمَّدُرَّسُولُ الله)کړي.

۶:شپږم:- الله ج به يې دقبر دعذاب څخه وساتي.

٧:اووم:- الله ج به يې په حساب يسير سره جنت ته داخل کړي.

لنډه توصيه:- ای مسلمانه وروره! داچي موږ اوتاسو ټوله کال په نفسي خواهيشاتواو ګناهونو کي تېروو. شپې په ناروا مجالسوکي را باندې تيري سي. نو پر موږ او تاسو د الله «ج» بنده ګانو لازمه ده .چې د روژې په مبارکه مياشت کي آخرت ته يو څه توښه برابره کړو، قسم په الله داسي يو منزل موپه مخکي دی. چي نه واسطه او شناخت پکښي کيږي ، نه زاری اونه هم عذر قبليږي. موږ اوتاسوته الله«ج» نن داسي يو موقع په لاس راکړې ده ،چې بايد

ورڅخه مثمره استفاده وکړو.داچې د تراویحو دومره لوړه درجه ده .چې د یو انسان ګناهونه په رژیږي. نوباید دلټې ، ټمبلي ، زیات خوراک ، چیښاک مزخرفو باندارونوپه سبب تراویح پرېنږدو.یو شمیر مسلمانان خوتراویح په دې نیت کوي،چې خوراک او څښاک هضم کړي.او صحتمند سي..نو په دې نیت سره د تراویحو کول هیڅ ثواب نه لري.څکه پیغمبر«ع »په حدیث شریف کي داسي قید فرمايي : هغه تراویح چې باعث یې ایمان اوثواب وي. او هغه څوک چي یې د خوراک ، څیښاک او ورزش په نیت کوي. هغه لره هیڅ ثواب نسته.

(د تراویحو د رکعتونو شمېر)

جمهور فقهاء کرام ، داحنافو، شوافعو، حنابله و، اویو شمېر مالیکیه و دترایحو عدد شل « ۲۰ »رکعته ښودلی دی.څکه امام مالک «رح »د یزید بن رومان «رض» څخه او بیهقي د سائب بن یزید «رض» څخه روایت کوي.چې دحضرت عمر رض په زمانه کي خلګوشل « ۲۰ »رکعته تراویح کولې. حضرت عمر «رض» د تراویحو د رکعتونو پر شمېر باندې یوه لویه ډله اصحاب کرام په استمرا سره راټول کړه. نوڅکه کاساني« رح »فرمایي: چي کله حضرت عمر «رض» داسي یوغټه ډله د پیغمبر «ع »داصحاب کراموپرشل رکعته پرابی بن کعب رض راجمع کړه.اوهیڅ کس پرحضرت عمر «رض » باندې انکار هم ونه کړ.نو دا اجماع سوه.نو دتراویحو درکعتونو شمېر په اجماع سره دصحابه کرامو ثابت دی. (المسوعة الفقهیة الکویتیة جـ۲۷ص۱۴۱) **اوهیڅ چا هم پر همدغه شمېرانکار نه دی کړی.بغیر د یوڅو نام نیهاده جعلي اهل حدیثو لامذهبه سلفیانو چي هغوی تراویح اته«۸ » رکعته کوي. اوحال داچي دا ددوی خپل حماقت دی.چي دوخت امیرالمومنین د پیغمبر«ع »دوهم خوږ یار چي پردې دنیا دجنت زیری پر سوی دی.هغه شل۲۰رکعته یی بللي دي. خو یو شمېر دوی غوندي ناپوهان یې اته«۸» رکعته بولي. اودعامو مسلمانو ددوکې اوپریب لپاره یو حدیث هم داتو«۸» رکعتو داثبات لپاره بیانوي.**

او حال دا کوم حدیث چي د اتو«۸» رکعتونو په دلیل کي وړاندې کوي. چي وای پیغمبر«ع » یوولس«۱۱» رکعته کړي دي. درې«۳» رکعته وتر او اته«۸» رکعته تراویح.دا ناپوهان اصلآ پوه سوي نه دي. خوافسوس چي څانونو ته مجتهدین هم وایي، هغه حدیث دقیام الیل (تهجد) په اړه راغلی. څکه دهغه حدیث په الفاظو کي په بخاري شریف کي په صراحت سره داسي الفاظ شتون لري. چي د پیغمبر«ع »دشپې لخوا لمونځ په روژه او هم بغیر له روژې« ۱۱ »یوولس

رکعته ؤ. نوددې الفاظو څخه دامعلومه سوه چي دا شمېر دتهجد دلمانځه دی. که چيري هغه د تراويحو شمېر سي، لکه دوی چي يی استدلال کوي . نو تراوېح کله بغير دروژې کيږي؟ حال داچي دوی وايي چي موږ پر بخاري شريف ايمان لرو. که چيري دوی دياد حديث الفاظ نه مني داڅنګه ايمان سو؟ نوپه دې کړنه به موږ همدومره ورته ووايو(أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الكِتَابِ وَتَكفُرُونَ بِبَعْض) په دې اړه زموږ دلائل بې شمېره دي.رانقل کول يی دلته امکان ځکه نلري، چې د کتاب زيات شمېر صفحات به ونيسي.(والسلام علی من اتبع الهدی)

(دتراويحو اود نيت کولو طريقه)

دتراويح کولوطريقه خو انشاءالله معروفه اومشهوره ده. چي کله يې دماخوستن څلور رکعاته فرض اداکړل.سم دستي دې دوه رکعته سنت اداکړي. چي کله يې سنت اداکړه وتر دې نه کوي. وروسته دي شل رکعته په دوه دوه رکعته نيت ترلو سره اداء کړي. چي کله يې دوه رکعاته وکړه بيا دې دوه رکعته نور وکړي.چي څلور رکعاته سي.چي يوه ترويحه هم ورته ويل کيږي چي کله يي دغه څلور رکعاته ادا کړل، نودې داستراحت لپاره کښيني.په دغه ناسته کي ورته اختيار سته، که پټه خوله کښېني ، تلاوت ، ذکر ،تسبيح او يا تهليل وايی.او تر چوپتيا (پټه خولوالۍ) ذکرشريف او يا تلاوت کول مستحب دي. ناسته به ديوې ترويحې يعني دڅلورو رکعتونو په اندازه وي.البته که چيري دخلکو په دې ناسته کي کوتاهي خوښه وه. بيا دي لږه اندازه کښيني.نوچي کله يې دغه يوه ترويحه يعني څلور رکعته اداکړه. بيا دې ولاړ سي. پاته څلور رکعته دې اداءکړي. بيا دې کښيني. ترڅوچي پينځه ترويحې يعني شل رکعته پوره کيږي.وروسته ترهغه دې بيا وتر اداءکړي.

«دتراويح نيت»

شوافع اوبعضي احناف همدارنګه حنابله و دې ته تګ کړيدی. چي دتراويحو لپاره د نيت تعين شرط دی. په مطلق نيت سره د لمانځه يې اکتفاء نه کيږي.بلکي ضرور به په نيت کي داسي وايي: چي دوه رکعته سنت تراويح کوم.ځکه پېغمبرع هم فرمايي:(انما الاعمال بالنيات) اعمال په نيتو پوري اړه لري او داتعين به په دې وجه کوي. چي دغه تحريمه دبلي تحريمې څخه جلا سي.او احناف علماء دنيت د تعيين لپاره دا دليل وايي. چي تراويح سنت دي.اوسنت په مطلق نيت سره نه اداکيږي.

اوس په دې کي اختلاف دی،چي آيا د هرو دوو رکعتونو لپاره به جلا جلا نيت کوي او که د ټولو شلو رکعتونو لپاره يونيت هم کافي دی.نوپه دې اړه علامه

ابن عابدين الشامي «رح» په خلاصه كتاب كي فرمايي: چي دهرو دوو ركعتو لپاره به جلا جلا نيت كوي.ځكه چي هر دوه ركعته بېل لمونځ دی.خوپه خانية كتاب كي يی ليكلي دي، صحيح خبره داده. چي دهرو دوو ركعتو لپاره نيت ضروري نه دی.د تراويحو دشلو ركعتونو نيت په يوه ځل هم كولای سي. ځكه ټول يولمونځ دی. خود احتياط قول به هم اول قول وي. ځكه چي په سلام ګرځولو سره تراويح كونكی شخص حقيقتاً دلمانځه څخه وځي.نو د نيت په داخلېدو سره هيڅ چاره نسته. نيت به كوي، او همدغه اول قول غوره كول بهتره دي. چي مسئله د اختلاف څخه ووزي.په تراويحو كې د بعضو احنافو په نزد تعين دنيت شرط ؤ. اما د احنافو عام مشائخ داسي فرمايي: چي تراويح اونور سنت ټوله په مطلق نيت سره هم اداء كېدلای سي.

لاكن كه سنت دي. خو بيا هم د نفلوڅخه وتلي نه دي.اونفل خو په مطلق نيت سره هم اداء كيږي.

يادونه:خلاصه خبره داده، چي عام احناف علماء داسي فرمايي: چي تراويح په مطلق نيت سره هم ادا كېدلای سي.اودشلو ركعاتو نيت په اول سر كي هم كولای سي.خويو شمېر احناف بيا فرمايي: چي هم به د نيت تعيين كوي.اوهم به دهرو دوو ركعتونو جلا جلا نيت كوي. هغه داسي چي(نيت مي دی دزړه د اخلاصه لمونځ كوم دوه ركعته سنت تراويح په دې حاضروخت دماخوستن خاص خدايه تالره مخ مي دی . طرف ته دكعبې شريفي الله اكبر) اوكه يې په امام پسي تراويح كولې بيا به داسي الفاظ هم ضرور ورسره وايي(اقتداء مي ده په دې حاضر امام پسي) اودغه دوهم قول چي هم تعين دنيت اوهم دهرو دوو ركعاتو لپاره جلا جلا نيت وسي. دا به بهتره اوښه وي .ځكه چي داهم اختلافي مسئله ده.(المسوعة الفقهية الكويتية جـ٢٧ص١٤٠)

(په تراويحو كي د قرآئت اندازه)

حنابله اواكثره احناف علماء كرام يعني زموږ اوستاسو دمذهب حنفي علماء فرمايي: چي په تراويحو كي مكمل قران شريف ختمول سنت دي.ترڅو له يوه اړخه مقتديان مكمل قران شريف په تراويحو كي واوري.خو احناف يی دومره فرق فرمايي: چي يوځل ختم پكښي سنت دی.

نوامام به يې د مقتديانو دتمبلی په سبب نه پرېږدي. په تراويحو كې د قران كريم د ختم مستحبه طريقه داده ،چي د اووه ويشتم« ٢٧ » په شپه بايد ختم سي.ممكن د شب قدر شپه پيدا كړي. كه چيرې يې د اووه ويشتم ترشپې مخكې

تراويح ختم كړې. تراويح دې نه پرېږدي.اوهرڅومره او هر څه تلاوت چي
پکښې کوي.هغه دې پکښې تلاوت كړي.
اوكه چيرې د مكمل قران شريف ختم نه كوي.نو په هر ركعت كي دې لس«١٠»
لس«١٠» آيتونه تلاوت كړي.چي په دې سره هم دقران شريف ختم حاصلېږي.
ځكه چي دټولي مياشتي تراويح شپږسوه« ٦٠٠ » يا پنځه سوه اتيا« ٥٨٠ »
ركعته كيږي.نوشپږ سوه لسګونه شپږزره «٦٠٠٠ » كيږي. دقرآن شريف
آيتونه هم څه باندې شپږ زره «٦٠٠٠ » كيږي. حتى يو بل قول داسي هم
راځي. چي دپورته قول مخالف قول دى. هغه دا چي تر ټولو ښه خبره داده، چي
دومره اندازه قرائت په هر ركعت كي وايي.لكه دماښام د لمانځه ده.
ځكه چي د نوافلو بناء پر تخفيف ده .په خاصه توګه چي په جماعت سره وي.
اوهغه قول چي بايد ٣٠ دېرش آياته په هر ركعات كي وويل سي.ځكه چي
حضرت عمر(رض) امر په دې سره كړی دی.ترڅو په ټولو تراويحو كي درې
ځله ختم وسي.ولي چي دروژې دمياشتي هري لس ورځي دفضيلت دي لكه
څرنګه چي حديث شريف كي هم راځي
چي اولي لس ورځي يې درحمت دي دوهمي لس ورځي يې دمغفرت دي او
آخيري لس ورځي يې ددوږخ څخه دخلاصون دي.
ددې قول په جواب كي امام الكساكي (رح) داسي فرمايي: چي حضرت عمر
«رض» د تراويحو په ټراو پورته ذكر سوی امر دفضيلت په وجه كړيدی. چي
بايد تر يوځلي زيات ختم وسي.دا امر په هماغه زمانه كي د تطبيق وړ ؤ. اما په
اوسنۍ زمانه كي ښه خبره داده ، چي امام په تراويحو كې دومره قرائت تلاوت
كړي. ترڅو خلګ د جماعت څخه متنفره نه سي.ځكه چې تر اوږد تلاوت
دجماعت ډېروالی غوره دی. (الموسوعة الفقهية الكويتية جـ٢٧صـ١٤٨)

(چي كله دمقتدي څخه تراويح تيري سوي وي)

سوال:كه چيري يو مقتدي مسجد ته داخل سي ،امام څو ركعته تراويح تيري كړي
وي ، امام چې كله لمونځ پوره كړ، همدغه مقتدي چې تراويح ځينې تيري
سويدي.دغه تيری سوی تراويح به څه ډول راګرځوي؟
والجواب بعون الله تعالى:كومي تراويح چي امام دمقتدي څخه تيري كړي وي.
اوس چي كله مقتدی دتيرو سوو تراويحو قضاء راګرځوي په دې كي دعلماء
كرامو ډير اقوال دي.يو شمير فرمايي : دكومو څلورو ركعتونو په منځ كي چي
امام ناسته كوي ،دهمدغي ناستي په وخت كي دې دوه دوه ركعته راوګرځوي.خو

د آسانتیا طریقه هم داده. لکه څرنګه چي زموږ اوستاسو دحنفي مذهب فقهاء کرام فرمايي: کله چې امام وترو کولوته ولاړ سي. نو دغه شخص دې خپل وتر دامام سره وکړي، وروسته دې دتیرو سوو تراویحو قضاء راوګرځوي.
(الدرمختار ورد مختارجـ۱صـ۴۷۳ بحواله الموسوعة الفقهية الكويتية جـ۲۷صـ۱۴۸)

(روژه نیول پر چا فرض دي ،چاته یی خوړل روا دي، اوچاته یی نیول منع دي؟)

د روژې د وجوب یا فرضیت لپاره څلور شرطونه دي.که چیري دغه شرطونه په چاکښي وي، روژه پرفرض ده اوکه داشرطونه پکښې نه وه بیا پر فرض نه ده.
لومړی:- اسلام
دوهم:- عقل دی.
دریيم:- بلوغ
څلورم:- دروژې پر فرضیت علم دی..
همدغه آخرنی شرط د هغه کس لپاره دئ چي په دارالحرب(دکفاروپه وطن) کي یې ایمان راوړی وي.
اود وجوب د اداء شرطونه یې هم څلور دي.
۱:- صحت(جوړوالئ) دی،۲:- دحیض نشتون(نېستیوالئ) دی،
۳:- دنفاس نشتون(نېستیوالئ) دی،۴:- اقامت دی.یعني مسافر به نه وي.
دصحت د اداء لپاره یې درې شرطونه دي.۱:- د روژې نیت کول دي.۲:- دداسې څه نشتون (نېستیوالئ)دی، چي د روژې ضد وي. لکه: حیض او نفاس.
۳. :- دداسي څه نشتون(نېستیوالئ) چي دروژي ماتونکی وي.
نو خلاصه داچي روژه پر هرمکلف شخص فرض ده.مکلف شخص عاقل اوبالغ ته وايي.نوځکه پر لېوني او کوچني روژه فرض نه ده.خوالبته په مکلفو اشخاصو کي هم څو کسانوته اجازه سته ،چي روژه وخوري، هغه په لاندي ډول دي.
۱ اول:- مسافر ته په سفر کي روژه خوړل رواه ده.په دې شرط چي هغه دسفر موده یی پوره وي.چي په کلومیتره سره دواتیا اشارې دوه سوه شپږ نیوي « ۸۲,۲۹۶ »کیلومیتره کیږي. کله چې مسافر مقیم (پرکور) سو، بیا به یې قضا راګرځوي.دمسافر لپاره دروژې دخوړلو اجازه سته که په سفر کي مشقت(ستړیا) وي که نه وي. البته که چیري ستړیا نه وي. بیا زموږ په مذهب کي روژه نیول تر خوړولو بهتره ده. خو په سفریانه لمانځه کي حکم دادی: چي تر مکمل فرضي څلور رکعتیزه لمونځ دوه رکعته کول بهتره دی. حتی په سفر

کي پوره لمونځ کول ګناه ده اوکه يې بيا هم پوره کړي او پراوله ناسته کښېني ، لمونځ يې صحيح دی.خوګناهکاره دی.اوکه پر اوله ناسته کښېنستلی نه ؤ، نو لمونځ ئې صحيح نه دی.

۲دوهم:- ناروغ ته رواه ده، چي روژه وخوري. هغه ناروغ ته چې دخوړلو سخت ضرورت وي، اوروژه نيول يې ناروغي زياتوي. ډاکترانو ورته دخوړلو امر کړی وي. کله چې ناروغ جوړ سوؤ، بيابه د روژې قضائي راګرځوي.اوکه چيري يې پرعادي ناروغي روژه خوړلې وي.نو بيا به د روژې قضاء اوکفاره دواړه راګرځوي . يعني يوشپيته« ۶۱» روژې به پر له پسې نيسي.

۳ دريېم:- هغي ښځي ته روژه خوړل رواه دي، چي حامله وي، يعني کوچنی يې په نس وي او په روژه نيولو يې حمل ته تاوان رسيږي.اويا مرضعه يعني کوچني ته تی(خپلي شيدې) ورکونکې وي او په روژه نيولو سره يې کوچنی وږی کيږي اوبله چاره هم نه وي. نودغو ښځو ته روژه خوړل رواه دي.چې وروسته به يې بيا قضائی راګرځوي.

يادونه: د پورته ذکر سوو «۳» درو لپاره چي هر يو روژه وخوري.نو حتمآ به يې قضايي راوړي په فديه ورکولوسره نه خلاصيږي.

۴ څلورم:- شيخ الفاني اوشيخة الفانية. يعني هغه سپين ږيري او هغه سپين سري ته روژه خوړل رواه دي، چي دنيولو توان يې نه لري.دوی لره هم دروژې خوړل رواه دي، خو فديه به يې حتمآ ورکوي.چي دفديې بيان به وروسته درته راسي.انشاء الله.

دشيخ فاني تعريف دادی. چي داسي ضعيف يامريض وي.چي دجوړيدو هيله يې نه وي. اواحنافو دفيديې لپاره دا قيد ورسره ايښی دی، چي دغه مريضي به يې جاري جاري وي.اما که چيري داسي وي. چي دغه شيخ الفاني(سپين ږيری) دګرمۍ په وجه روژه نه سوای نيولای.په ژمي کي يې نيولای سي.بيا دې وخوري. اوپه ژمي کي دې يې قضايي راوړي(الموسوعة الفقهية الكويتية جـ۲۸صـ۵۵) داهغه کسان وه .چي که چيري يی روژه نيولې وای ،بيا هم دهغه فرضي روژې څخه درېده .

۵ پنځم:- هغه ښځه چي حائضه وي . يعني په خپله مياشتنۍ ناروغۍ کي وي. يا نفاسه وي، يعني ترولادت وروسته مريضي کي وي. همدغو دو ښځو ته د روژې نيول رواه نه دي. ضرور به يې خوري.او وروسته به يې قضا راوړي. په فديه ورکولو سره دوی هم نه خلاصيږي.

(روژه پر څو قسمه ده اود هرقسم لپاره څه ډول نیت اوڅه وخت کیږي؟)

روژه پر شپږ قسمه ده. ۱ فرض، ۲واجب، ۳سنت، ۴مستحب، ۵نفل(روا)، ۶مکروه فرضي روژه لکه: درمضان مبارکي د میاشتي ده، که اداءً وي. یعني د روژې په میاشت کي اوکه قضاءً وي، یعني قضاء یې راګرځول.اوهمدارنګه دکفاراتو روژې لکه :کفاره د ظهار،کفاره دقتل خطاء،کفاره دقسم اوداسي نور..
اونذري روژه هم په اظهر روایت کي فرضي بلل سوې ده.اما واجب روژه هغه لکه.دنفلي روژې قضا راوړل چي نفلي روژه یې فاسده کړي وي.
اما سنت روژه هغه لکه دعاشورا دورځي روژه نول خو ددې ورځي مخکي ورځ به هم ورسره وي. مستحب روژه لکه دهري میاشتي درې ورځي روژه نیول چي هغه د دیارلسم،څوارلسم،اودپنځسلم ورځي دي.همدارنګه ددوشنبې اوپنج شنبې دورځي روژه نیول.اودکوچني اختر دمیاشتي شپږ ورځي روژه نیول،اوداسي نور..
د پورته هر قسم روژو فضائل به په راتلوونکو صفحو کې درته ذکر کړو.
نفل یا رواه روژې هغه دي. لکه د پورته ورځو څخه بغیر په نورو ورځو کي روژه نیول چي دهغه ورځو دروژو څخه منعه نه وي راغلی.
مکروه روژه:- پر دوه قسمه ده. یوه مکروه تنزهي یعني هغه مکروه چي شدیده حرامه نه وي او حلالوته نږدې وي، هغه لکه یوازي دعاشورا د ورځي روژه نیول چي یوه بله ورځ ورسره یوځای نه کړي. په ذکر سوې ورځ یوای روژه نیول، د یهودوسره مشابهت دی.
مکره تحریمي روژه :- هغه مکروه چي شدیده مکروه وي، حراموته نږدې وي.هغه لکه د وصال روژه نیول یعني نن روژه ونیسي چي کله لمر ولویږي بیاهم روژه ماته نه کړي. بلکي راتلوونکې ورځ هم ورسره یوځای کړي.اوبل همیشه روژه نیول ،چي هره ورځ روژه نیسي ،یوه ورځ یې هم نه خوري.لاکن مستحبه طریقه داده : چي یوه ورځ روژه ونیسي اوبله ورځ یې ماته کړي. څکه داود (ع) هم داسي روژه نیول.اوپیغمبر«ع» هم دا ډول امر په کړی دی.

(دنیت به اړه خلاصه خبره)

داچي پیغمبر«ع » فرمایي: (انمالاعمال بالنیات)بخاري جـ۱صـ۱
ترجمه:بېشکه داعمالو دار مدار په نیتونو سره دی.نوځکه اوس دلوی څښتن تعالی په توفیق دروژې دنیت په اړه خبره کوو.
دنیت په اعتبار فقهاوو مطلقاً روژه پر دوه قسمه وېشلې ده.

لومړی :- هغه روژه ده ، چي نه تعين دنيت پکښي شرط دی اونه دا چي ضرور به دشپې نيت کوي.بلکي دسهار څخه بيا د ورځي تر نيمايي حصي څخه مخکي هم نيت کولای سي.هغه لکه فرضي روژه، نفلي روژه. او همدارنګه د نذر معين روژه،

نذر معين هغه ته وايی:چې يوسړی ووايي: چي پرما ددې فلانکۍ ورځي روژه نذرده مشخصه ورځ ياده کړي ،داهغه روژې دي چي که يې دشپې نيت ونه کړه سي ترنيمي ورځي مخکي يې هم نيت کيدای سي.همدارنګه په مطلق نيت سره چي همدا ډول ووايي. ز ما روژه ده د فرضيت اوبل کوم قيد ورسره ونه وايی، هم صحيح کيږي.همدارنګه که چيرې په فرضي يا د نذر معين په روژه کي دنفلي نيت وکړي ،هم صحيح کيږي. که څه هم مسافر وي په هغه اصح قول کي ،.اوهمدا رنګه که چيري صحتمند مقيم سړی د روژو لپاره د واجب روژې نيت وکړي هم صحيح کيږی.اما که چيرې مسافر وي، دبلي واجب روژې نيت يی وکړ. په دې صورت کي يې هغه واجب روژه صحيح کيږي. کوم چي نوموړي شخص يې نيت کړی ؤ.ځکه پرمسافر خو فرضي روژه فرض نه وه.دا هغه روژې دي، چي د مطلق نيت اود ورځي ترنيمايي مخکي يې هم نيت صحيح کيږي. خوالبته ددې ټولو روژو لپاره دا مستحب اوښه طريقه ده چي دشپې نيت وکړي ، اوهغه روژه ورسره ياده کړي چي نفلي ،فرضي او يا د نذر معين روژه نيسم.دوهم قسم هغه روژې دي، چي په نيت کي يې دا شرط دي، چي تعين به يې کوي.چي دافلانکۍ روژه نيسم.

اوهمدارنګه يو شرط دا هم دی، چي د شپې به نيت ورته کوي. دورځي يې نيت نه صحيح کيږي.هغه لکه دفرضي روژې قضا راګرځول. او همدا رنګه کله چې يې نفلي روژه ماته کړي وي ، دهمدغې نفلي روژې قضاء راګرځول دي.

د کفاراتو روژې لکه کفاره دظهار،کفاره دقتل خطاء ، کفاره د قسم اوداسي نور.. اوهمدا رنګه دنذر مطلق روژه نيول. د نذر مطلق روژه داسي مثال لري. کله چې يو سړی ووايي. که چيري زما دا فلانکی کار ترسره سو. پرمايوه روژه لازمه ده ، او زه به هم يوه روژه نيسم.او هغه ورځ مشخصه نه کړي.

(تاتارخانيه ج۳ص۳۶۸،۳۶۹)

(دروژې دنيت کولو الفاظ اوطريقه)

پوښتنه:مخکي ذکرسول، چي په اول قسم روژه کي د شپې نيت کول، مستحب دي . په دوهم قسم روژه کي شرط دی.اوس همدغه نيت څه ډول دی.اوتعين يې څه دی؟
جواب: د فرضي روژې د پاره به داسي نيت کوي.
(وَبِصَوۡمِ غَدٍ نَوَيۡتُ مِنۡ شَهۡرِ رَمَضَانَ) که چيرې يی دا ذکر سوي عربي الفاظ زده نه وي ، نوپه پښتو ژبه دې داسي ووايي.
سبا ورځ مي د رمضان د مياشتي دفرضي روژې نيت دی روژه نيسم. همدارنګه که نفلي وي، نو نفلي دې يادوي، که نذري روژه وي، نذري دې يادوي او که قضايي وي قضايي دې يادوي.
داچې نيت عبارت د زړه د ارادې څخه دی.خو زموږ داحنافو په مذهب په خوله سره تلفظ کول سنت دي.(الموسوعة الفقهيه الکويتة ج٢٨ص٢١) همدارنګه زموږ په مذهب کي د هري ورځي دروژې لپاره نيت کول ضروري دي.چې د ټولي مياشتي لپاره يو نيت نه صحيح کيږي(فتاوی تاتارخانية ج٣ص ٣۶٨)

(هغه څه چي روژه نه په ماتيږي)

هغه شيان چي روژه نه په ماتيږي ،هغه څلورويشت«٢۴» دي.
١،لومړی:- هرکله چې يو روژاتي په هيره سره خوراک وکړي، ځکه زموږ خوږ پېغمبر«ع» پدې اړه داسې فرمايي: چي هرکله يو روژاتي په هېره يو شی وخوري.دا دالله ج يورزق دی، چي ده لره يې ورکړ.
٢،دوهم :- چي په هېره سره چيښاک وکړي.
٣،دريېم:- چي په هيره سره جماع وکړي نوروژه يې ماته نه ده . خو په دې اړه يو څو اړين مسائل شتون لري.چې يادونه يی ضرور ګنم.کله چې يو روژاتي په هيره سره خوراک ياچيښاک وکړي.که چيري دا کس قوي وي، يعني قوت ولري بايد ورته ياده کړل سي، چي روژه ده ، خوراک يا چښاک مه کوه.اما که چيری ضعيف ؤ، او خوراک ياچيښاک ته يی ضرورت درلود.نو بيا يی يادول ورته مکروه کار دی.که يو روژاتي په هيره سره جماع کوله پدې وخت روژه ورته ياده سوله. او ژر يی ذکر را ونه کيښ . نو روژه يې ماته سوله. وروسته به يی قضايی راوړي، کفاره ورباندي نسته.
اړينه مسئله:که چيري يوسړي د خپلي ښځي سره په روژه کي دشپې ترسپېدو مخکي جماع کول پيل کړي. په دې حالت کي سپېدې پر راختلو وې، د ډار له سببه چې روژه يی خرابه نسي، ژر يې خپل ذکر خارج کړ،دا شخص د ذکر تر

بهر کولو وروسته انزال سو.تر انزال وروسته سپېدي راوختلې، روژه یې نه ماته ده اونه هم مکروه ده.
۴ :څلورم:- هغه شی چي روژه نه ماتوي ،هغه داچي کله یو انسان فکر وهي اوانزال سي .
۵:پينځم :- کله چې یو کس یو شي ته ګوري او انزال سي.په دغه صورت کي يې هم روژه ماته نه ده.که څه هم دا فکر وهل یانظر کول ډیر وي. خو البته همدا کړنه حرامه ده.دا هغه وخت چي یو کس فکر یا نظر کوي او بیا انزال سي. بې له دې چي په ذکرلاس ووهي، روژه یی ماته نه ده.خو که چیري یی په ذکر لاس وواهه ، روژه یی ماته ده.
۶:شپږم:- چي کله روژاتي سر ، ږیره اوبدن غوړ کړي. روژه یی ماته نه ده.
۷:اووم:- کله چې روژاتي سترګي توري کړي. روژه یی ماته نه ده.
۸:اتم:- چي کله روژاتي احتجام وکړي یعني وینه وکاږي.
۹:نهم چي کله روژاتي غیبت وکړي.که څه هم غیبت شدید حرام دی.روژې ته یی کوم نواقص نه رسیږي.
۱۰:لسم:- کله چې روژاتي د روژې دماتېدو نیت وکړي ، خو ماته یې نه کړي په نیت کولوسره یې هم روژه نه ماتیږي.
۱۱:یوولسم:- کله چې د روژاتي حلق(ستوني) ته دود داخل سي، هم یې روژه ماته نه ده ، خو په دې شرط چي قصداً به یی دود خولې ته نه وي داخل کړی. خو که چیرې یې قصداً دود خولې ته داخل کړ.نو بیایې روژه ماته ده، لکه: د سګریټو ، چلم او چرسو څکول.
۱۲:دوولسم:- کله چې د روژاتي خولې ته دوړو ګرز داخل سي که څه هم د ژرندي دوړه ګرز وي.
۱۳:دیارلسم:- کله چې مچ،غوماشه او یا کیخه یې ستوني ته ورسیږي. روژه ماته نه ده .
۱۴:څوارلسم:- کله چې روژاتي ترسپېدو مخکي دوا خوړلې وي. اوترسپېدو وروسته یې هغه اثر(خوند) په خوله کي پیداکړ هم یې روژه ماته نه ده.
۱۵:پنځلسم :- کله چې یو روژاتي تر سپېدو مخکي جنوب سوی وي ،وروسته سپېدې پر راغلې. مطلب داچي پر سهار سو ،هم یې روژه ماته نه ده ،که څه هم ټوله ورځ په جنابت پر تیره سي.
خو البته داهم ضروري ده.چې په جنابت سره ګرځېدل کم رزقي راولي. باید په جنابت سره ډیره موده بېله عذره ونه کرځي.

۱۶:شپاړلسم :- کله چې روژاتي انسان خپل ذکر ته اوبه ور داخلي کړي.
۱۷:اووه لسم:- کله چې روژاتي خپل ذکر ته روغن،غوړي،یا دوا ور واچوي.
په دې ټولوموارډو کي یې روژه ماته نه ده.
۱۸:اتلسم :- کله چې د روژاتي انسان غوږو ته اوبه داخلي سي ، روژه يی ماته نه ده .
۱۹:نوولسم:- کله چې روژاتي غوږ ګره وي، یعني خاشه یاګوته په غوږ کي ووهی ، خیري دغوږ څخه را وباسي او بیرته یې غوږ ته ور داخلي کړي که څه هم څو ځله وي . په دې سره یې هم روژه ماته نه ده.
۲۰:شلم:- کله چې روژاتي د پزي د داخل ګرنګ ستوني ته کش کړي او یا تر ستوني یی تیر کړي، په دې دواړو موارډو کي یې روژه ماته نه ده.
تنبیه:مناسبه خبره داده چي د خولې ناړه یا د پزي ګرنګ خارج«بیرون» کړل سي. تر څو د امام شافعي «رح »په مذهب هم روژه ماته نه سي. ځکه د امام شافعي «رح »په مذهب سر ه دا کړنه روژه ماتوي.
۲۱:یویشتم :- کله چې یو روژاتي انسان څخه بې اختیاره قئ ووهل سي.که څه هم قئ په ډکه خوله سره وي. خو بې اختیاره ورڅخه تیر سي هم یې روژه ماته نه ده.
۲۲:دوه ویشتم:- کله چې روژاتي انسان قی ووهي . په خپل اختیار سره تر ډکي خولې کم(لږ)وي، خو تېر یې نه کړي.هم یې روژه پر هغه صحیح قول ماته نه ده.
۲۳:درویشتم:- کله چې د روژاتي انسان په غاښنو کي دنخود اندازه کم(لږ) څه وي ،اوتېر یې کړي،بیایی هم روژه ماته نه ده.خوبیاهم ځان ورڅخه ساتل ضروري دئ.
۲۴:څلورویشتم :- کله چې روژاتی انسان یوه کنجده یا اېږدن دانه وخولې ته واچوی اوهغه په غاښنو ماته کړي او په خوله کي سره وپاشل سي اوپه حلق کي یې خوند پیدا نه سي ، په دې سره یې روژه هم نه ماتېږي. خوبیاهم د یادې کړني څخه ځان ساتل ضروري دي.
دا هغه مسائل وه، چي روژه نه په ماتېدل . خو په دې اړه څو ضروري مسائل نورهم راځي. چي هغه به په ضروري مسائلو کي درته ذکر سي.
انشاء الله تعالی.

(هغه څه چي روژه ماتوي قضاء اوکفاره هم لازمه وي)

هغه څه چي روژه ماتوي ، قضاء اوکفارهم لازمه وي.
هغه دووه یشت۲۲موارد دي. په دې شرط چي دغه کړنې روژاتي په خپله خوښه اوقصداً سره وکړي.دچا لخوا مجبوره سوی نه وي.
۱:لومړی:- کله چې روژاتي انسان په یوه کي ددې دوو لارو جماع وکړي.
نوپر دغه شخص باندي هم روژه او هم کفاره لازمه ده.
۲:دوهم :- کله چې دیوشخص سره په یوه کي ددې دوو لارو جماع وسي پر ده باندي هم قضا اوهم کفاره لازمه ده.مطلب داچي هم پرفاعل(لوړ)
اوهم پر مفعول (لاندي) دواړو باندي قضاء اوکفاره لازمه ده.
۳: دریېم :- کله چې یو روژاتي انسان په قصد سره خوراک وکړي.
۴: څلورم:- کله چې یو روژاتي انسان په قصد سره چېښاک وکړي.که دغه څښاکي اوخوراکي غذائې شی وې ،او که دوايي. په دواړو مواردو کي هم قضاء اوهم کفاره لازمه وي.
۵:پنځم :- کله چې باران دروژاتي خولې ته داخل کړل سي اوپه قصدي توګه یې تیر کړي.
۶:شپږم:- کله چې روژاتي اومې(خامي)غوښي وخوري. روژه اوکفاره دواړه پر لازمه ده.
اما کفاره هغه وخت ساقطیږي. که چیري همدغه اومو غوښو چینجي کړي وي بیا یې په خوړلو سره صرف قضاء لازمیږي، کفاره نسته.
۷:اووم:- کله چې روژاتي وازګه وخوري، د فقیه ابواليث پرقول روژه اوقضاء دواړه پرلازمیږي.
۸:اتم :- په وچو سووغوښو خوړلوسره په اتفاق دفقهاوو قضاء اوکفاره دواړه لازمیږي.
۹: نهم:- کله چې روژاتي غنم وخوري ،قضاء اوکفاره دواړه پر لازمیږي.
۱۰:لسم :- همدارنګه په غاښو سره دغنم ژولو او وروسته په تېرولو سره قضاء اوکفاره دواړه لازمیږي.خو که چیري یوه دانه غنم په غاښونو مات کړي.
اودغه غنم په خوله کې سره ګډ سي بیا هیڅ شي هم نه پرلازمیږي.
۱۱:یوولسم:- کله چې روژاتي یوه دانه غنم ژوندی تیرکړي.نه یې مات کړی اونه په خوله کي وپاشل سي. روژه اوکفاره دواړه پر لازمیږي.

۱۲:دوولسم :- چي یوه دانه کنجیده یا دکنجدي په اندازه یو شی دخولې د دباندي لخوا خولې ته واچوي اوتېر یې کړي.په خوله کي یې مات نه کړي، چي وپاشل سي. روژه اوکفاره دواړه پرلازمیږي.
۱۳:دیارلسم:- کله چې یو روژاتي ارموني ختي وخوري . روژه اوکفار دواړه پر لازمیږي.مطلقاً که یې عادت وي اوکه نه وي.ځکه دغه ختي د دوا غوندي استعمالیږي.ارموني ختی یو خاص قسم ختي دي ، چي عطاران یې پېژني.همدارنګه د دغوختو څخه بغیر نوري ختي یا خاوري چي په عربي کي ورته طفل اوپه پښتو دخړو اوبو ګرګ ورته ویل کیږي. همدارنګه مېټ،ګل سرشویي په دې ټولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.په دې شرط که یی د خوراک عادت درلود. ، اوکه یې عادت نه درلو بیا صرف
یوه قضاء پر لازمیږي .نه کفاره
۱۴:څوارلسم :- کله چې روژاتي لږ مالګه وخوري ، قضا اوکفاره دواړه
پر لازمیږي.
۱۵:پنځلسم :- کله چې یو نارینه دخپلي ښځي ناړي تیري کړي.
۱۶شپاړسم :- کله چې یو روژاتي انسان دخپل محبوب ملګري یا دخپل معشوق ناړي تیري کړي .په دې دواړو مواردو کي قضاء اوکفاره دواړه لازمیږي.
۱۷:اوولسم :- کله چې یو انسان غیبت وکړي ، اوترغیبت کولو وروسته یې فکر سي، چي په غیبت سره روژه ماته ده. نوموړی بیا قصداً خوراک وکړي.په دې سره قضا اوکفاره دواړه لازمه ده.
۱۸:اتلسم :- کله چې ترحجامت(وینو) کښلو وروسته خوراک یاڅښاک وکړي.
۱۹:نولسم :- کله چې په شهوت سره تر مسحه کولو وروسته خوراک یاڅښاک وکړي.
۲۰:شلم :- کله چې روژاتي په شهوت سره مچېدل(ښکلول) وکړي، وروسته خوراک وکړي.
۲۱:یویشتم :- کله چې جماع وکړي ،اوانزال نه سي.وروسته خوراک یاڅښاک وکړي.
۲۲:دوویشتم:- کله چې روژاتي بریتونه غوړ کړي، وروسته خوراک یاڅښاک وکړي. نو په دغو شپږو آخیرنیو مواردو کي د نوموړي کس دافکر سي .چي دغه څه روژه ماتوي، وروسته روژه پسي ماته کړي، په دې ټولو مواردو کي قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.

مګر کفاره په هغه وخت کي پرنوموړي نسته ، چي کله په دغو شپړو مواردو کي يې د يو فقيه عالم څخه پوښتنه کړي وي. هغه ورته ويلي وي، چي روژه دي ماته ده. ياپې په دې اړه يو حديث اورېدلی وي .چي روژه په ماته ده اوحال داچي نوموړی دهغه حديث په تأويل نه وي پوه سوی. وروسته نوموړي خوراک ياچښاک کړي وي. نوپه دې صورت کي کفاره نسته.
صرف يوه قضاء دې راوړي.په دې اړه چي کوم احاديث راغلي دي. اوهغه حديثونه خپل تأويل لري.هغه به په ضروري مسائلوکي راوړو انشاء الله تعالی دغه دوويشت«۲۲» هغه شيان وه ، چي قضاء اوهم کفاره دواړه پر لازم کېدله.
اوس هغه څه ليکو چي په هغه سره ترکفارې ترلازم کيدو وروسته کفاره ساقطيږي.

(په کوم شي سره کفاره ترلازم کېدو وروسته ساقيطيږي)
(اوکفاره څه شي ده؟)

کله چي پر يو روژاتي باندي کفاره لازمه سي اوس په څه سره کفاره ساقطيږي؟
هرکله چي پر يوه زنانه(ښځي)باندي کفاره لازمه سي، وروسته په دغه ورځ کي حيض(خپله مياشتانه مريضي) ورته پيښه سي.يانفاس(ترولادت وروسته مريضي) ورته پيښه سي.نواوس ددغي ښځي څخه کفاره ساقيطه سوه صرف يوه قضاء به راوړي.
ددې علاوه نارينه او يا ښځه چي تر کفارې تر لازم کيدو وروسته داسي مريض سي ، چي روژه خوړل ورته رواه وي، په دې صورت کي هم کفاره ساقيطه سوه.يوازې قضاء دې راوړي،البته که چيري د کفارې ترلازم کېدو وروسته سفر وکړي، په خپله رضا سره په دې صورت کي کفاره نه ورڅخه ساقطيږي.همدارنګه کله چي د کفارې تر لازم کېدو وروسته په زوره يوڅوک سفرپه وکړي . کفاره په اظهر روايت کي نه ورڅخه ساقطيږي.
سؤال: وجه څه ده چي په حيض يانفاس يا دسختي ناروغۍ په پيښېدوسره کفاره وروسته تر لازم کېدو ساقطيږي.اود سفر په صورت کي نه ساقطيږي؟
جواب: ځکه حيض،نفاس يابله سخته ناروغي دالله ج له طرفه پيښيږي. نوځکه کفاره په ساقطيږي.اوسفر دبنده له طرفه پيښږي نوځکه کفاره نه په ساقطيږي.
کفاره داده چي يو مريی يا مينځه به آزاده وي. که څه هم کافر وي.اوکه يې پر مريي يا مينځي قدرت نه درلود. يا مطلقاً موجود نه وه.بيا به د قضاء سره «۶۰»شپېته يعني«۶۱» روژې پرله پسې نيسي.چي يوه«۱» قضاء او«۶۰»

روژې كفاره كيږي. په دې شرط چي په هم دغو ورځوكي به د اختر ورځي او د تشريق ورځي نه راځي.ځكه په همدغو ورځو كي روژه نه نيول كيږي.
مسئله: كه يې د دغي كفارې په منځ كي يوه روژه وخوړله. كه څه هم نهه پنځوسمه«۵۹» روژه وي.كفاره به بيرته له سره راګرځوي.ځكه په كفاره كي تتابع(پرله پسې والی)شرط دی.
اوكه يې د روژو نيولو قدرت هم نه درلود. شيخ الفاني سو، بيا به شپېتو«۶۰» مسكينانوته ماخوستن اوغرمه يا دوه ماخوستنه يا دوې غرمې يا يو ماخوستن اويو پېشلمی ډوډۍ وركوي. خوپه دې اړه څوضروري مسئلې نوري هم سته هغه دا..
مسئله: هغه كومو شپېتو«۶۰» مسكينانو ته چي غرمه ډوډۍ وركړې ضرور به هغوبعينه شپېتو«۶۰» مسكينانو ته ماخوستن هم ډوډۍ وركوي.كه يې ماخوستن نورو شپېتو«۶۰» مسكينانو ته ډوډۍ وركړه.دانه ده صحيح بيرته به هم دغه د ماخوستن يا دغرمې د«۶۰»شپېتو مسكينانو ډوډۍ راګرځوي.
مسئله:كه چيري يوه مسكين ته شپېته «۶۰»ورځي سهار اوماخوستن ډوډۍ وركړي .هم صحيح ده.
مسئله: كله چې يې مسكينان دسترخوان ته كښېنول ، د مړتيا تروختته به دسترخوان نه ټولوي.
مسئله:كه ډوډۍ دغنمو وه ،بيا صرف ډوډۍ هم كافي ده ، اشپزي ياغوښي ورسره شرط نه دي. خوالبته چي اشپزي وي. دمعمول پرتقاضا به دا ښه وي.اوكه ډوډۍ اوربوشينه وه. بيا ددې ډوډۍ دتېرولو لپاره يوڅه شی ورسره شرط دی، كه څه هم شلومبې يا قورت وي. ځكه اوربوشينه ډوډۍ زيږه وي.
مسئله:كه چيري په دغو «۶۰» مسكينانو كي يومسكين موړ ؤ. يعني مخكي يې ډوډۍ خوړلې وه. بيايې كفاره نه صحيح كيږي.
او يا دې هرمسكين ته نيمه نيمه پېمانه غنم ياوړه وركړي.يا دې يوه پوره پېمانه خورما يااوربشي وركړي.يادي ددغوشيانو قيمت وركړي.
يادونه: يوه پېمانه تقريباً زموږ اوستاسو يوقندهاری من كيږي.نوخلاصه داچي يادې هرمسكين ته نيم من غنم يا وړه او يا دې قېمت وركړي.او همدارازيا دې يومن خرما ،اوربشي او يا دې قيمت وركړي.
يادونه:ـ د كفارې اداء كولو په مهال كي كه چا مريی درلود، نو« ۶۰» روژو او«۶۰» مسكينانو ته ډوډۍ وركول رواه نه دي.

همدارنګه که چیري چا مریی نه درلود پر «۶۰ »روژونیولو یې قدرت درلود . بیا «۶۰ » مسکینانو ته ډوډۍ ورکول رواه نه دي. ضرور به روژې نیسي. که چیرې یې قدرت نه درلود.او شیخ الفاني ؤ. بیا به« ۶۰» مسکینانو ته فدیه یعنې نیمه پیمانه غنم ، یا اوړه ، یا یوه پیمانه خورما ، یا اوربشي او یاپه ذکر سوي ترتیب ډوډۍ ورکوي.

مسئله: که چیري یوروژاتي دیوې روژې په میاشت کي.څو ځله خوراک،چښاک،یاجاع وکړي، په قصد سره په څو ورځو کي ددې ټولو لپاره یې یوه کفاره کفایت کوي.

همدارنګه که چیري یې دروژې په دوو میاشتوکي داکارونه قصداً وکړه.اود اولي میاشتي کفاره یې نه وه ورکړې.هم یوه کفاره کفایت کوي.خوالبته په بحرالرائق کي لیکي، چي ظاهر روایت دادی. چي ددو میاشتو په کفارو کي دوې کفاري لازمیږي.نواحتیاط په هم په دي قول کي دۍ چي ددوو میاشتو دي دوې کفارې ورکړي.

البته که چیري کفاره پر لازمه سي اودا کس هغه کفاره ادا کړي . وروسته بیا کفاره پرلازمه سي . په دې صورت کي دوې کفارې پرلازمیږي که څه هم په یوه میاشت کي وي.

(هغه شیان چي روژه په ماتیږي خو صرف قضاء لازمه وي نه کفاره)

هغه شیان چي صرف دروژې قضاء لازموي. نه کفاره هغه(۵۷)اوه پنځوس شیان دي.

۱:اول :- هرکله چې روژاتي اومې(خامي)وریجي وخوري.صرف قضاء پرلازمیږي. کفاره باندي نسته.

۲:دوهم :- هرکله چې روژاتي لانده اوړه وخوری.

۳:دریيم :- هرکله چې روژاتي وچ اوړه وخوري.

۴:څلورم :- هرکله چې روژاتي ډیره مالګه په یوه وار سره وخوري. صرف قضاء پرلازمیږي.

البته که چیري یی ډیره مالکه په څو ځله سره وخوړله ، بیا نو دقضاء سره کفاره هم پرلازمیږي.

۵:پنځم :- هرکله چې یو انسان ارموني خاوري یاختې وخوري. په دې شرط چي د خوړلوسره یې عادتي نه وي.اما که عادتي ؤ. بیا قضاء اوکفاره دواړه پرلازم دي.

۶:شپږم :- هرکله چې یو روژاتي یوه مندکه تېره کړي.
۷:اووم :- هرکله چې یو روژاتي پنبه وخوري.
۸:اتم :- هرکله چې یو روژاتي یو کاغذ وخوري.
۹:نهم:- هرکله چې یو روژاتي اوم(خام)بهي اوخوري.
۱۰:لسم:- هرکله چې یوروژاتي اوم(خام) تریخ جوز وخوري.
۱۱:یوولسم :- هرکله چې یو روژاتي شګه تیره کړي.
۱۲:دوولسم :-هرکله چې یو روژاتي اوسپینه تېره کړي.
۱۳:دیارلسم :- هرکله چې یو روژاتي انسان عادي خاوره اوخوري.
۱۴:څوارلسم :- هرکله یوروژاتي انسان ډبره وخوري.
۱۵:پنځلسم :- هرکله چې یو روژاتي انسان اماله وکړي.چي دا د طبابت یاډاکترئ یوه آله ده. چي انسان ته د اودس مات له خوا دوا په ورکول کیږي.
۱۶:شپاړسم :- هرکله چې یو روژاتي انسان پزي ته لنده دوا واچوي اوهغه دوا حلق(ستوني) ته ورسیږي.
۱۷:اوولسم :- کله چې دننه حلق(ستوني) ته په یوه آله سره یوشی واچوي. داهم په اصح قول کي صرف روژه ماتوي کفاره نسته.
۱۸:اتلسم :- هرکله چې د یو روژاتي انسان غوږته روغن ورولویږي.
۱۹:نولسم:- هرکله چې د یو روژاتي انسان غوږ ته اوبه ور ولویږي.نوپه دي دواړو صورتو کي هم پر اصح قول روژه ماتیږي صرف قضاء به راګرځوي.کفاره نسته.
۲۰:شلم :- هرکله چې یو روژاتي انسان دنس یا د سر زخم ته دوا واچوي. اوهغه دنس دزخم دوا نس ته ورسیږي.او دسر د زخم دوا دماغ ته ورسیږي.نو په دې دواړو صورتو کي یې هم روژه ماته ده. دوا که وچه یا لنده وي. صرف قضاء به یې راګرځوي کفاره نسته.
۲۱: یوویشتم:- هرکله دیوروژاتي انسان وحلق(ستوني) ته باران ورسیږي
۲۲: دوه ویشتم چي هرکله دیوروژاتي انسان وحلق(ستوني) ته واوره ورسیږي.کڅه هم دغه واوره اوباران په قصده سره تېر نه کړي بیایي هم پر هغه اصح قول روژه ماته ده صرف قضاء به یې راګرځوي کفاره نسته.
۲۳:درویشتم :- هرکله چې د یو روژاتي انسان ښځه په خطا روژه ماته سي . یعني روژه یې یاده وي. مثلاً خوله یی مینځل. پدې وخت کې سهواً اوبه ورښځه تیري سي .اوبه نس ته ورسیږي.
نو په دې صورت کي به هم صرف قضاء راګرځوي کفاره باندې نسته.

۲۴:څلورویشتم:- هرکله چې د يو روژاتي انسان روژه بل څوک په زور اوجبر سره ور ماته کړي.يعني بل څوک يې مجبوره کړي چې ضرور به روژه ماتوې نو نوموړی هم روژه ماته کړي که څه هم په جماع سره وي.په دې صورت کي به هم صرف قضاء راګرځوي کفاره نسته.
۲۵:پنځه ويشتم:- هرکله چې ديوې روژاتي ښځي سره په زور اوجبر جماع وکړل سي.
په دې صورت کي هم صرف پر همدې ښځي قضا سته کفاره نسته.
۲۶:شپږويشتم :- هرکله چې يوروژاتي روژه ماته کړي ، په دې وجه چې خدمت کوي اوس پرځان بيرېږي چي ناروغ کيږم . که مي روژه ونيول، صرف به قضاء راګرځوي کفاره نسته. خدمتګار که مريی يا مينځه وي.اوکه ديوه ميره ښځه وي.
۲۷: اوه ويشتم :- هرکله چې يو روژاتي انسان ويده وي، بل کس يې خولي ته اوبه ورواچوي اواوبه نس ته ورسيږي. په دې صورت کي هم صرف قضا به راګرځوي.
۲۸:اته ويشتم:- هرکله چې يو روژاتي انسان يو ځلي په هېره سره روژه وخوري. دوهم ځل قصداً روژه وخوري. که څه هم هغه حديث ورته ياد وي چي په هېره روژه نه ماتيږي.
په دې صورت کي هم پر هغه اصح قول کفاره نسته صرف قضاء به راګرځوي.
۲۹:نه ويشتم:- هرکله چې يو روژاتي انسان يوځلي په هېره سره جماع وکړي دوهم ځلي قصداً جماع وکړي.هم به صرف قضاء راګرځوي کفاره نسته.
۳۰:دېرشم :- هرکله يو انسان دشپې دروژې نيت ونه کړي بيا يې دورځي نيت وکړي دنيت کولو وروسته خوراک ياڅښاک وکړي . صرف يوه قضائي به راګرځوي.
۳۱:يو دېرشم :- هرکله چې يو مسافر د اقامت نيت وکړي ، په يوځای کي بيرته روژه ماته کړي . صرف يوه قضاء به راګرځوي کفاره نسته.
۳۲:دودېرشم :- هرکله چې يو انسان سهار مقيم وي.وروسته بيا دسفر نيت وکړي او روژه وخوري. صرف يوه قضاء به راګرځوي کفاره نسته.
۳۳:درې دېرشم :- چې يو انسان خوله بنده کړې وي.خونه يې دروژې نيت کړی وي اونه يې دخوړولو هم صرف يوه قضاء به راګرځوي کفاره نسته.
۳۴:څلوردېرشم :- هرکله يو انسان پېشلمی وکړي دده په سفېدو راختلو کي شک وو هغه يقيني سفېدې راختلي وې.صرف قضاء به راګرځوي.

۳۵:پینځه دېرشم :- هرکله چې یو انسان جماع وکړي. دنوموړي کس په سفېدو راختلو کي شک وُ.هغه یقیني سفېدې راختلي وې.په دې دواړوصورت کي هم صرف یوه قضا به راوړي.
۳۶:شپږ دېرشم :- هرکله یو روژاتي انسان روژه ماته کړي. د نوموړي دا ګمان وُ. چي لمر لوېدلی دی،تر هغه وروسته معلومه سوه. چي لمرلوېدلی نه دی. یا لکه څرنګه چي زموږ اوستاسو په عصر کي روژه د ماښام پرآذان ماتيږي. دیاد کس ترغوږوړود آذان په څېر یوآواز سو . نو د همدې غلط فهمی په اساس یې روژه ماته کړه ،وروسته بیا معلومه سوه ،چي اذان نه دی سوی. په دې صورت کي به هم صرف یو قضاء راګرځوي کفاره ورباندي نسته.
۳۷:اووه دېرشم :- هر کله چې روژاتي انسان دیوې مړې ښځي سره جماع وکړي او انزال سي.
۳۸:اته دېرشم :- کله چې روژاتي انسان دچارپایه(حیوان)سره جماع وکړي اوانزال سي.
۳۹:نهه دېرشم:- چي هرکله یو روژاتي انسان په ورون کي جماع وکړي اوانزال سي.
۴۰:څلویښتم :- هرکله چې یو روژاتي انسان دیوې ښځي په نس کي جماع وکړي اوانزال سي.
۴۱یوڅلویښتم:- هرکله چې یو روژاتي انسان مچیدل(بوسیدن) وکړي او انزال سي
۴۲:دوڅلویښتم.:- چي هرکله یو روژاتي انسان مسه کېدل وکړي اوانزال سي.
په دې شپږو صورتو کي به هم صرف یوه قضاء راګرځوي کفارهورباندي نسته.
۴۳:درې څلویښتم :- هرکله چې یو روژاتي انسان دفرضي ادایي روژې څخه بغیر بله روژه ماته کړي. په دې صورت کي هم یوه قضاء پرلازميږي.کفاره نسته.
۴۴:څلورڅلویښتم:- هرکله چې دیوې روژاتي ښځي سره جماع وسي. او دا ښځه بیده وي، ویښه نه سي، پرهمدغي ښځي هم صرف یوه قضاء سته کفاره نسته.
۴۵:پنځه څلویښتم :- هرکله چې دیوې روژاتي ښځي په دننه فرج کي اوبه یا دوا توی کړل سي.په دې صورت کي هم صرف یوه قضاء سته کفاره نسته.پرهغه صحیح قول باندي.

۴۶:شپږڅلوېښتم:- هرکله چې روژاتي انسان په اوبو لنده ګوته په دبره کي دننه کړي.
۴۷:اووه څلوېښتم :- کله چې روژاتي انسان په غوړو لنده ګوته په دبره کي دننه کړي.په دې دواړو صورتو کي هم صرف يوه قضاء پرسته نه کفاره.
۴۸:اته څلوېښتم :- هرکله چې ديوې روژاتي ښځي ګوته په اوبو يا غوړيو لنده وي. دغه ګوته په فرج کي دننه کړه، په دې صورت کي هم صرف يوه قضاء پرسته نه کفاره. پرهغه اصح قول باندي.
۴۹:نهه څلوېښتم :- هرکله چې يو روژاتي انسان په دبره کي پنبه پټه کړي.
۵۰:پينځوسم :- هرکله چې روژاتي ښځه په دننه فرج کي پنبه داخله کړي.
او همدغه پنبه داسي داخله کړي چي توله پټه کړل سي ، په دې دواړوحالاتو کي هم صرف يوه قضاء پرسته .
۵۱:يوپينځوسم:- هرکله چې يو روژاتي انسان قصداً خپل حلق(ستوني)ته دود داخل کړي. په دې صورت کي هم صرف يوه قضاء سته نه کفاره.
۵۲:دوپينځوسم:- هرکله چې يو روژاتي انسان قصداً قى ووهي که څه هم خوله نه په ډکيږي. مګر امام ابوسف د خولې ډک والى ورسره شرط بولي او دغه قول صحيح هم دى، په دې صورت کي هم صرف يوه قضاء سته نه کفاره.
۵۳:درې پينځوسم :- هرکله چې يو روژاتي انسان په ډکه خوله سره بې اختياره قى ووهي او قى ورڅخه تير کړل سي. اوروژه يې هم ياده وي.په دې صورت کي هم صرف يوه قضاء سته، نه کفاره.
۵۴: څلورپينځوسم:- هرکله چې يو روژاتي انسان هغه په غاښوکي بند شيان وخوري.اوهغه شيان ديوه نخود اندازه وي. په دې صورت کي هم صرف يوه قضاء سته، نه کفاره.
۵۵:پينځه پينځوسم:- هرکله چې يوانسان په هېره سره خوراک وکړي.وروسته يې د روژې دنيولو نيت وکړ.نوپه دې صورت کي يې هم روژه ماته ده.
قضاء به راګرځوي اوکفاره ورباندي نسته.
۵۶:شپږپينځوسم :- هرکله چې يو انسان ببهوښه(بى سده) سي که څه هم توله مياشت وي .هم به ددغو ورځو قضاء راګرځوي.مګر دهغي ورځي قضاء نه راګرځي . په کومه ورځ يا د کومي ورځي په شپه چي ببهوښه سويدى.
۵۷:اووه پينځوسم :- هرکله چې يو انسان لېونى سي،البته توله مياشت نه وي، د همدغه لېونتوب د ورځو د روژو قضاء پرفرض ده،او دهغي ورځي قضاء پر فرض نه ده ،

د كومي ورځي په شپه ياپه هغه ورځ دځاښت پر وخت چي پرسد سوئ وي،يا د بې هوښئ د حالت څخه را وتلی وی.

(هغه افعال چي روژاتي ته يې كول مكروه دي)

۷:اوه شيان روژاتي لره مكروه دي.

۱:لومړی:ـ د يوشي خوند كتل مكروه دی په دې شرط چي تير يې نه كړي اوكه يې تېر كړ، بيايې روژه ماته ده.

۲دوهم :ـ د يوشي ژوول. بې له عذره مكروه دي.البته كه عذر ؤ، د مثال په ډول ديوې ښځي خاوند سخت طبيعته ؤ، پرخرابه او بې مزه اشپزي يې خپلي ښځي ته سپكي سپوري ويلې. وهل ، ټكول او ترټل يی كوله ،بيانو د خوړو مزه او خوند كتل مكروه نه دي.اوكه ښه مجازه او نرم سړی ؤ. بيايې خوند كتل مكروه تحريمي دي.

همدارنګه كه چيري يوې ښځي كوچنی اولاد درلود اوبې له ژوولي ډوډئ ئې بل څه نه سوای خوړلای.او يوبل داسي څوک يی نه درلود. چي ډوډئ ورته وژويی.

نواوس يادي ښځي ته اجازه سته ،چي دغه كوچني ته ډوډئ ور وژويي. خوالبته په نن عصر كي وچي ،شيدې ،سيريلاک ، بسكوټ نورې قسم قسم د كوچنيانو غذاګانې پيداكيږي. چي ورپيدا يې كړي. او كوچنی په موړ كړي. كه چيري يې پورته ذكر سوي غذاګانې پيداكولای سوای. همدا څه دي ور كړي.ترڅو روژه يی دكراهت دشبهې څخه وساتل سي.

۳:دريم :ـ دژاولوژوول مكروه دي.

يادونه: داهغه ژاولي ښيې چي پخوا به صرف دغنمو څخه جوړېدلې دهيڅ شي خوند يې نه درلود. صرف لكه پلاستيک چي ژويي.البته دنن عصر ژاولي چي هغه خوږې ياتروې وي ددې ژاولو ژوول روژه ماتوي.

۴:څلورم:ـ مچه اخيستل.

۵:پنځم :ـ دخپلي ښځي سره بازئ كول.همدغه دوه افعال د روژاتي لپاره هغه وخت مكروه دي ،چي پرخپل ځان باندې مطمئن اوباوري نه وي، يعني جماعي ورڅخه كيږي او يا انزاليږي.اوكه چيري پرځان مطمئن(باورمند) ؤ. بيا ورته مكروه نه دي،.

۶:شپږم :ـ كله چې روژاتي په خوله كي ناړي ډېري كړي او وروسته يې تيري كړي. دا كړنه هم مكروه ده.

۷:اووم :- هرهغه کار چي روژاتي ضعيفه کوي.لکه رګ خلاصول او حجامت(وينه کښل)
دا هم روژاتي لره مکروه دي.البته امام طحاوي «رح» دغه څلور شيان هم په مکروهاتو کي داخل کړي دي.
۱:لومړی:- کله چي روژاتي په اوبوکي لمبيږي اوپه اوبو کي باد پرې کوي. ځکه په اوبوکي باد پرې کول ددې امکان لري چي اوبه دي دننه کړل سي.
۲:دوهم :- کله چي ديوې ښځي خاوند پر کور وي اود خاوند يې روژه هم نه وي. اونه يې خاوند مريض وي اونه د حج يا دعمرې په احرام کي وي.نودغي ښځي ته د خاوند بې اجازې نفلي روژه نيول مکروه ده.اوکه يې دمېره هم روژه وه، يا ناروغ ؤ،بيا مکروه نه ده.
۳:درېيم :- د بادار بې اجازې مريي اومينځي ته نفلي روژه نيول مکروه ده.که څه هم بادار ناروغ وي، يايې روژه وي ولي چي دمريی اومينځي هغه هدف چي خدمت دی ،هغه پاتيږي.
۴:څلورم:- کله چي يو شخص مزدور ته دنده سپارلې وي اوس ددغه مزدور روژه نيول خدمت ته تاوان کوئ. نو نفلي روژه نيول ورته مکروه ده.
اوکه يې تاوان نه ورته کاوه بيا ورته نه ده مکروه.
پورته څلور دامام طحاوي رح په نزد مکروه دي او مخکني.۷.افعال بالاتفاق مکروه دي.

(هغه افعال چي روژاتي ته يې کول نه دي مکروه)

هغه يوولس(۱۱) کړنې چي روژاتي ته يې کول مکروه نه دي .
۱:لومړی:- مچه اخستل(ښکلول)
۲:دوهم:- دخپلي کوروداني(ښځي) سره بازی کول.همدغه ښکلول اوبازی کول هغه وخت مکروه ندي چي پر خپل ځان مطمئن(باورمند) وي. يعني جماع ورڅخه نه کيږي اونه ورڅخه ځان انزاليږي.
۳:درېيم:- دبرېتو، سر ،نس او نور بدن غوړول.
۴:څلورم :- د سترګو تورول هم نه دي مکروه،ځکه بي بي عائشه رضی الله تعالی عنها ديو حديث روايت کوي. چي دپېغمبر «ع » روژه وه، سترګي يې توري کړي وې.
۵:پينځم :- وينه کښل
۶شپږم:- رګ خلاصول

۷:مسواک وهل مکروه نه دي، که څه هم دورځي په آخير کي وي،بلکي سنت دي.اوکه څه هم لوند مسواک وي.
۸:اتم :ـ دخولي اوپوزي پرېمینځل دي. که څه بې له او داسه وي.
۹:نهم:ـ دګرمۍ څخه دخلاصون لپاره غسل (لامبو)کول، یا په یوه لانده دسمال او یا ټوکر کي ځان پېچل دي په دې کي دامام صاحب یوقول داسي راځي چي داسي کړنه مکروه ده. ځکه په دې سره دخدای ج په عبادت کي بې تابي ښکاره کول دی.خوپرهغه مفتی به قول مکروه نه دي.ځکه چي په دې کي د خدای «ج» پرعبادت باندي کومک غوښتل دي.(المسوعة الفقهیه الکویتیه جـ ۲۸صـ۷۴)

(دروژې سنتونه ، مستحبات اوپرمروجه تقسیم اوقات روژه نیول اوماتول)

درنو لوستوونکو دروژې سنتونه اومستحبات ډیر دي.خو هغه لازم اوضروري سنتونه اومستحبات به دلته دلوڅښتن تعالی ج په توفیق او اراده درته بیان کړو.
۱:لومړی:ـ پېشلمی کول سنت دي ځکه یوحدیث شریف کي داسي الفاظ راغلي دي.
(عن انس رض ان النبی ص قال تسحروا فان فی السحور برکة) رواه مسلم جـ۲صـ۷۷۰
ترجمه: پیغامبر «ع» فرمایي: تاسو پېشلمی کوئ ځکه په پېشلمي کولو کي برکت دی.
درنو لوستونکوچي کله پېشلمی کول سنت سو.نوباید دسنت طریقې پرځای کولو لپاره ضرور پېشلمي ته راکښېنو.خوبعضي ورونه د زیات خوب له امله پېشلمی نه کوي، یاخو وایي چي موړ یم. شی مي خواته نه کیږي.خوزه وایم چي د برکت حاصلولواو د دغي سنت طریقې د پوره کولو لپاره باید ضرور راکښېنو که څه هم خواړه مو خواته نه کیږي، صرف یوه خورما چې وخورو. یا یو څه اوبه وڅیښو.الله«ج» به مو د نېکیو تله درنه کړي.
۲:دوهم پر روژه مات تلوار کول ځکه پیغبرع فرمایي..
(لایزال الناس بخیر ماعجلوا الفطر)
ترجمه: همیشه به هغه انسانان ښه اوپرخیر وي ترڅو چي پر روژمات کولو تلوار کوي.
یادونه: پیغمبر«ع» چي دکوم تلوار یادونه کړې ده داهغه تلوار ښیي. چي واقعآ لمر ښه یقیني لویدلی وي.نو باید تلوار وسي. اوپه دې حدیث شریف کي رد پرهغو کسانو دی، چي دوی ترهغو روژه مات نه کوي ترڅو چي ستوري راختلي

نه وي.لکه زموږ اوستاسو په سيمو کي شيعه مذهبه چې روژه مات ځنډوي. خومتأسفانه زموږ اوستاسو يو شمېر سني مذهبه ورونه هم دغه دروژه مات دوختي کولو خبره اوريدلې وي نو دوي هم ددغه مروجه مبائلانو دتقسيم اوقات پر اوله دقيقه روژه ماتوي ياپراوله دقيقه خوله بندوي.دادېر دناپوهی کاردی.

ولي چې دغه تقسيم اوقاتونه په نني عصر کي اختراع سوي دی. دومره زيات داعتبار وړ هم نه دي.نوځکه علماء کرام فرمايي: چي کله دهمدغه تقسيم اوقات پراساس دماښام وخت داخل سي،نو ضرور دې پينځه (۵)او يا شپږ(۶) دقيقې احتياط کوي.همدارنګه چي پرکومه دقيقه دسهار وخت داخلېږي،هم بايد تر پينځه(۵) اوياشپږ(۶) دقيقو آن تر (۱۰) دقيقو وړاندې (مخکي) دې خوله بنده کړي.خدای مکړه ټولي روژې يې د همدغه احتياط نه کولو په وجه خوړلي وي.اې مسلمانه وروره دا چي داټوله ورځ دې روژه وي، په دې پينځه ياشپږدقيقوسره هم هيڅ نه درکيږي څه صبروکړه.

۳:درېيم پېشلمې ځنډول سنت دي.ځکه زيدبن ثابت رض فرمايي: چي موږ به دنبی اکرم «ص» سره پېشلمی وکړ. وروسته به بيا دسهار لمانځه ته ولاړسوو، بيا د زيد «رض» څخه پوښتنه کيږي. چي د لمانځه اوپېشلمي په منځ کي به څومره موده (وخت) وْ. ده مبارك وويل:« ۵۰» پينځوس آيته

يادونه:- يوه ډېره اړينه اوضروري خبره داده، هغه داچي يو شمېر سپين ږيري او ځوانان نسوار، چېناک او يا خوراک کوي. خوله نه بند وي، که څه هم دسهار اذان شروع وي. کله چې ورته څوک ووايې: خوراک مه کوه. وخت داخل دی. نو دغه کس وايي: پخوا به ملايانو ويل : چي کله دسهاراذان شروع وي، خوراک رواه دی. دا د نن عصر ملايان خو په دين کي نوي خبري کوي.

چي مخکنيو ملايانو نه کولې.

دغه اشخاصو ته بايد په ځواب کې ووايو .هغه د مخکنيو ملايانو خبره صحيح وه ،هيڅوک دنني عصرپه ملايانو کي ددوی پرخبره رد نه لري. خو دومره بايد ووايم. هغه داچي پخوانيو ملايانو به ويل: دسهار د اذان په شروع کي خوراک روا دی، دا ځکه هغوی دسهار د وخت ترداخلېدو مخکي اذانونه کول. وخت به نه وْ داخل سوی خوراک به رواه وو.ځکه دوسايلو او نوي ټيکنالوژۍ دومره پرمختګ نه وْ.چې د وخت داخېدل يې ښودلي واي.اما په نن عصر کي چي کوم دوخت دداخلېدو اسباب مهيأ سوه. نوځکه په نني عصر کي اکثره علماء دوخت ترداخلېدو وروسته اذانونه کوي.

که چیري:ـ یوروژاتي انسان د سهار د اذان په شروع کي خوراک ، څښاک او یاپي نسوار کول اواذان هم د وخت تر داخلېدو وروسته ؤ. نو روژه یې ماته ده.
۴:څلورم:ـ مستحبه طریقه داده .چي روژاتي انسان په رطب یعني لنده خورما سره روژه ماته کړي. که چیري لنده خورما نه وه بیا دي په تمر یعني په وچه خورما روژه ماته کړي.اوکه وچه خورما هم نه وه ،نو بیا دې په اوبو سره روژه ماته کړي.ځکه حدیث شریف کي راځي.
چي پېغامبر «ع» به دلمانځه مخکي په لنده خورما سره روژه ماتول .که به لنده خورما نه وه ،بیابه یې په وچه خورما روژه ماتول اوکه به وچه خورما هم نه وه، بیابه یې په یو څوغوړپه اوبوسره روژه ماتول.اوبل حدیث کي نبي «ع » فرمایي.که چیري یوه روژاتي روژه ماتول. نودي روژه په خورما ماته کړي.ځکه په خورما روژه ماتول برکت دی اوهغه څوک چي خورما پیدا نه کړي بیا دې په اوبو سره ماته کړي.ځکه اوبه پاکي دي.
۵:پینځم:ـ مستحب طریقه داده چي روژاتي انسان دروژه مات په وخت کي دوعاء وکړي.
ځکه په ابن ماجه کي دعبدالله بن عمر «رض» څخه مرفوع حدیث راځي پېغامبر«ع» فرمایي: بېشکه چې روژاتي لره، دعاء سته چي هغه نه ردیږي یعني ضرور قبلیږي.اوبل حدیث شریف کي راځي چي دڅوکسانو دوعاء ضرور قبلیږي.یوپه هغوکي روژاتي دی. چي دروژه مات پر وخت دوعاء وکړي ضرور قبلیږي.نوباید هر انسان دروژمات پروخت درود شریف اونور ذکرونه وایي.
دهغه وروسته دالله ج دربار ته لاسونه په عاجزي سره پورته کړي اودځپل ځان اودځپلي کورنۍ اودټولومسلمانان لپاره دوعاء وکړي.
سوال:که چیري یوانسان ته داخبره په ذهن کي ور وګرځیده چي موږ خو باربار دروژمات پر وخت دوعاوي کړي دي ،خو بیاهم نه دې قبولي سوي داڅه وجه ده اوحال داچي حدیث شریف راځي ،چي ضرور قبلیږي.
لومړی ځواب:ـ د دعاء دقبلېدو لپاره نور هم دېر شرطونه سته لکه په دوعاء کي اخلاص کول،حلاله نفقه خوړل،پر قبلېدو یې یقین کول.کېدای سي دغه شرطونه دې نه وي پرځای کړي.
دوهم ځواب:ـ ددوعاء قبلېدل ۳درې قسمه دي. یو داچي پر دې دنیا دغه انسان هرڅه غوښتي وي الله ج هغه ورکړي.
دوهم:- پر دوعاء کونکي شخص باندي یو تکلیف یا بلا را روانه وي. نوالله ج هغه په دفعه کړي.

درېيم د دعاء هغه بدله اوعوض الله «ج» په آخرت کي په نېکيو ورکوي.نوکېداى سي چي دقبوليت آخيري دوه قسمونه دي وي...
داهغه ضروري مستحبات وه دلته ځونور مستحبات هم سته لکه دظاهري اوباطني ګناهونو څخه ځان ساتل.هغه لکه ژبه د درواغو،غيبت،تهمت،عبث خبرو،خرابو خبرو،کښنځل کولوڅخه ساتل.لکه څرنګه چي پيغمبرع فرمايي: که چيري د يوه روژه وه ،نوبيا دي فسق نکوي او نه دي خرابي خبري کوي.که چيري يوه ورته کښنځل کول يايي جنګ ورسره کوئ. نونوموړى کس دې ښکنځل ورته نکوي اونه دې جنګ ورسره کوي. بلکي ورته ودي وايي چي زه روژاتي يم.اوبل حديث شريف کي راځي چي روژه دانسان سپر(ډال) دي ترڅوچي يې دغه سپر په درواغوياغيبت سره څيرلى اومات کړى نه وي. ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه. چي روژه په درواغو اوغيبت سره داسي خرابيږي لکه څرنګه چي يو انسان سپر څيري کړي. نوبيا هيڅ دفاع نه په کيږي.اوبل ټول اندامونه د نفساني شهوتونو اوحرامو افعالو څخه ساتل. ځکه حديث شريف کي راځي. چي پيغمبر« ع » فرمايي: هغه روژاتي چي خرابي خبري اوخراب کارونه پرې نه ږدي. الله ج لره هيڅ باکه نسته چي خوراک اوچښاک نه کوي.
اوبله مستحبه طريقه داده چي ټول اندامونه به دالله ج په عبادت کي مشغوله کړي.
دالله ج ذکر به کوي دقران عظيم الشان تلاوت به کوي لکه څرنګه چي امام غزالى رح هم فرمايې چي دروژې هغه سير(راز)تلاوت کول دي،
او بل حديث شريف کي پيغمبر«ع» فرمايي.دقران شريف دهر حرف پر ويلو ۱۰: لس نېکى دي.اوپيغمبر«ع» فرمايي (الم) يوحرف نه دى. بلکي الف جلا حرف دى.لام جلا حرف دى. او ميم جلا حرف. نودا کلمه درې حرفه ده «۳۰»ديرش نيکى يې کيږي.
نو اې انسانه داچي صرف د«الم» دېرش نېکى دي نو دمکمل قران مجيد به څومره نيکى وي.بايد موږ اوتاسو کوشش وکړو چي دآخيرت لپاره هم يو څه توښه برابره کړو. دقران مجيد تلاوت اونور دنېکيو اعمال وکړو. اوپيغمبر«ع» هم فرمايي.«الدنيا مزرع الآخرة» دنيا دآخيرت کښت دى نو بايد موږ اوتاسو هم دنيکى کښت وکرو. ترڅو په آخيرت کي يي حاصلات لاسته راوړو.

(دروژې په اړه قسم قسم ضروري مسائل)

(شکمن نیت کول)

١:اوله مسئله :ـ که چیري یو انسان دشپې داسي ووایي که چیري زه سهار دیوچا میلمه سوم یا یوځای ته ولاړم نو روژه نه نیسم اوکه چیري میلمه نه سوم یا هغه ځای ته نه ولاړم نوروژه نیسم دانیت صحیح نه دي .ځکه چي نیت عزم اوقصد ته وایي.په دې صورت کي د نوموړي عزم نسته.

(دلمر لویدومخکي دراتلونکي ورځي نیت)

٢:دوهمه مسئله:ـ که چیري یوانسان دلمر لوېدو مخکي دسبا ورځي لپاره دروژې نیت وکړي، نیت یې صحیح نه دی.حتی که چیري یو انسان ترلمر لوېدو مخکي لېونی یا ویده سو، تر راتلونکي سهاره پوري ددغه انسان هغه راتلونکې روژه صحیح نه ده . ځکه نیت موجود نه دی.:(التاتار خانیة جـ٣صـ٣٧٠)

(دنیت کولو بهتره وخت)

٣:دریېمه مسئله:ـ بهتره خبره داده. چي د روژمات پر وخت ترلمر لوېدو وروسته دسبا ورځي دروژې نیت وکړل سي. ځکه پېغمبر«ع »وحضرت علي(رض) ته په دې سره امر کړی دی.هغه حدیث داختصار په وجه نه لیکو..

(دټولي میاشتي دروژو نیت کول)

۴: څلرمه مسئله زموږ په مذهب کې د هري ورځي دروژې لپاره نیت کول ضروري دي.چې د ټولي میاشتي لپاره یو نیت نه صحیح کیږي.لمامر(فتاوی تاتارخانیة ج٣ص ٣۶٨)

(دپېشلمي اوروژمات په اړه)

۵: پنځمه مهمه مسئله:ـ که چیري یوانسان پېشلمی جماع کولې. دنوموړي دایقین ؤ.چي سپېدې نه دي راختلي.هغه سپېدې راختلي وې.یایې رووژه مات کوئ. دده دایقین ووچي لمر لوېدلی دی. هغه نه وولوېدلی. نوپردغه سړي صرف یوه قضاء سته کفاره وربانديِ نسته.ځکه دا عذر دی.اما که یې چیري دسپیدو په نه راختلوکي یا دلمر په لوېدلو کي شک وو ، او دا شک اویقین سره برابر وو. وروسته معلومه سوه، چي سپېدې راختلي دي. یا لمر نه وولوېدلی. نوپه دې صورت کي

قضاء او کفاره دواړه پرلازمه ده.همدې مسئلې ته ورته یوه بله مسئله هم زیاته پیښیږي هغه داچي بعضي کسان وايي: چي ما اوبه چیښلې یا مي خوراک کوئ، یامي نشه یي توکي (نصوار) په خوله کي وه .هغه د سهار اذان شروع سو.آیا اوس پرما قضاء ستة که کفاره ؟جواب :- دهغه اذان کوونکي څخه دي پوښتنه وکړل سي که چیري دغه اذان ترسپیدو مخکي سوئ وي . خوهیڅ خبره نسته هیڅ شی نه پرلازمیږي.اما که چیري ترسپیدو وروسته سوی وي. او دغه کار نوموړي قصداً نه وي کړی.بیا صرف یو قضاء لازمیږي.اماکه چیري نوموړی کس پوهیده. چي سپیدې راختلي دي، او بیايي همدغه څه قصداً کول. بیاهم قضاء اوهم کفاره یعني یوشپیته (۶۱) روژې پرلازمیږي.همدارنګه که چیري دانسان ترغوږ د روژمات په وخت کي یو آواز سو.دده دافکر سو ،چي د ماښام آذان دی،اوسمدستي يې روژه ماته کړه، هغه وروسته معلومه سوه.چي اذان نه وو.لمر لاهم نه وولویدلی.پر همدغه سړي هم صرف یوه قضاء ستة.

(که چیري په روژه کي مرتد اوبیرته مسلمان سو)

۶: شپږمه مسئله که چیري یوانسان په اول کي دورځي دروژې مرتد سو،یعني ددین څخه واوښتی، العیاذ بالله وروسته يې اسلام ته رجوع وکړه اودلمرتر زوال مخکي يې دروژې نیت وکړ، نیت يې صحیح دی. او روژاتي وګرځیدی.اوکه يې روژه ماته کړه قضاء پرلازمه ده. (تاتارخانیه جـ۳صـ۳۷۴)

(که چیري روژاتي تار تېر کړ)

۷: اومه مسئله که چیري دروژاتي څخه دیو تار یوطرف تېر کړل سو.اوبل طرف يې په لاس کي وو.بیرته يې تار راکش کړ. روژه يې نه ده ماته. اما که يې راکش نه کړ، ټوله يې تېر کړ ،روژه يې ماته ده صرف قضاء به يې راګرځوي کفاره وربانديي نسته ځکه دا مایتغذی به نه دئ.

(دناړو تېرولو په اړه)

۸: اتمه مسئله :- که چیرې یو روژاتي پر ورغوي ناړي توئ کړي اوبیرته يې تیري کړي.روژه يې ماته ده. اما که يې په خوله کي ناړي سره ډیري کړې اوبیايي تیري کړې روژه يې ماته نه ده ، خوصرف دغه کار کول مکروه دي.اوکه يې د بل انسان ناړي تیري کړې.روژّه يې ماته ده. صرف قضاء به

راګرځوي.خوالبته که يې دخپل محبوب (عاشق) ناړي تيري کړې بيا قضاء اوکفاره دواړه پرلازمیږي.

(کله چې دروژاتي دخولې څخه بې اختياره اوبه وتلې)

۹: نهمه مسئله:- که چيري يوانسان داسي مريض وي. چي د خولې څخه يې اوبه بې اختياره راوتلې اودغه ناړي يې دوباره خولې ته داخلېدلې. ترڅوچي حلق(ستوني) رسېدلې.په دې صورت کي يې روژه ماته نه ده .

(کله چې روژاتي په خوب کي اوبه وچيښې)

۱۰: لسمه مسئله:- که چيري روژاتي په خوب کي اوبه وچښي.ددغي روژې قضاء باندي لازمه ده (تاتارخانيه جـ۳صـ۳۸۳)

(داوښکو او وينو تېرولو مسئله)

۱۱:يوولسمه :- که چيري د روژاتي انسان خولې ته دسترګو لړ اوښکي يعني يو يا دوه څاڅکي خولې ته توی(ولاړي) سي.روژه يې ماته نه ده ،که څه هم د اوښکو تريووالیٔ(شوره) محسوس کړي.اما که چيري اوښکي ډيري وي. ترڅوچي ئې په ټوله خوله کي د هغه خوند حس کړ.اويا اوښکي تيري کړي بيايې روژه ماته ده. دمخ دخولو همد اډول مسئله ده.که چيري د پزي(بيني) ويني ستوني ته ورسېدلې. روژه يې ماته ده.حتى بعضي کتابوکي راځي که چيري يې د يادو وينو په تيرولو سره خوند واخيست.نو بيا قضاء اوکفاره دواړه پرلازم دي.همدارنګه که چيري دروژاتي دغاښو څخه ويني راوتلې اودغه ويني وحلق(ستوني) ته ورسېدلې اويا ده خپله تيري کړې.اوس که چيري ناړي نسبت وينوته ډيري وې. روژه يې ماته نه ده.اماکه چيري ويني نسبت ناړو ته زياتي وي،نو بيا يې روژه ماته ده.اوکه چيري ويني اوناړي سره برابري وي.بيايې احتياطاً روژه ماته ده.خلاصه دا که ويني ډيري او يا برابري وي، په دې دواړو صورتو کي صرف قضاء پرلازمیږي کفاره نسته. (تاتارخانيه جـ۳صـ۳۸۳)

(چي کله رنګ سوی ټوکر په خوله کي ونيسي)

۱۲:دوولسمه مسئله :- که چيرې يو انسان د وريښمينو يا دعادي ټوکرانو کار کویٔ. چي هغه رنګ سوي وه.اوس دغهدروژاتي انسان دغه رنګ سوی ټوکر په خوله کي ونيو. اوپه خوله کي يې ناړي درنګ په وجه هغه رنګ واخيست .اودغه رنګ سوي ناړي يې تيري کړې ،چي روژه يې هم په ياد وه .ددغه فعل

کوونکي سږي روژه ماته ده.خوکه چیرې یوانسان داسي شی په خوله کي ونیسي . چي هغه نه خوړل کېده. او دغه شی ئې په هېره (نافکرۍ) کي تېر کړ.په دې صورت کي یې روژه ماته نه ده .(تاتارخانیه جـ۳صـ۳۸۴)

(که چیري کافر په دارالحرب کي ایمان راوړي)

۱۳:دیارلسمه مسئله :- که چیري یوکافر دکفارو په مملکت کي ایمان راوړ.دروژې د تېریدو وروسته دروژې په فرضیت خبرسو قضاء ورباندي نسته.اما که یې د مسلمانو په مملکت کي ایمان راوړ، بیاقضاء ورباندي لازمه ده که یې په فرضیت خبر وي او که نه وي.(هندية جـ۱صـ۲۱۴)

(په روژه کي په لاس سره ځان انزالول)

۱۴:څوارلسمه مسئله:- سوال که چیرې یو انسان په روژه مبارکه کي په لاس سره ځان انزال کړي آیا صرف قضاء پرلازمیږي اوکه کفاره هم پرلازمیږي؟

والجواب: که چیري یو انسان په روژه مبارکه کي په لاس سره ځان انزال کړي.پر هغه اصح او مفتی به قول ئې روژه ماته ده صرف یوه قضاء پرلازمیږي.(ردالمحتار جـ۲صـ۱۱۸) خو دا کړنه چي روژه په خرابه کړي ډېره غټه ګناه ده،اوهمدغه فعل بغیر دروژې که یې دشهوت پوره کېدو په خاطر کوی.مطلقا داکار حرام دي.ولي چي په دې اړه دسورة المؤمنون یو آیت راځي چي دا تجاوزدۍ.اوحدیث شریف کي هم راځي چی ورځ کي دقیامت به دغه کسان راپورته سي چي لاسون به یي حمل داره وي. او ډیر درد به کوي.اوپه بل حدیث شریف کي پرهمدغه کسانو لعنت ویل سویدی. اما که یې دغه کړنه په دې وجه کول چي دزنا اولواطت څخه راوګرځي بیا امید سته چي کومه ګناه به نه وي.

(په روژه کي وینه کښل)

۱۵:پنځلسمه مسئله: - په روژه کي وینه کښل روژه نه ماتوي البته که دغه روژاتي شخص وینوکښلو کمزورۍ کوئ .بیا د وینوکښل ورته مکروه دي.

سوال تاسو ویل چي په روژه کي وینه کښل روژه نه ماتوي.اوحال دا چي موږ اورېدلي دي چي حدیث شریف کي راځي کله چي پېغمبر«ع» یو شخص ولیدۍ چي وینه یې کښل نو داسي یې وفرمایي (افطر الحاجم والمحجوم)

ترجمه:وینه کښونکي اوهغه چي وینه یې کښل کیږي دواړو روژې ماتي کړې.

آیا همداسي ده د دواړو روژې ماتي دي لکه څرنګه چي دحدیث شریف ظاهر هم پر دې دلالت کوي. اوکه یې روژې نه دي ماتي.

که نه وي ماتي نو ددغه ذکر سوي حديث تأويل څه دی.بَيِّنُوا تُوجَروا
والجواب بعون الله تعالی:محديثين کرام فرمايي چي همدغه مخکنی حديث پرخپل ظاهر نه دی پاته بلکي دهغه تأويل دادی: چي دروژې ماتولو ته نږدې سوه کېداسي چي دوينو کښونکي څخه دي وينه تيره کړه سي. ولي چي په هم هغه زمانه کي وينه په ښکر يعني ديو کوچني پېپ غوندي شي سره کښل کېده.
اوهغه شخص کوم چي وينه ورڅخه کښل کيږي کيدای سي چي کمزوري دي سي.روژه دي ماته کړي.

(دپړي ويني چي تيري کړه سي)

۱۶: شپاړسمه مسئله که چيري ديو روژاتي پړه ويني سي ،او وينه هم ورڅخه تېره کړل سي ، روژه يې په ماته ده ، صرف قضاء به راګرځوي.کفاره ورباندي نسته.(احسن الفتاوی جـ۴صـ۲۳)

(په شکمن وخت کي خوراک کول)

۱۷:مسئله :- که چيري انسان دسپېدو په راختلواو يا د لمر په لوېدلو کي شکمن وي خوراک کول ورته مکروه دي.اوکه يې غالبه ګومان دسپېدو دراختلو يا د لمر لوېدلو ؤ بيا خورا کول ورته ناجائز(ناروا) دي اوکه يې خوراک وکړ روژه يې ماته ده.

(دمسواک وهلو په تړاو)

۱۸ مسئله:- په روژه کي دمسواک په وهلو کي هيڅ ستونزه نسته. که د ورځي په اول کي وي. او که په آخير کي.همدارنګه که چيري دمسواک په وهلو کي دمسواک يوه ريښه تېره سي اودنخود تراندازه کمه وي هم يې روژه ماته نه ده.ځکه ددې څخه ځان ساتل ناممکن دي.البته که دغه ريښه دنخود اندازه وي بيا يې روژه ماته ده.والله اعلم

(دښځو د مياشتنی ناروغۍ په تړاو)

۱۹: مسئله:- که چيرې په روژه کي يوې ښځي ته د ورځي په منځ کي خپله مياشتانه ناروغي يعني حيض او يانفاس پېښ سو. د ورځي په جريان کي خوراک او څښاک ورته رواه دی، خو البته خوراک اوڅښاک به د نورو روژاتيانوپه حضور کي نه کوي.اوکه چيري زنانه د خپلي مياشتانه ناروغۍ څخه دورځي په جريان کي پاکه سي.او ياهم کوچنی بالغ کړه سي.يا کافر ايمان راوړ، بيا خوراک کول ورته ناجائز دي.

(په روژه کي حيض په ستن لګولو دوا خوړلو سره دفعه کول او روژه نيول)

پوښتنه:. څه فرمايي فقهاء کرام په دې مسئله کي چي يوه زنانه دخپلي مياشتنۍ مريضۍ «حيض» بندېدو لپاره يو قسم ستن «پېچکارۍ» ولګوي او يا يوقسم دوا وخوري چي همدغه مريضي يې دفعه سي. اوس چي کله يې دغه مريضي دهمدغه داوا په زريعه بنده وي آيا همدغه ښځه پاک بلل کيږي خپلي روژې ونيسي او لمنځونه ادا کړي او که پاکه نه ګرځي.

(والجواب بعون الله تعالى)

په صورت مسئوله کي به دومره ووايو چي دزنانه مريضي «حيض» دوينو تر ليدولو پوري تعلق لري. داچي د دوا داستعمال په وجه يې وينه نه ده ليدلې نو ځکه دا حائضه نه ده خپل لمنځونه به ادا کوي او روژې به نيسي.

لما قال علامة حصكفي «رح» ووقت ثبوته بالبروز، فيه تترك الصلاة ولو مبتدأة في الأصح قال ابن عابدين «رح» تحت قوله (قوله بالبروز) أي بوجود الركن على ما بينا (قوله فيه) أي فبالبروز تترك الصلاة وتثبت بقية الأحكام، ولكن هذا ما دام مستمرا لما سيأتي من أنه لو انقطع لدون أقله تتوضأ وتصلي إلخ...:ردرمختار مع ردالمحتار جـ١صـ ٢٠٨ لا يثبت حكم كل منها إلا بخروج الدم وظهوره وهذا هو ظاهر مذهب أصحابنا وعليه عامة مشايخنا وعليه الفتوى. هكذا في المحيط فتاوى هنديه جـ١ صـ٣٨ ايضاً فتاوى تاتارخانيه جـ١ صـ٤٧٢ ايضا فتوى حقانيه جـ٢صـ٣٢٦ ايضاً فتاوى فريديه جـ٢ صـ١٠٨

(که چيري يوځای مياشت ليدل سوي وي اوبل ځای نه)

٢٠:مسئله :- که چيري يوځای مياشت ليدل سوې وي، اوبل ځای نه وي ليدل سوې.دمثال په ډول په په يوه ولايت کي وليدل سوه ، اوپه بل ولايت کي ونه ليدل سوه.پرټولو روژه فرض ده ، ولي چي اختلاف دمطالعو معتبر نه دی. آن تردې که چيري په ختيځ(شرق) کي مياشت وليدل سي اوپه غرب(لوېديځ) کي ونه ليدل سي.بياهم د غرب (لوېديځ)پر اوسېدونکو روژه فرض ده. (هنديه جـ١صـ١٩٨)

(په استنجاء اوخوله پريولولو کي مبالغه کول)

۲۱:مسئله :ـ په روژه کي په استنجاء اوخوله پرېولولو کي مبالغه(کوشش)کول همدارنګه په اوبوکي باد پرېکول مکروه دي. (فتاوی هندیه جـ۱صـ۱۹۹).همدا رنګه که چیري د روژاتي دغټ اودس مات ځای ته اوبه داخلي کړه سي.روژه یې ماته ده، صرف قضاء به یې راګرځوي.ځکه داهم دحقنې(ایمالې) حکم لري. (وحکمها مامر)

(دشک روژې په اړه خلاصه خبر)

۲۲:دوویشتمه مسئله:ـ د شک د ورځی روژه نیول مکروه ده مګر هغه چاته مکروه نه ده؛ چي د برات میاشتي نیولې وي. یایې په هره میاشت دیوې ورځي روژه نیول عادت وه هغه دهمدې شکمني ورځي سره برابره سوه. اویایې د برات د میاشتي وروستۍ درې ورځي روژې نیولې وي، نودغه شخص ته هم دغه روژه نیول مکروه نه ده.اوکه چیري یې دغه روژې نه وې نیولي بیا دخواصو لپاره همدغه دشک دورځي روژه نفلي ګرځول کیږي.اوعوام به ترزوال تر مودې پوري انتظار کوي. که چیري بیا روژه سوه،نو روژه دې ونیسي اوکه نه سوه بیا دې وخوري . نفلي روژه ددوی یعني عوامو لپاره مکروه ده.
(فتاوی هندیه جـ۱صـ۲۰۰)

(د روژې علم«آګاهي» نیت نه دی)

۲۳:درویشتمه مسئله:ـ که چیري یو انسان په دې خبر ؤ، چي سبا د روژې ورځ ده. خو نه یې دماتولو او نه یی د نیولو نیت وکړ . دا نیت نه بلل کیږي اوپه دې سره یې روژه صحیح نه ده .

(سترګوته دوا اچول)

۲۴:څلورویشتمه:مسئله:ـکه چیري روژاتي خپلو سترګوته دوا واچوله، او دهغې دوا اثر یې په حلق(ستوني) کي پېدا کړ. روژه یې ماته نه ده ، ځکه دا داخل من المسام دی.

(په تار باندي ستوني ته یوشی داخلول اوبیرته راکښل)

۲۵:مسئله :ـ که چیري روژاتي دانګور یابل شي دانه په تار وتړله اوتر حلق یې تېره کړه بیرته یې راکش کړه.اوس که چیري دهغې داني خوند په ستوني کي محسوس نه کړ.او دانه هم روغه وي. نویې روژه ماته نه ده .اوکه یې خوند محسوس کړ یاهغه دانه ماته سوه، بیایې روژه ماته ده.

(سګریټ یاچلم څکول)

۲۶:مسئله.:۔ که چیري روژاتي سگریټ یاچلم وڅکوئ. روژه یې ماته ده، صرف قضاء پرلازمه ده کفاره ورباندي نسته:که چیري یوانسان ته سوال پیداسي چي مخکي تاسو وویل چي وستوني د دود داخلېدل روژه نه ماتوي.جواب هغه په هغه صورت کي چي غیري قصدي وي اما که چیري قصداً وي بیاروژه په ماتیږي.

(دغنمو دغلبېلولو په مهال ګرز«دوړو» اویا مچ ستوني ته لوېدل)

۲۷:مسئله :۔ که چیري یوانسان دغنموکارو و بار کسب کوئ، اود غنمو دوړه(ګرز) یې حلق (ستوني) ته ورسېد. روژه یې ماته نه ده للضروة:. همدارنګه که مچ ، غوماشه ، کیخه او یا ورته ژوندئ څیز بې اختیاره ستوني ته ولویږي ،روژه یې ماته نه ده.

(غوږ ته اوباه یا دوا اچول)

۲۸:مسئله :۔ که چیري دیو روژاتي په غوږ اوبه ننوتلې. روژه یې ماته نه ده.البته که چیري دوا یاروغن ورته واچوي.اودماغ ته ورسیږي په دې صورت کي یې روژه ماته ده.

(په پزه اوبه کشول اودماغ ته رسېدل)

۲۹:مسئله :۔ که چیري یو روژاتي په پزه اوبه کش کړي،او هغه اوبه دماغ ته ورسیږي، روژه یې ماته ده.

(شخ الفاني څه وخت دروژې فدیه ورکولای سي)

۳۰:مسئله :۔ شیخ الفاني هم دروژې په سرکي اوهم دروژې په پای کي دټولو ورځو فدیه پریوه ځای ورکولای سي.البته په دې شرط چي دغه عجز اوضعف به یې ترمرګ پوري جاري پاته وي.اوکه یې عجز اوضعف دفعه سو بیا به یې قضاء راګرځوي که څه هم کفاره یې ورکړې وي.

(که مسافر یا ناروغ مړسي،دروژو قضاء به یې څنګه کیږي؟)

۳۰:مسئله :۔ که چیري مسافر په مسافري کي اومریض په مریضي کي مړسي دروژو فدیه یې نسته اونه هم وصیت باندي لازم دی.البته که څه موده ناروغ جوړ اومسافر مقیم سو، ورسته بیا وفات سو. بیا نود هغو ورځو قضاء باندي لازمه ده.اوکه یې قضاء نه راوړه بیابه وصیت کوي اوقریبان به یې هغه فدیه ورکوي که یې مال پاته وو.اوکه یې وصیت نه وکړ. نو پرکورنۍ او دوستانو یې

فدیه ورکول لازم نه دي . البته که یې فدیه ورکړه، دا د خپل دوست او قریب سره د دوی خپله نېکي اوښېګڼې ده.

(هغه روژې چي پرله پسې والی پکښي شرط اوهغه چي پکښي شرط نه دی.)
۳۱:مسئله :- ټولي فرضي روژې پر دیارلس «۱۳» قسمه دي.
اووه« ۷ »قسمه هغه دي. چي تتابع پرله پسې والی پکښي شرط دی.هغه لکه:
۱لومړی:- درمضان دمیاشتي روژه ،۲ دوهم:- کفاره دقتل،۳ درېیم:- کفاره دظهار،۴ څلورم:- کفاره دیمین،۵ پیځم :- د فرضي روژې دمیاشتي روژه.
۶ شپږم:- کفاره دنذر معین.۷ اووم:- دقسم دکفارې روژه.
اوشپږ«۶» قسمه هغه روژې دي، چي پرله پسې والی پکښي شرط نه دی.
۱:لومړی:- دروژې قضاء راوړل،۲:دوهم:- دمتعې یعني دحج تمتع روژې.۳:درېیم :- په حج کي دسرخرېیلو دکفارې روژه ۴:څلورم :- په حج کي دښکار کولو دجزاء روژې.۵:پینځم :- دنذر مطلق روژه.۶:شپږم:- د قسم آخیستلو روژې هغه لکه داسي چي ووایي« والله یوه میاشت به روژه نیسم.»

(په روژه کي دخپلي ښځي سره بازۍ کول اوانزالېدل)
۳۲ :مسئله که چیري یو روژاتي مطمئن «باورمند» وي چي جماع نه ورڅخه کیږي اونه ځان ورڅخه انزالیږي.په دې صورت کي دخپلي ښځي سره بازۍ کول مکروه نه دي.
اوکه چیري مطمئن (باورمند» نه وي بیا دخپلي ښځي سره بازۍ کول مکروه دي. اوکه بیا هم په بازۍ کولو کي بېله دخوله انزال سي روژه یې ماته ده صرف قضاء به یې راګرځوي کفاره ورباندي نسته.خودداسي کار څخه اجتناب پکاردئ

(کوم شخص چي همېشه مریض وي)
۳۳:مسئله کوم څوک چي دائمي مریض وي . دجوړتیا امکان یې نه وي.
مریضي یې دومره وي چي روژه خوړل ورته روا وي. دغه شخص هم دشیخ فاني په حکم کي دئ.یعني روژې دي وخوري.او فدیه دي ورکړي.
دمثال په ډول یو شخص دپښتورګي مرضي لري. اوس که چیري اوبه ونه چښي دده دمریضۍ دزیاتوب یا دهلاکت سبب ګرځي. اویا دې ته ورته بل ډول مرضي لري. اوس که چیري همدغه نوموړې مرضي همیشه همیشه وي. او په هیڅ

ډول تداوي سره يې علاج نه کيدئ.نو دغه نوموړئ شخص دشيخ فاني په حکم کي دئ.يعني روژې دي خوري اوفديه دې ورکوي.
البته که چيري همدغه مريضي څه موده وي.او ډاکترانو هم دجوړتيا ډاډ ورکړئ وي. نو همدغه نوموړئ شخص دي روژه وخوري.فديه دي نه ورکوي.ځکه فديه ورکول ورته روا نه دي.او چي هرکله جوړسي بيا دې قضاء راوړي.

(کوم سپين ږرئ چي دګرمی په وجه روژه نه سي نيولای)

۳۴:مسئله که چيري يو داسي سپن ږرئ يا سپين سره چي دزياتي ګرمئ په وجه روژه نه سي نيولای.اوپه يخني يا ژمي کي يې نيولای سي. ددوئ حکم دشيخ الفاني نه دئ چي روژه وخوري او فديه يې ورکړي.بلکي دوئ به روژې خوري او په ژمي کي به يې قضاء راوړي. «المسوعة الفقهية الکويتة جـ ۲۸صـ۵۵»

«په روژه کي دسهار جماعت وختي کول»

څه فرمايي فقهاء کرام ددې مسئلې په اړه چي په روژه کي بعضي امامان دسهار جماعت وختي «په تياره» کي کوي آيا دغه عمل خو به دحنفي فقهي ددې مسئلې مخالف نه وي چي مستحبه طريقه داده چي په رڼا کي دسهار لمونځ ادا سي؟

والجواب بعون الله تعالی په دې مسئله کي به دومره ووايو چي زموږ احنافو فقهاء کرامو دسهار دجماعت لپاره اسفار يعني په رنا کي اداکول مستحب بللئ دي. ځکه علت يې دجماعت کثرت«ډيروالي» دئ. خو داچي په روژه کي پيشلمئ دشپې په آخير کي کيږي. اوس که خلک تر پيشلمي وروسته ويده کيدل او جماعت لږ کيدئ نو ځکه دجماعت د کثرت «ډيروالي» لپاره دسهار په اول وخت جماعت بهتره دئ. لکه څرنګه چي دديوبند دمتقدمينو علماؤ همدغه عمل وو.
عن انس بن مالک «رض» عن زيد بن ثابت «رض» قال تسحرنا مع النبي «ص» ثم قمنا الی الصلوة قال قلت کم کان قدر ذالک قال قدر خمسين آية «رواه الترميذي/ رقم حديث۷۰۳» ودل تغليسه «ص» بالفجر في شهر رمضان وعليه تعامل اهل العلم من مشائخنا بديوبند(معارف السنن جـ۵صـ۳۱۲)
وحديث صديق عن بلال رضی الله تعالی عنهما ان النبی «ص» قال نور بالفجر او قال اصبحو بالصبح يبارک لکم» ولان فی الاسفار تکثير الجماعة وفي التغليس تقليلها وما يؤدي الی تکثيرالجماعة فهو افضل(المبسوط سرخسي جـ۱صـ۱۴۶ طبع بيروت)

ولعل هذالتغليس كان فى رمضان خاصة وهكذا ينبغي عندنا اذا اجتمع الناس وعليه العمل في دارالعلوم بديوبند من عهدالاكابر(فيض الباري جـ۲صـ۱۳۶) ايضاً: المتين فى الفقه الحنفي جـ۱صـ۸۰ :ايضاً مراقى الفلاح صـ۷۰ :ايضاً فتاوى محموديه جـ۵صـ ۳۲۸ :فتاوى عثماني جـ۱صـ۳۶۳

(ديو اعتراض دفعه)

بعضي عوام يو اعتراض كوي هغه داچي دوى وايي هغه علماء چي په روژه كي وختي جماعتونه كوي دهغو مقتديان ټول تر لمانځه وروسته ځي څابښتي خوب كوي . او حال دا چي دغه خوب مكروه هم دئ . دا خو همدغه ملايان په ګناه كي ورسره شريک دي.

والجواب بعون الله تعالى. ددې دوه جوابه دي يو داچي اول امام دجماعت دكثرت مسئوله دئ نه دخلګو دخوب كولو اونه كولو البته خپله زمه به اداكوي ورته وايي به چي همدغه خوب ښه نه دئ، نور دوئ اوخپل آخيرت.. ۲ دوهم جواب دادئ هغه كسان چي څابښتي خوب كوي هغه دجماعت په ناوخته كولو سره هم نه را ګرځي ځكه چي ناوخته هم جماعت اداسي بياهم تقريبا ۳۰ يا ۲۵ دقيقي وخت ولمر راختلو ته پاته وي هغه كسان په همدغه وخت كي هم ځي بيديږي. ناوخته جماعت دهغو كسانو دخوب لپاره هم زيات مانع نه ګرځي.

(داعتكاف تعريف او فضائل)

اعتكاف د افتعال دباب د مصدرصغه ده. اواعتكاف مأخوذ دعكف څخه دى.

د اعتكاف لغوي معنى:- اعتكاف په لغت كي عبارت دى دحبس(بندولو) دنفس دعادي تصروفاتوڅخه.

د اعتكاف اصطلاحي معنى:- اوپه اصطلاح كي اعتكاف وايي ولبث يعني څنډ كولو يا وخت تېرولوته په مسجد كي په خاص صفت سره.سره دنيت كولو داعتكاف(الموسوعة الفقهية الكويتية جـ۵صـ۲۰۶)

فضيلت:- داعتكاف فضيلتونه ډير زيات دي. صرف د نمونې په ډول دلته يوڅه درته ليكو.

داعتكاف دفضيلت په اړه يوډېر اوږد حديث شريف راځي. چي په لنډ ډول دنوموړي حديث ژباړه په خلاصه توګه درته بيانوو.

حضرت عبدالله بن عباس «رض » د پېغمبر«ع » په مسجد نبوي كي معتكف وو.يوسړي تشريف راوړ، سلام يې ووايه. اوپټه خوله كښېنستى .عبدالله بن

عباس «رض» ورته وويله: اې سړيه! زه تا زهير اوغمجن وينم.سړي وويل: هو.
اې دپېغمبر «ع » د كاكا زو ماته يو سړي حق په قرض راكړى دى، زما دې په خاوند ددغه قبر قسم وي. كه به يې د ادائينې وس او توان لرم.دا د پېغمبر«ع » قبرشريف وو.عبدالله بن عباس رض ورته فرمايي: زه به ستاسو په باره كي ورته سپارښتنه وكړم.سړي ورته وويل: چي څنګه يې ته مناسب بولې هغسي وكړه. ابن عباس «رض» هم خپلي څپلۍ په پښه كړې اودمسجد څخه بيرون ولاړ.سړى ورته ويل : چي هغه اعتكاف درڅخه هيرسو.
ابن عباس رض ورته وايي: يا هېرمي ندى.بلكي ما د دغه قبر د خاوند(پېغمبر«ص») څخه اورېدلي دي. چي ډېره وخت يې هم نه كيږي.نود ابن عباس رض ترسترګو اوښكي توى سوې. اودا يې وويل: چي پېغمبر«ع» وفرمايل :هغه څوك چي ديو مسلمان ورور په محتاجۍ كي ولاړ سي.او زياته هڅه پكښې وكړي . دا د نوموړي لپاره دلسو«١٠» كلنو ترعبادت هم غوره دى.اوڅوك چي يوه ورځ دالله «ج» درضاء لپاره اعتكاف وكړي.الله ج به دنوموړي او د دوږخ ترمنځ درې«٣» خندقه فاصله وګرځوي. چي دهر خندق اندازه دمځكي څخه بيا تراسمانه پوري ده.(رواه طبراني فى الاوسط وبيهقي في فضائل رمضان)
اوعلامه شعراني رح په كشف الغمه كي دپېغمبر«ع» يوقول رانقل كړيدى.څوك چي دروژې دمياشتي په وروستۍ لس«١٠» ورځو كي اعتكاف وكړي. دهغه شخص ثواب د دوو«٢» حجونو اودوو«٢» عمرو په اندازه دى. اوڅوك چي په هغه مسجد كي چي جماعت پكښې كيږي. دماښام څخه ترماخوستن پوري اعتكاف وكړي.چي دلمانځه اوتلاوت څخه بغير دبل چاسره خبري و نه كړي.الله «ج» به د دغه انسان لپاره په جنت كي يوه بنګله(كوټۍ) جوړه كړي.نو اې غافل انسانه! ته لږفكر وكړه چي ديوې ورځي يا د ماښام څخه بياتر ماخوستن پوري يې دومره فضيلت دى. نو دلسو«١٠» ورځو فضيلت به يې څومره وي.اوبل د اعتكاف ښه والى دادى. چي په اعتكاف سره انسان بالكليه خپل ځان دالله «ج »عبادت ته دنږدېكت په وجه سپاري. خپل ځان اونفس د دنيا د مشغولتيا او ستونزو څخه ساتي. هغه مشغولتيا چي انسان دهغه څه ،څخه منع كوي . په هغه سره دالله «ج »نږدېكت راځي.اوبل فضيلت يې دادى: چي انسان ټوله وخت په لمانځه سره تېره وي.كه حقيقتاً وي كه حكماً ځكه ديوه لمانځه څخه بل لمانځه ته انتظار كول هم حكماً لمونځ كول دي.اواعتكاف كونكى په اعتكاف كولو سره دهغه چاسره مشابهت «ورته والى» لري ،چي هغه دالله

«ج» نافرماني نه کوي. بلکي چي الله «ج» په هرڅه سره امرکړي دي هغه کوي.اودغه اعتکاف کونکی دهغه چاسره مشابه دی، چي هغه همیشه دالله «ج» ذکر کوي.اونه ستړی کیږي.اوهمدارنګه اعتکاف کونکی دالله «ج » مېلمه بلل کیږي.نودغه فضیلتونه هغه وخت دي، چي راتلونکو څوادابو ته يې متوجه سو..

(داعتکاف اقسام اوشرائط)

اعتکاف درې«۳» قسمه دی.

۱:لومړی واجب

۲: دوهم:- سنت،

۳:دریېم :- مستحب

واجب اعتکاف لکه:- منذور(نذرکړل سوی) مثلاً یوسړی ووايي: که چیرې زما دا پلانکی کار حاصل سو.پرما دومره ورځي اعتکاف فرض دئ.

سنت اعتکاف لکه:- دروژې دمیاشتي په وروستیو لسو« ۱۰» ورځو کي اعتکاف کول. ځکه بي بي عائشه رض حدیث شریف کي فرمايي: چي پیغمبر«ع» به دروژې دمیاشتي د وروستیو لسو ورځو اعتکاف کوئ. ترڅو چي الله «ج » وفات کړ.او کله چي پیغمبر«ع »وفات سو،بیا دده مبارک بي بي ګانو اعتکاف کاوه. زهري «رض» فرمايي: عجيبه ده ،چي دا خلګ ولي اعتکاف نه کوي . او حال داچي پیغمبر«ع » کله مدینې منورې ته راغی. بیايې د وفات ترمهاله نه دي پرې ایښی.

مستحب اعتکاف د دغو دوو«۲» اعتکافو څخه بغیر په نورو ورځوکي اعتکاف کولو ته وایی.

داعتکاف شرطونه:-

۱لومړی شرط :- نیت کول دي ، حتی که چیري یوانسان اعتکاف بې له نیت کوئ. اعتکاف يې په اتفاق سره دفقهاووصحیح نه دی.

۲:دوهم شرط :- د اعتکاف مسجد دی. په هرهغه مسجد کي اعتکاف صحيح کیږي. چي په هغه کي اذان او اقامت کیږي.هغه غوره اعتکاف دادی. چي په مسجدالحرام کي وسي،وروسته ترهغه چي په مسجد نبوي کي وسي..

وروسته ترهغه چي په بيت المقدس کي وسي.وروسته ترهغه چي په جامع مسجد کي وسي،وروسته ترهغه چي په هغه مسجد کي وسي چي دهغه مسجد اهل(مقتدیان)ډیر وي.اوښځه به دځپل دننه کور په مسجد کي اعتکاف کوي.

اوپه د باندې مسجدونوکي دې لره اعتکاف کول مکروه دی.اوس چي دغه ښځه دخپل دننه کور په مسجد کي اعتکاف کوي دغه ځای ددې په حق کي داسي دی. لکه دنارینه وو لپاره دجماعت مسجد دی .نو اوس به دغه ښځه د دغه مسجد څخه بې له حاجت انساني نه راوځي.اوکه يې په کور کي مسجد نه درلود. بيا دې په يوه خونه کي د اعتکاف کولو له پاره يو خاص ځای معلوم کړي.
۳:درېيم شرط :ـ د اعتکاف روژه نيول دي.اودغه شرط د واجب اعتکاف لپاره دی. نه دمستحب اعتکاف لپاره.
حتی که چيري يوانسان يومسجد ته د نفلي اعتکاف لپاره داخل سي.
ترهغوپوري چي راوځي. که څه هم روژه يې نه وي. اعتکاف يې صحيح دی.
۴:څلورم شرط : داعتکاف اسلام دی.
پينځم شرط:ـ داعتکاف عقل دی.
۶شپږم شرط:ـ داعتکاف پاکوالی دجنابت،حيض،اونفاس څخه دی.اسلام په دې وجه شرط دی.ولي چي اعتکاف عبادت دی.او کافر اهل دعبادت نه دی.
اوعقل پدې سبب شرط دی.په ولي چي لېوني اهل(خاوند) دنيت کولو نه دی.
جنوب،حائضه،اونفاسه خود مسجد څخه منع دي.په اعتکاف کي بلوغيت شرط ندی. بلکي هغه کوچنی چي په يوڅه پوهيږي. اعتکاف کولای سي.اوداعتکاف لپاره نارينه والی اوازاد والی هم شرط نه دی.بلکي ښځه دخاوند په اجازه بايد اعتکاف کولای سي. که يې خاوند درلود . او مريی هم د بادار په اجازه اعتکاف کولای سي.
مسئله:ـ که چيري يوې ښځي ته خپل خاوند يوځلي داعتکاف اجازه ورکړه، دوهم ځلي دغه ښځه داعتکاف څخه نه سي راګرځولاي،اوکه چيري مريی ته بادار يوځلي اجازه ورکړه دوهم ځلي يې راګرځولای سي،خوپه دې راګرځولو کي ګناهکاره دی.

(داعتکاف ادبونه)

داعتکاف ادبونه دادي: چي د ښوخبرو څخه بغير نوري خبري به نه کوي.اودا چي د روژې مبارکي وروستی لس«۱۰» ورځو کي به اعتکاف کوي. اوبل داچي د هغه غوره مسجد طلب به کوي، لومړی دمسجد حرام ، دوهم دمسجد نبوي، دربيم دجامع مسجد ، که هغوی ته يی لاسرسی نه کېده ، بيادي دخپل محل په مسجد کي اعتکاف وکړي.اوبل اداب دادی: چي دقران شريف تلاوت به کوي.يابه حديث شريف وايي ،يابه نور دعلم کتابونه مطالعه کوي.يابه درس کوي.يابه دپېغمبر«ع» او يا نورو پېغمبرانو سيرت ، د صاليحينو اخبار اوکتابونه مطالعه

کوي. اوکه چيري داسي خبري وکړي. چي شرعاً ګناه پکښې نه وي. بيا هيڅ ستونزه نسته. البته بيا هم ځان ورځخه ژغورل بهتره دئ.

(هغه شيان چي اعتکاف فاسد کوي)

هغه څه چي اعتکاف فاسد کوي .هغه دمسجد څخه بې عذره وتل دي.نو که چيري اعتکاف کونکی لږ وخت داعتکاف د ځای څخه بې له عذره ووځي.
که شپه وي اوکه ورځ . قصداً وي او که په هېره.اعتکاف يې فاسد دی.
همدارنګه اعتکاف کونکې ښځه به تر د هغه خوني څخه نه وځي چي دا اعتکاف پکښې کوي.

(هغه عذرونه چي اعتکاف کونکي ته رواده چي دمسجد څخه ووځي)

هغه عذرونه چي اعتکاف کونکي ته رواه دي.چي د اعتکاف د ځای څخه ووځي.
هغه لکه حاجت انساني او د جمعي لمانځه له پاره وتل.
مسئله:اعتکاف کونکي ته رواه ده ،چي د قضاء حاجت لپاره کورته ولاړسي خودومره خبره ده چي کله يې حاجت پوره کړ . سمدستي به راوځي.که يې لږ وخت هلته تېر کړ. اعتکاف يې فاسد دی
.مسئله:ـ که چيري ديوانسان دوه«۲» کورونه وه. چي يو مسجد ته نږدې وو ، اوبل ليري وو.اعتکاف کونکي به دقضاء حاجت لپاره ضرور همدغه نږدې کور ته ځي . که چيري هغه ليري کورته ولاړ.اعتکاف يې فاسد دی.
مسئله:ـ داعتکاف کونکي خوراک اوڅښاک به په مسجد کي وي.ولي چي ددې حاجت دپوره کولو امکان په مسجد کي سته.وتلوته هيڅ ضرورت نسته.
مسئله:که چيري اعتکاف کونکی دجمعي لمانځه ته ولاړ.اوجامعه ورته نږدې ؤ، نوضرور به د لمر ترزوال وروسته وځي. چي صرف دجمعي دلمانځه سنت ،خطبه، اود جمعي لمونځ ونيسي.اوکه جامعه ورڅخه ليري وه بيا دي دلمر زوال ته انتظار نه کوي. په هرڅومره موده کي چي ځان رسولای سي. هغه وخت دې ووځي. او وروسته هم ورته اجازه سته .چي هلته څلور ياشپږ رکعاته سنت وکړي.يادونه دجمعې دلمانځه وروسته چي کوم سنت دي. په هغوکي دفقهاؤ اختلاف دي. بعضي وايي: چي څلور رکعته دي. اوبعضي وايي: چي شپږ رکعاته نوځکه بعضي فقهاء فرمايي: چي ترلمانځه کولو وروسته هلته دشپږو رکعتونو د اداء کولو اجازه ورته سته، خو يوشمېر فقهاء بيا فرمايي چي څلور رکعته کيږي. نودوئ ورته دڅلورو رکعتو اجازه ورکوي.خو د احتياط خبره به داوي.

کله چې یې د جمعې لمونځ اداء کړ، سمدستي دې خپل داعتکاف مسجد ته راسي.
او همدغه سنت دي همدلته اداءکړي. ترڅو د اختلاف څخه ووځي.
مسئله:که چیرې اعتکاف کونکي ته د مسجد څخه د وتلو عذر«ستونزه» پېښه سو،د مثال په توګه مسجد ونړېد.اوهمدارنګه یو ظالم په زور اوجبر سره دهمدې مسجد څخه بیرون کړل.یا هم اعتکاف کوونکی پرخپل ځان او مال وډارېد.
نو اعتکاف کوونکي ته جواز سته، چي بل مسجد ته ولاړ سي.
مسئله :ـ که چیرې اعتکاف کونکی قضاء حاجت«رفع حاجت» ته ووت.بیا یوچا هم هلته دخپل پور مطالبه ورڅخه وکړه ،اوڅه وخت یې وځنډاوه.یا اعتکاف کونکی د ناروغ پوښتني ته ووت، او یا هم دجنازې تجهیز یا دجنازې لمانځه ته ووت، یا یوشخص د سوځېدو یا خرقېدو په حال کې ؤ.او اعتکاف کوونکی ور ووت.یا د جهاد لپاره بیرون سو، چي نفیر عام وو .یا دشاهدۍ د اداء کولو لپاره ووت په دې ټولو مواردو کي یې اعتکاف فاسد دی.
او په اعتکاف کي بله حرامه کړنه لکه:جماع یا دواعي(بلونکي) دجماعو دي .
دواعي لکه مچول«ښکول» غاړه په غاړه کیدل ،لمس کول اومباشرت
په اعتکاف کي جماع کول که په هېره وي، که په قصده وي،که د ورځي وي، که دشپې که انزال سي که نه اعتکاف فاسد کوي.او د واعي د جماعو هغه وخت اعتکاف فاسد کوي چي انزال سي.
مسئله: که چیري یو اعتکاف کونکي په فکر وهلو او یا کتلو انزال سو یاپه خوب کي احتلام ورته پېښ سو اعتکاف یې فاسد نه دی.
مسئله:که چیري اعتکاف کونکی په اعتکاف کي پټه خوله ؤ، داعتکاف کوونکي عقیده دا وه.چي چوپه خوله عبادت دی.دغه چوپ والی مکروه دی.
اما که یې داسې عقیده نه وه، بیا نوپه اعتکاف کې چوپ والی مکروه نه دی.
داچې په اعتکاف کې دې ته ورته ډېر نور مسائل شتون لري.
ځاي پر ځاي کول یې ددې کتاب د حجم څخه زیات دي.
نو په همدې وجه دلته پرهمدغ څو مسائلو اکتفاء کوو.
«اوس به دلوی څښتن تعالی په مرسته دلیلة القدر په اړه څه خبره وکړو»

(دلیلة القدرتعریف او فضلت)

لیلة القدر د دوو لفظو څخه مرکب(جوړ) دی. یو لفظ دلیلة دی اوبل لفظ دقدر دی. د لمر د لوېدو څخه بیا ترسپېدو راختلوپوري وخت ته لیلة وایی.اوقدر په

لغت کې شرف ، وقار اوعزت ته وائي،اوپه بله معنی سره دحکم اوقضاء یا د تضییق او اندازې په معنی سره هم راځي. ولې چې په دې شپه دهر انسان دراتلونکي امورو«چارو» اندازه ابښوول کیږي. هم دلته په معنی دتعظیم اود شرف دی.یعني داهغه شپه دعزت اود دقران شریف دنزول ده..

لیلة القدر چې موږ اوتاسو ورته شب قدر په عامیانه اصطلاح وایو. ډیر فضیلت اوثواب لري.چې الله «ج» يې په قران شریف کي دفضیلت په اړه مکمل سورت نازل کړیدی.هغه دا..

(اِنَا اَنْزَلْنَاهُ فِي لَیْلَةِ القَدْرِ (١) وَمَا اَدْرَاکَ مَالَیْلَةُ الْقْدرِ (٢) لَیْلَةُ الْقَدْرِخَیْرٌمِّنْ اَلْفِ شَهْر (٣) تَنَزَّلُ الْمَلَائِکَةُ وَالْرُوْحُ فِیْهَا بَاِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ کُلِّ اَمْر (۴) سَلَامٌ هِیَ حَتَّی مَطلَعِ الْفَجْرِ(۵)

ژباړه:بېشکه موږ قران شریف دشب قدر په شپه نازل کړیدی.اې پیغمبره تاته څه علم دی، چې لیلة القدر څه شي ده.دلیلة القدر شپه تر زرو« ١٠٠٠ »میاشتو هم بهتره ده.په دې شپه کي ملائکي اوجبرائیل «ع» د خپل رب«ج» په اجازه راکښته کیږي. هر امر او یا دخیر کار دځان سره راوړي.اوپه دې شپه کي ټولي ملائیکي پرمومنانو سلامونه وایي.ترڅوچي سپېدې راخیژي). نوددې سورت مبارک څخه معلومه سوه ،که څه هم قران شریف درمضان په میاشت کي نازل سویدی. خو درمضان په میاشت کي په داسي خاصه شپه کي نازل سویدی. چي تر زرو« ١٠٠٠» میاشتو بهتره شپه ده ،چي هغه دشب قدر شپه ده.اوپه تفسیر قرطبي کي دهمدغه سورت په تفسیر کي راځي. چي په دغه شپه دآسمانو اودسدرة المنتهی څخه ملائکي مځکي ته راکښته کیږي.دانسانانو پردوعاءګانو باندي ترسهاره پوري.آمین وایي . اودغه ملائکي اوجبرائیل ع په دغه شپه په رحمت اوپه هر امر سره چي الله ج اندزاه اوفیصله په دغه کال کي تر راتلونکي کاله پوري کړې وي. راکښته کیږي. حضرت علي او عروه «رضی الله تعالی عنهما» فرمایي: چي ددې سورت مبارک د نزول هدف داوو. چي پیغمبر«ع» دبني اسرائلو د څلورو کسانو قیصه کوله، چي داسې پرهیزګاره انسانان وه ، چي اتیا «٨٠» کاله یي دالله ج داسي عبادت وکړ.چي دسترګي د رپ په اندازه یې ګناه نه ده کړې. کله چي اصحاب کرامو دا واورېدله، ډیر تعجب یې وکړ. چي داسي پرهیزګاره انسانان وو ، اتیا«٨٠» کاله یي دالله ج داسي عبادت وکړ. چي دسترګي د رپ په اندازه یې ګناه نه ده کړې ، نو ددې کسانو به څومره لوړ مقام وي.نوپه دې وخت کي جبرائل «ع» راغلی .نبي «ع » ته یې وویل: چي ستا امت ددغو کسانو د وعبادت ته تعجب کوي، چي اتیا«٨٠» کاله یي داسي عبادت

وکړ،چې دسترګي د رب په اندازه یې ګناه نه ده کړې.نو الله «ج » پرتا باندي هغه بهتره عبادت نازل کړ، چي هغه د شب قدر شپه ده، چي ددې شپې عبادت تر زرو «۱۰۰۰» کالو عبادت هم بهتره دی.چي« ۸۳» درې اتیا کاله او«۳» درې میاشتي کیږي. سبحان الله دالله «ج» ترمهربانی قربان سم چي پر دې امت یې کړې ده.بني اسرائلو به «۸۰ » اتیا کاله عبادت وکړ، خو چي کله موږ اوتاسو په دغه یوه شپه کي عبادت وکړو. ددوی ترعبادت ډیریږي، درې اتیا «۸۳ » کاله اودرې میاشتي کیږي.اوپه یو بل حدیث شریف کي راځي، چي د شب قدر په شپه جبرائیل «ع» د ملائیکو په یوه ټولۍ کي راکښته کیږي اوپر هرهغه چا باندې سلام وایي ،د مغفرت دوعاء ورته کوي ،چي هغه ولاړاو یاناست وي، او یاهم ذکر کوي.

اوپه بل حدیث شریف کي پېغمبرع فرمایي: (من قام لیلة القدر ایماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه)

ترجمه:هغه څوک چي د شب قدر شپه په عبادت ، ایمانداری او د الله«ج» د ثواب په حاصلولو سره قائمه کړي نو الله «ج » به ددغه عبادت کوونکي ټول مخکني ګناهونه ور وبخښي.

(دلیلة القدر دشپې حکم اوداشپه څه وخت ده)

ټولوفقهاء متفق دي، چي دغه شپه په عبادت سره قائمول(روښول) مستحب ده.ځکه احادیثو کي راځي، چي پېغمبر«ع» به دروژې مبارکي دغه وروستۍ لس شپې قائمولې.اوبل حدیث شریف کي راځي، چي پېغمبر«ع » به خپله هم دغه شپې په عبادت سره قائمولې اوپه دغه شپوکي به یې خپله کورنۍ هم د الله«ج» عبادت ته هڅوله. او ده مبارک به دعبادت لپاره ملا وتړله .

یادونه: دلیلة القدر شپه په لمونځ،تلاوت،ذکر،اودوعاء کولو اونورو دخیر په کارو سره لمانځل کیږي.او په خاصه توګه دغه دوعاء به زیاته ویل کیږي.

(اَللهُمَ اِنَّکِ عَفُوٌکَرِیْمٌ تُحِبُ الْعَفْوَ فَاَعْفُ عَنِي) ځکه بي بي عائشه رض فرمایي: چي ما پېغمبر«ع» ته وفرمایل: که چیرې زه پوه سوم .چي دغه شپه دشب قدر ده زه کومه دوعاء وکړم. نو ده مبارک راته وویل: چي دغه دوعاء زیاته وایه.اوجمهورفقهاء کرام لیکي: چی دا شپه خاص د پېغامبر«ع» امت ته ورکړل سوې ده. نورو امتو لره داشپه نه وه.دادې امت خصوصیت دی.نو جمهور فقهاء فرمایي: چي داشپه ترقیامته پوري باقی ده.

سوال:ـ د شب قدرشپه کومه شپه ده.؟

جواب.:- ددې شپې په اړه يوحديث شريف راځی. هغه داچې کله پېغمبر«ع» راووت. خلک په مجلس کولو مصروف وه.نو ده مبارک ورته وويل: چي زما اراده وه،چي دغه شپه دروښيم. خو زه پر دې وبېريدم .چي تاسو به صرف پرهمدغه شپه اعتماد کوئ نوري شپې به بيا عبادت نه کوئ.ممکن د قدر د شپې نه معلومول به، ستاسو لپاره خير وي. نو تاسو دغه شپه په وروستيو لس طاقو شپوکي طلب کړئ. خو د فقهاء کرامو هم په دې اړه ډېر اقوال سته، خود احنافومذهب دادی: چي دا شپه دروژې مبارکي په مياشت کي ده.دليل يې هغه مخکنی سورت مبارک دی. اوپه دې مياشت کي بيا په دې آخيرو لس شپوکي او په خاص توګه په طاق شپو کي لکه :٢١،٢٣,٢٥،٢٧،٢٩ ، يوه شپه ده.خوپه دې شپوکي بيا ډېر اقوال سته.چي هغه به اوس درته وليکو انشاء الله

(دامام ابوالحسن العراقي ددې شپې په اړه يو قانون)

امام ابوالحسن العراقي په خپل لمعة النورکتاب کي يوقانون ليکي.هغه داکه چيري دروژې وروستۍ ورځ يک شنبه کېدل نو دشب قدر شپه د نهه ويشتم٢٩ په شپه ده.اوکه دروژې وروستۍ ورځ د دوشنبې ورځ کيدل، نو د شب قدرشپه ديو ويشتم٢١په شپه ده.او که دروژې وروستۍ ورځ د سه شنبې ورځ کېدل. نو د شب قدر شپه داووه ويشتم «٢٧» په شپه ده.او که د روژې آخيري ورځ دچهار شنبې ورځ کېدل ، نود شب قدر شپه دنهه ويشتم «٢٩»په شپه ده.اوکه دروژې آخيري ورځ دپنج شنبې ورځ کېدل نودشب قدر شپه دپينځه ويشت«٢٥»په شپه ده.اوکه د روژې آخيري ورځ دجمعې ورځ کيدل ، بيا دشب قدر شپه د اووه ويشتم٢٧په شپه ده.او که دروژې آخيري ورځ دشنبې ورځ کېدل نوبيا دشب قدر شپه د درويشتم٢٣ په شپه ده.خوامام طحاوي« رح » فرمايي:

چي ډيرو فقهاء دې ته تک کړيدی.چي دغه شپه داووه ويشتم٢٧شپه ده.

او دغه قول دعبدالله ابن عباس «رض »

او د نورو ډيرو اصحاب کرامو قول دی.

(عبيد بن عمران رض په دې اړه څه فرمايي)

عبيد بن عمران «رض» فرمايي: چي د اووه ويشتم «٢٧»په شپه دقلزوم ددرياب پرغاړه ناست وم . په لاس کي مي اوبه ددې درياب څخه راپورته کړې.

چي کله مي اوبه وچيښلې تر عسلو هم خوږې وې.نودى مبارک فرمايي: چي په ډير تعجب کولوسره حضرت عثمان «رض» پر طرف ومدينې منوري ته راغلم.
کله چي مي واقعه ټوله ورته بيان کړه.ده مبارک راته وويل: چي واوره اى عبيده ! دا هغه دليلة القد ساعت وو.نو ددې څخه هم دامعلومه سو، چي د«۲۷» په شپه يې زيات امکان سته.

(امام اعظم رح په دې اړه څه فرمايي)

او زموږ اوستاسو امام: امام الأئمه امام اعظم ابي حنيفه(رح)فرمايې.اى مؤمنانو! ددې شپې په تعين کي ډير اختلاف دى.خو زه د الله «ج» په فضل سره داسي وايم، تاسو ټوله دزړه په غوږو سره غوږ ورته ونيسئ.هغه داچي دغه شپه ضرور د اووه ويشتم۲۷ شپه ده. ځکه الله «ج» خپله په قران شريف ورته اشاره کړې ده.هغه داچي الله ج په دغه سورت القدر کي درې۳ځلي د(ليلة القدر) لفظ ذکر کړيدى.اوددې لفظ حروف نهه ۹ داني کيږي.لومړى حرف(لام) دوهم حرف(يا)درېيم حرف بيا(لام)څلورم حرف(تا)پنځم حرف(الف)شپږم حرف بيا(لام) اووم حرف(قاف) اتم حرف(دال) نهم حرف (را)نودغه د(ليلة القدر) لفظ هم درې ځله په همدې سورت کي ذکر دى.نوځکه درې«۳» نهه۹ اووه ويشت۲۷کيږي.
امام صاحب مبارک فرمايي: دغه شپه داووه ويشتم۲۷شپه ده.اوبيا دى مبارک فرمايي چا که دغه شپه ترسهاره پوري دالله ج په ذکر ويښه کړه. الله «ج» به خپل ديدار ورکړي. اوپه خاص توګه په دغه شپوکي دصلاة تسبيح لمونځ کول ډېر ثواب لري، چي وروسته به يې دالله ج په توفيق ذکر کړو.

(دليلة القدر بعضي علامي)

ددې شپې دپېژندلو لپاره په بعضو کتابونو کي څه علامي ليکل سوي دي. هغه دا ۱:اول :ـ دغه شپه به زياته توره وي:۲دوهم:ـ په دغه شپه کي به څه خوپ ګرز وي:۳درېيم:ـ دغه شپه به نه زياته ګرمه اونه يخه وي ترڅو چي
دسبا ورځي لمر راپورته کيږي:
څلورم :ـ کله چې په سبا ورځ کي لمر راپورته سي.
دلمر شعا وي کمزوري وي.

(دصلاة التسبيح دلمانځه فضليت اوطريقه)

معلومه خبره ده چي دروژې په مياشت کي نفلي عبادت دفرضو سره په فضيلت کي برابر دئ.اوزموږ ډيرمسلمان ورونه هم په دې مياشت کي زيات کوشش

کوي.نوځکه همدلته دصلاة التسبيح دلمانځه فضائل اوطريقه ليکم کڅه هم علماء کرام ددې لمانځه طريقه ډېره ډېره بيانه وي خو دانسان دذهن څخه وځي نو وجه داده چي دلته يې ليکو.ددې لمانځه په فضلت کي يواوږد حديث شريف راځي چي داختصار په وجه ترالفاظو تيرېږو صرف معنى يې راوړو هغه دا.عبدالله ابن عباس رض يو حديث شريف رانقل کوي. چي پېغمبر«ع»
وعباس بن عبد المطلب«رح» ته وويل. اې عباسه اې اکاه آيا زه تاته در نه کړم ، آيا زه و تاته نه وبخښم ،آيازه تا نه کړم خبر، آيا زه په تاباندې لس۱۰ کارونه ونه کړم. (دغه ټوله الفاظ پر دې دلالت کوي. چي دا يوعظيم شی دئ) نوپېغبمر«ع» ورته فرمايي. کوم شی چي زه تاته دربنيم داداسي کار دئ که يې چيري ته وکړې. الله ج به ستا ټول ګناهونه در وبخښي. هغه که اولني ګناهونه وي. اوکه آخيرني،هغه که په خطاء سره وي که په قصد سره. هغه که کوچني ګناهونه وي، که غټ اوهغه که ښکاره ګناهونه وي که پټ،نوهغه کار داچي ته دغه څلور رکعاته صلاة التسبيح لمونځ وکړه. پېغمبر«ع» هم هغه طريقه ورته وښودله وروسته ورته وايي. اې عباسه که دی په طاقت کېدله هره ورځ يې کوه اوکه هره ورځ نه وي بيايې په هفته کي يوځلي کوه که دي په هفته کی هم وس نه کېدئ.بيايې په مياشت کي يوځلي کوه که دي په طاقت نه وه بيايې په کال کي يوځلي کوه که دي په کال کي هم په طاقت نه وه بيايې په ټوله عمر کي يوځلي وکړه(الحديث).طريقه يې داسي ده لومړی دي نيت وکړي نيت يې داسي دئ نيت مي دئ دزړه داخلاصه لمونځ کوم څلور رکعاته صلاة التسبيح په دې حاضر وخت خاص خدای تالره مخ دئ وطرف ته دکعبې شريفي الله اکبر.چي کله يې نيت وکړ لومړی دي سبحانه ووايي. اواعوذبالله اوبسم الله دي نه وايي.چي کله يې سبحانه وويل وروسته دي ۱۵پنځلس ځلي داکليمه ووايي(سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) چي کله يې لس۱۵ځلي داکليمه وويل بيا دي.
اعوذبالله ، بسم الله ، الحمدلله اوسورت ووايي. چي هر سورت يې زده وي هغه دي ووايي که قل هوالله وي که بل سورت.چي کله يي الحمدلله اوسورت وويل بيادي په ولاړه کي تر رکوع کولو مخکي همدغه کلمه لس۱۰ ځلي ووايي.بيا دي رکوع ته ولاړ سي. هلته دي درکوع تسبيح «سبحان ربی العظيم يا سبحان ربی الکريم» ووايي.وروسته دي په رکوع کي لس۱۰ځلي همدغه کلمه بيا ووايي.
بيا دي راپورته سي سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد دي ووايي.په همدغه ولاړه کي دي بيا لس«۱۰» ځله همدغه کلمه ووايي. بيادي وسجدې ته ولاړ سي په سجده کي دي هغه دسجدې تسبيح ووايي«سبحان ربی الأعلی».وروسته دي

بيا هغه كلمه لس«۱۰» ځلي ووايي.بيا دي دسجدې څخه راپورته سي دهمدغه دوو سجدو په منځ كي چي كومه ناسته ده په دې ناسته كي دي بيا لس«۱۰» ځله همدغه كلمه ووايي.بيا دي دوهمي سجدې ته ولاسي هلته دي بيا لس ځله«۱۰» همدغه كلمه ووايي. يوركعات پرهمدغه ځاى پوره سو همدغه كلمه پنځه او ويا«۷۵»ځلي سوه.دوهم ركعات دي بيا داول ركعات په څېر وكړي.صرف دومره خبره ده چي په دوهم ركعات كي سبحانه نسته چي ولاړ سي سمدستي دي هغه كلمه شروع كړي.دوهم ركعات دي ترپايه داول ركعات په څېر وكړي.ددو ركعاتوده«۱۵۰»يونيم سل كيږي.دڅلرو ده درې سوه«۳۰۰»

مسئله كه چيري په يوه ځاى كي تسبيح كم ووايي. اويا مطلقاً ورڅخه پاته سي بيادې په راتلونكي ځاى كي وايي.مثلاً په ركوع كي ورڅخه هير سو وروسته دې په ولاړه كي ووايي.مسئله همداغه كلمه ترهمدغه ځايه پوري راځي كوم چي مخكي مو وليكل.البته كه چيري پوره وويل سي ثواب يې سته څه باك نه لري.

يادونه:دصلاة التسبيح لمونځ هر وخت كيږي او همدومره ثوابونه يې دي كوم چي مخكي درته ذكرسوه.البته په دغه څو وختو كي يې كول مكروه دي. ځكه چي همدغه لمنځ نفل دئ. اوټوله نفلونه په همدغه وختوكي كول مكروه دي.

۱:اول لكه چي سپېدې را وچاودي.يعني دسهار وخت داخل كړه سي.

۲:دوهم د سهار دلمانځه وروسته:

۳:درېيم كله چي لمر را پورته كيږي.ترهغو پوري چي لمر دوې نېزې اندازه راپورته كيږي.

۴:څلرم كله چي لمر پر سر ولاړ وي. ترڅو چي دماپښين وخت داخليږي.

۵:پنځم كله چي دمازديګر لمونځ اداكړي.

۶:شپږم كله چي لمر لوېږي. ترهغو پوري چي دماښام لمونځ ادا كوي.

خلاصه: دا كله چي دسهار وخت داخل سي. همدغه لمونځ كول مكروه دئ ترڅوچي دوې نېزې اندازه لمر راپور ته كيږي.

او دلمر داستواء يعني كله چي لمر پر سر ودرېږي. همدغه لمونځ كول مكروه دئ. ترهغو پوري چي دماپښين وخت داخليږي. كله چي دمازديګر لمونځ ادا كړي. همدغه لمونځ كول مكروه دئ. ترهغو پوري چي دماښام لمونځ اداكوي. دهمدې وختو څخه ماسېوا بل هر وخت كيږي. كه ورځ وي كه شپه.

(تطوع(ثوابي)روژې اودهغو تقسيم)

ډيرو محترمو لوستونكو لكه څرنګه چي موږ مخكي وعده كړې وه چي دنفلي (ثوابي) روژو په اړه هم څه خبره كوو. نوانشاء الله اوس هماغه وعده پرځاى

کوو.همدغو روژوته په عربي کي صوم التطوع وايي.دصوم تعريف مو مخکي ليکی وو. اوس تطوع ته راځو چي تطوع څه ته وايي.
تطوع په هغه عبادت سره وځان نزدې کولوته وايي چي فرض نه وي.
فضيلت:دنولو نفلي روژو فضيلت هم دادي.پيغمبرع فرمايي هغه څوک چي دالله ج درضاء لپاره يوه روژه ونيسي الله ج به دغه انسان داويا «۷۰» کلنو په اندازه ددوږخ څخه ليري کړي.
احنافو علماؤ همدغه روژې پردرې۳ قسمه ويشلي دي.۱:اول سنت.۲:دوهم مندوب،۳دريم نفل.مطلب داچي تولي ثوابي دي.
سنت روژه لکه دعاشوراء دورځي روژه مګر دمخکي ياوروسته ورځي دروژې دنيولو سره . دعاشوراء ورځ همدغه دحرم المحرم يعني دحسن اوحسين دمياشتي لسمه ورځ ده.
مندوب روژې لکه دهري مياشتي دايام بيض درې درې روژې نيول . چي هغه د ديارلسم«۱۳»څوارلسم«۱۴»پنځلسم«۱۵»دورځو روژې دي.
همدا رنګه ددوشنبې اوپنج شنبې دورځي روژه نيول.
اودکوچني اختر دمياشتي شپږ۶ ورځي روژه نيول.
اوهرهغه روژې چي دهغو په نيولو سره دثواب وعده راغلي وي.لکه دداود«ع» روژه چي يوه ورځ به يې نيول اوبله ورځ به يې خوړل.
اونفلي روژې: هغه ددغو روژو څخه بغير په نورو ورځوکي روژه نيول چي ممانعت يې نه وي راغلی.

(دعاشوراء دورځي واقعات اودهمدې روژې فيضلت)

محترمو مسلمانو ورنودعاشوراء يعني دحرم المحرم يا دحسن اوحسين دمياشتي لسمه ورځ هم ډيره بهتره ورځ ده. ولي چي په همدې ورځ کي ډيري واقعې پيښي سوي دي. هغه په دا ډول.په دې ورځ دآدم «ع» و وجود ته روح اچول سوی دی.په دې ورځ دنوح «ع» کښتی دجود پر غره دربدلي ده.په دې ورځ الله«ج» يعقوب«ع» اويوسف«ع» سره يوځای کړي دي،په دې ورځ الله «ج» يونس «ع» دماهي دنس څخه را يستلی دی.په دې ورځ ايوب«ع» ته الله«ج» دهغه سختي ناروغی څخه نجات ورکړی دی.کوم چي توله بدن يې چنجي کړي وه.په دې ورځ الله«ج» وموسی «ع» ته د قلزوم درياب لاري لاري کړ. ده مبارک ته يې نجات ورکړ اوفرعون يې غرق کړ.په دې ورځ عيسی«ع» پيدا سوی دي.په دې ورځ آدم«ع» اوحواء«رض» سره جلا سوي دي. اوپه همدغه ورځ بيرته سره يو ځای سوي هم دي.په دې ورځ يحي«ع» حلال کړه سوی

دی.په دې ورځ زکریا«ع» وژل سوی دی.په دې ورځ نمرود عیسی«ع» واور ته اچولی دی.اوپه همدې ورځ حسين«رض» شهيد سوی دی.اوحسن«رض» ته په همدغه ورځ زهر ورکړه سوي دي.

يادونه: داچي په همدغه ورځ دغه هرڅه کړني سوي دي. نوپه همدې وجه سره دغه ورځ عظيمه ورځ ده. خوالبته داسي هم نه ده لکه شيعه ګان چي ځانونه وهي ويني بهوي. دوی وايي. چي په دې ورځ حسين «رض» په شهادت رسېدلی دی. موږ سنيان داکړنه ځکه غندو چي دومره غم ښکاره کول مطلقاً منعه دي. اوتر درو ورځو پوري دغم دښکاره کولو اجازه هم نسته.

عاشوراء يعني دحرم المحرم يا دحسن اوحسين دمياشتي دلسمي او ورسره دنهمي ورځي روژه نيول. سنت ده. ځکه حديث شريف کي راځي پېغمبر«ع» دهمدې روژې دفضيلت په اړه داسي فرمايي«احتسب على الله ان يكفر سنت التى قبله»ترميذي جـ١صـ١٥٨:ترجمه:زه داګمان کوم چي الله ج به ددې ورځي دروژې په نيولو سره دمخکني کال ګناهونه وبخښي:اوپه ابتداء کي داسلام دهمدغي ورځي روژه نيول فرض وه.وروسته يې فرضيت درمضان دمياشتي په روژه سره منسوخ سو.ځکه معاوية«رض» فرمايي چي پېغمبر«ع» وفرمايل دادعاشوراء ورځ ده الله «ج» ددې ورځي روژه پرتاسو نه ده فرض کړې.البته زماروژه ده نوکه دچا خوښه وي روژه دي ونيسي اوکه دچا خوښه وي وه دې خوري.

اوفقهاء کرام فرمايي چي يوه ورځ مخکي ياوروسته دي هم روژه ورسره ونيسي صرف دعاشوراء دورځي روژه يوازي نيول مکروه ده.

(دنصف الشعبان(دبرات دپنځلسمي ورځي روژه اوفضيلت)

دنصف الشعبان(دپنځلسي) ورځ اوشپه هم ډيره بهتره ده.ځکه عبدالله بن عباس «رض» فرمايي چي الله«ج» دټولو کارو حکم اوفيصله دپنځلسم په شپه کوي. اودغه فيصلي وملائکو ته دشب قدر په شپه سپاري.(تفسير خازن جـ۴صـ۱۱۲)

او بي بي عائشه«رض»ديوحديث شريف روايت کوي چي رسول الله«ص» وفرمايل.الله«ج»بلاکيفه دپنځلسم په شپه ددنيا اسمان ته راکښته کيږي.اودکلب دقبيلې دپسو تر وړيو زيات خپلو بندګانو ته بخښنه کوي.

اوبل حديث شريف کي بي بي عائشه«رض» فرمايي. ماپېغمبر«ع» نه دی ليدلی چي مکمله مياشت دې روژه نيولې وي.ماسېوا درمضان دمياشتي څخه.اوما نه دی ليدلي چي دومره زياتي روژې دې نيولي وي ماسيوا دشعبان دمياشتي څخه. (بخاري جـ١صـ٢٦٤)

اوعبدالله بن قيس«رض» فرمايي چي بي بي عائشې«رض» وفرمايل چي رسول الله «ص» ته ډيره زياته خوښه اومحبوبه مياشت دشعبان(برات)مياشت وه.ځکه ده مبارک به دهمدې مياشتي روژې نيولي اودرمضان دمياشتي سره به يې پيوسته کولې.(ابوداود جـ١صـ٣٣٧)
اومخکني حديث شريف ته ورته بل حديث شريف کي راځي بي بي عائشه «رض» فرمايي يوه شپه پيغمبر«ع» نادرکه سو چي کله مي وکتل. دی مبارک په بقيع هديره کي وو.پيغمبر«ع»راته وفرمايل آيا ته پر همدې بېرېږي چي الله«ج» اورسول الله«ص» به ظلم درباندي وکړي.ماورته وويل اي دالله«ج» رسوله ما دا ګمان کاوه چي ته به دنورو بي بي ګانو ته ورغلی يې.ده مبارک راته وفرمايل چي الله«ج» بلا کيفه دپنځلسي په شپه ددنيا اسمان ته راکښته کيږي.اودکلب دقبيلې دپسو دوړيو زيات خپلو بندګانو ته بخښنه کوي.(ترميذي جـ١صـ٩٢)
اوبل حديث شريف کي پيغمبر«ع»فرمايي چي کله دپنځلسي شپه سي الله«ج» خپل انوار اوتجلي ښکاره کړي.اوخپلو ټولو بندګانو ته بخښنه کوي.بغير دمشرک اوحسد اوکينه کونکي شخص څخه.(ابن ماجه صـ١٠١)
اويو بل حديث کي بي بي عائشه «رض» فرمايي چي رسول الله «ص» وفرمايل ايا تاسو خبر ياست په هغه برکت باندي چي ددغه پنځلسي په شپه کي دي؟
بي بي عائشه «رض» فرمايي ماورته وويل چي موږ ته معلومات نسته.رسول الله«ص» وفرمايل چي په دغه کال هر کوچنی زيږي هغه په همدغه شپه ليکل کيږي.اوپه دغه کال چي هر انسان هلاک کيږي هم په دغه شپه ليکل کيږي.اوپه دغه شپه دانسانانو ټول اعمال الله«ج» ته عارضيږي.اوپه دغه شپه داسمانو څخه ددوی رزقونه راکښته کيږي. بي بي عائشه «رض» وپيغمبر «ع»ته وفرمايل آيا دالله «ج» درحمت څخه بغير هيڅ څوک جنت ته نسي داخلېدلای؟
پيغمبر«ع»درې ځلي ورته وويل هو دالله ج درحمت څخه بغېر هيڅ څوک جنت ته نسي داخلېدلای. بي بي عائشه «رض»بيا ورته فرمايي.آيا ته هم نه سې داخلېدلای؟پيغمبر«ع» لاس پر سر کېښودی اودرې ځلي يې وفرمايل هو زه هم بېله رحمته نسم داخلېدلای.مګر هغه وخت چي الله«ج» ماپه خپل رحمت کي پټ کړي.(مشکوة جـ١صـ١٢٥)
اوبل حديث شريف کي پيغمبر«ع» فرمايي چي کله دپنځلسي شپه سي تاسو په دغه شپه کي لمنځونه کوئ.اوپه ورځ کي يې روژه نيسئ.ځکه الله«ج» خپل رحمت دلمر لوېدو په وخت کي ددنيا واسمان ته نازل کوي.اوالله«ج» فرمايي آيا يو مغفرت(بخښنه) غوښتونکی نسته؟ چي زه بخښنه ورته وکړم.آيا يو رزق

غوښتونکې نسته؟ چي زه رزق ورکړم.او آيا په مصيبت کي اخته کس دخلاصون غوښتونکې شخص نسته؟ چي زه خلاصون ورکړم.آيا يو حاجت غوښتونکې نسته؟ چي حاجت يې ورپوره کړم.آيا دمشکلاتو څخه خلاصون غوښتونکې نسته؟ چي دمشکلاتو څخه يې خلاص کړم.همدغه څه الله«ج» ترسپېدو پوري وايي.«ابن ماجه ص۱۰۰»

(دپنځلسي دشپې د لمانځه فضلت اوطريقه)

اوتفسير جمل کي يو حديث شريف راځي.پېغمبر«ع» فرمايي.هغه څوک چي په همدغه دپنځلسي په شپه سل رکعاته نفل وکړي. الله «ج» به سل ملائکي دغه شخص ته راواستوي. «۳۰»دېرش ملائکي به دجنت زېرې ورکوي.

او«۳۰»دېرش ملائکي به ددغه شخص لپاره دعذاب څخه پناه غواړي.

اودېرش ملائکي به ددغه شخص څخه ددنيا آفات او امراض دفعه کوي.

او«۱۰» لس ملائکي به دشيطان کيد اوفريب ورڅخه دفعه کوي.(جمل جـ۴صـ۱۰۰)

او دمواعظو په کتابو کي راځي . حسن البصري«رح» فرمايي ماته ديرشو صحابه کرامو دغه حديث شريف را رسولې دې. هغه دا..کوم څوک چي دبرات دپنځلسي دشپې لمونځ وکړي.الله«ج» به اويا«۷۰» ځلي درحمت په نظر ورته وګوري. اوپه هر نظر سره به يې اويا«۷۰» حاجتونه ورپوره کړي.اوهغه کمه دنظر مرتبه يې مغفرت دې. الله «ج» به يې ګناهونه ور وبخښي.

حکايت: علامه شهاب الدين قيلوبي«رح» په خپل کتاب کي يوه واقعه رانقل کړې ده.

هغه داچي يوه ورځ عيسى«ع» ويو غره ته وختې. اوهلته يې يوه زياته ښايسته ډبره وليده. او عيسى«ع» هم ددغي ډبري وسپين والي اوښايست ته ډېر تعجب وکړ اوزيات ورته حيران سو.الله«ج» وحي ورته وکړې.چي تر همدغه عجيبه اوناديره دروښيم؟ نو دالله«ج» په ستر قدرت سره هغه ډبره وچاودل او ده مبارک ورته وکتل چي يوشخص هلته پرلمانځه پکښې ولاړ وو. لکړه او انګور هم ورته پراته وه.عيسى«ع» پوښته ورڅخه وکړه چي دا څنګه لکړه او انګور پراته دي. سړي په جواب کي ورته ويل چي دازما رزق دې. الله«ج» هره ورځ همدغه رزق راکوي. عيسى«ع» دسړي څخه پوښتنه وکړه.ستا څومره عمر کيږي؟ سړي په جواب کي ورته ويل«۴۰۰»څلور سوه کاله.

نو عيسى«ع» الله«ج» ته وفرمايل اې ربه په دنيا کي به تر دغه سړي بل بهتره سړې وي. الله «ج» ور ته وفرمايل هو تر همدغه سړي هم بهتره شخص سته. عيسى«ع» وويل دابه څوک وي؟ الله «ج» ورته فرمايي چي دا دپېغمبر«ع»

دامت څخه هغه شخص دی.چي دبرات دپنځلسم په شپه لمنځونه وکړي. او ددغه شخص عبادت کوم چي دپنځلسي په شپه يې کوي. تردغه سړي ترعبادت ماته بهتره اوخوښ دی. ورروسته عيسی«ع» وفرمايل کاش چي زه دمحمد «ع» د امت څخه وای.«قيلوبی ص۱۳»

دهمدې شپې دلمانځه نيت او طريقه نيت يې دعادي نفلو په ډول دی.خاص نيت نه غواړي.همدا ډول عادي نيت دي وکړي.نيت مي دی دزړه داخلاصه لمونځ کوم دوه رکعاته نفل په دې حاضر وخت خاص خدايه تالره مخ مي دی وطرف ته دکعبې شريفي الله اکبر

:دهمدې شپې دلمانځه کولو څو طريقې راغلي دي. يوه داچي هغه کمه اندازه يې داده چي دوه رکعته دي وکړي.څلور سوه ۴۰۰ آيته به پکښي وايي.دوه سوه ۲۰۰ په يوه رکعت کي. او دوه سوه ۲۰۰په بل رکعت کي. اوکه تر دې کم تلاوت په کښي وسي هم څه باکه نسته.

او درکعتو اکثره اندازه يې داده.چي سل۱۰۰ رکعته دي وکړي.هر قرائت چي يې زړه وي هغه دي ووايي. اوعام صلحاء وايي چي تر الحمد لله وروسته دي آيت الکرسي. او انا انزلناه سورة ووايي.اوبل قول دادی چي په هر رکعات کي دي درې درې ځله قل هوالله ووايي. او امام غزالي (رح) فرمايي چي دغه لمونځ سل۱۰۰ رکعته کيږي. په هر رکعت کي دي تر الحمد لله وروسته يوولس ځلي قل هوالله ووايي. يادونه: که چيري سل۱۰۰ رکعته دچا په وس نه وه بيادي کم ازکم دومره لمونځ وکړي چي په وس اوطاقت يې وي.

(د ذی الحجي دمياشتي داولنی لسو ورځو فضلت)

محترم مسلمانانو ورڼو دذی الحجې يعني دلوی اختر دمياشتي مخکنی لس ورځي اوشپې هم ډير زيات فضلت لري.چي دالله«ج» په توفيق به يې ذکر کړو.

ځکه الله «ج» په دې شپو سره قسم کړی دی هغه دا. وَالفَجرِ(۱) وَلَيَالٍ عَشرٍ(۲) وَالشَّفعِ وَالوَترِ(۳) وَلَّيلِ اِذَايَسرِ(۴) هَل فِي ذَالِکَ قَسَمُ الِّذِي حِجَر(۵) اَلَم تَرَکَيفَ فَعَلَ رَبُّکَ بَعَاد(۶) ترجمه:قسم کوم په سهار سره. او قسم کوم په هغه لسو شپوسره. ا وقسم کوم په جفت اوتاق سره.اوقسم کوم په تک راتک سره په شپه کي کله چي تياره کيږي.آيا په دغه قسمو کي دعقل او اعتبار سړی سته چي اعتبار په وکړي. آيا ته نه وينې اې پيغمبره چي څه وکړه رب ستا په قوم دعاديانو.

شاه ولي الله صاحب ليکي.چي مراد دفجر څخه دلوی اختر سهار دی.

چي حج پکښي اداکيږي.او دلسو شپوڅخه مراد داختر څخه مخکي لس شپې دي.

او دجفت اوتاق څخه مراد دروژې آخيري لس شپې دي. دشپې دتک څخه مراد

معراج شپه ده. داټول متبرک وختونه دي نوځکه الله«ج» قسم په واخستی.
او په بل روایت کي راځي چي دتاق څخه مراد دعرفات ورځ او دجفت څخه مراد دلوی اختر ورځ ده.
اوبل حدیث شریف کي پیغمبر«ع» فرمايي. هیڅ يو داسي ورځي نسته چي الله«ج» ته دي په هغو کي عبادت دومره محبوب اوخوښ وي. بغیر دذی الحجي د لسو ورځوڅخه.ځکه د هري ورځي روژه يې ديوه کال دروژې سره برابره ده. اودهري شپې عبادت يې دشب قدر دشپې دعبادت سره برابر دی.(ترمیذي جـ۱ صـ۹۴)
ورنو ډیر زیات کوشش په کار دي چي په همدغه ورځو کي روژې ونیسو او په شپو کي يې عبادت وکړو. ځکه دهري شپې عبادت يې دشب قدر دشپې دعبادت سره برابر دي. اودشب قدر شپې مکمل فضائل او توضیحات مو مخکي لیکلي دي.
اوهمدې حدیث شریف ته ورته بل حدیث شریف کي راځي. پیغمبر«ع» فرمايي هیڅ يو داسي ورځي نسته چي الله«ج» ته دي په هغو کي عبادت زیات محبوب اوخوښ وي.بغیر دهمدغه لسو ورځو. صحابه کرامو ویل یارسول الله. جهادکول هم ددغو ورځو دعبادت پشان ثواب نلري. پیغمبر«ع» وفرمایل هو جهاد هم ددغو ورځو دعبادت په شان ثواب نلري. مګر نه هغه مجاهد چي هغه دخپل کور څخه دخپل مال او سر سره ووځي.اوبیا رانسي.یعني شهید سي (ترمیذي جـ۱ صـ۹۴)
اوشیخ عبدالقادرجیلاني«رح» لیکي.څوک چي ددغو لسو ورځو عزت وکړي. مطلب داچي عبادت پکښني وکړي. الله«ج» به لس کراماته ورکړي.هغه دا..
۱:الله«ج» به يې په عمر کي برکت وا څوي.،۲:مال او دنیا به يې زیا ته سي.
۳: دده داولاد حفاظت اوساتنه به وکړي،۴:ګناهونه به يې و رژول سي،۵: نېکۍ به يې زیاتي سي،۶ زکندن به يې اسانه سي،۷:دقبر تاریکۍ به يې رونا سي،
۸:دنېکۍ پله به يې درنه سي،۹:دسختیو څخه به نجات اوخلاصون پیدا کړي.
۱۰:درجې به يې لوړي سي.

(دعرفات دورځي اوروژې فضیلت)

دعرفات دورځي او روژې هم ډیر فضلت دی. ځکه..
اودعلامه زیلعي«رح» په خپل کتاب لیکلي دي. هغه افضله ورځ هغه ورځ ده چي دعرفات اوجمعې ورځ سره يوه سي. او دهمدغه کال حج چي دعرفات او جمعې ورځ يې سره يوه سي. تر اویا حجونو هم بهتره دی.چي موږ اوتاسو حج اکبر ورته وايو.

او امام غزالی«رح» په احیاء العلوم کي لیکلي دي. بعضي سلف فرمایي چي کله دجمعې اوعرفات ورځ سره یوه سي. الله«ج» دعرفات ټولو انسانو ته بخښنه کوي.اوهمدغه ورځ دټولي دنیا بهتره ورځ ده. ځکه پېغمبر«ع»په همدې کال حجة الوداع(آخیري حج) کړی دی.«ردالمحتار جـ۱صـ۲۷۵»

اوپه فقه الاسلامي کي لیکلي دي. چي هغه بهتره ورځ دعرفات ورځ ده. ځکه په مسلم شریف کي حدیث راځي.پېغمبر«ع» فرمایي. هیڅ یوه داسي ورځ نسته چي الله«ج» دي دومره انسانان ددوږخ څخه ازاد کړي بغیردعرفات دورځي (جـ۱صـ۵۸۹)

او ددې ورځي روژه نیول هم ډیر ثواب لري.ځکه حدیث شریف کي راځي...

عن ابی قتادة ان النبی(ص) قال صیام یوم عرفة اني احتسب علی الله ان یکفر سنة التي بعده والتي قبله) «ترمیذي جـ۱صـ۹۳»ترجمه: ابي قتاده «رض» روایت کوي چي پېغمبر«ع» وفرمایل دعرفات دورځي روژه نیول زه پر الله«ج» داګمان کوم چي دورستني اومخکني کال ګناهونه دي وبخښي.

(ددوشنبې اوپنج شنبې دورځي روژه نیول)

ددوشنبې اوپنج شنبې دورځي روژه نیول هم ډیر زیات ثواب لري ځکه حدیث شریف کي راځي ابوهریره «رض» فرمایي چي پېغمبر«ع» ددوشنبې اوپنج شنبې دورځي روژه نیول. ده مبارک ته وویل سوه اې دالله«ج» رسوله ته ولي ددوشنبې او پنج شنبې روژه نیسې څه وجه ده. ده مبارک په جواب کې ورته وفرمایل.ځکه ددوشنبې اوپنج شنبې په ورځ الله«ج» هر مسلمان ته بخښنه کوي. بغیر دهغه چا څخه چي دخپل مسلمان ورور څخه یې خبري قطعه کړي وي. نو الله«ج» ددوی په هکله فرمایي چي دوی دوه دي ترهغو پوري معطله وي ترڅو چي جوړه سره کوي.«مشکوة جـ۱صـ۱۹۷»

اوبل حدیث شریف کي راځي.چي د پېغمبر «ع» څخه ددوشنبې دورځي دروژې نیولو پوښتنه وسوه چي اې دالله رسوله ته ولي ددوشنبې دورځي روژه نیسې. پېغمبر «ع» په جواب کي ورته وفرمایل.

«ذاک یوم ولدت فیه وانزل علی فیه» په دې ورځ زه پیداسوي یم اوهم پر ما باندي قرآن مجید نازل سوی دی.«مسلم جـ۱صـ۳۶۸» مسلمانانو ورڼو دهمدې حدیث شریف څخه دا معلومه سوه چي دپېغمبر «ع» دولادت(پیدایښت) ورځ کوم چي موږ او تاسو دولسمه ورته وایو.دا ورځ هم ډېره بهتره ده ځکه پېغمبر «ع» په دې ورځ خپله روژه نیولې ده.نوباید دپېغمبر«ع» دراتګ دشکریې په وجه موږ

اوتاسو هم په دې ورځ روژه ونيسو يا يوبل نيک عمل يا خيرات وکړو.
خوافسوز زموږ اوستاسو په ټولنه کي بعضي داسي ناواقفه کسان سته چي ددې ورځى ولمانځلوته بدعت يا حرام وايي. خو دا ددوی خپل حماقت دی. اوددې ورځي دلمانځلو په اړه موږ نور هم ډېر دلائل لرو خو داچي اوس لا کتاب زيات اوږد دی ترهغوتيريږو. هغه ځان ته مستقله رساله غواړي چي وې ليکو.

(دهري مياشتي درې ورځي روژه نيول)

فقهاء کرام ليکي چي دهري مياشتي درې درې ورځي روژه نيول سنت ده.
او داحنافو، شوافعو اوحنابله وو جمهور فقهاء فرمايي چي دمياشتي د ايام بيض روژې دي نيسي. چي هغه د «۱۳»«۱۴»«۱۵» ورځي دي. ځکه پيغمبر«ع» ابوذر«رض» ته فرمايي. اې ابوذر که چيري ته د مياشتي درې روژې نيسی.نو ددیارلسم څوارلسم پنځلسم دورځو روژې نيسه.
او ددې ورځو دروژو هم ډېر فضلت دی.ځکه حديث شريف کي راځي قتاده بن ملحان«رض» فرمايي. موږ به پيغمبر «ع» دهري مياشتي دهمدغو روژو په نيولو سره امر کولو او دابه يې راته ويل چي دهري مياشتي دهمدغو ورځو روژې نيول دومره ثواب لري. لکه ټوله زمانه روژه نيول.انتهى.
«موسوعة الفقهية الكويتية جـ۲۸صـ۹۴،۹۳»
داچي دټوله کال دروژو ثواب لري داپه دې وجه ځکه الله«ج» په قران عظيم الشان کي فر مايي «مَن جَاءَ بِالحَسَنَةِ فَلَهُ عَشرُ أَمثَالِهَا: الانعام ۱۶۰»
ترجمه څوک چي يوه نيکي وکړي ده لره لس نيکي دي.
نو دمياشتي ورځي هم دېرش دي.نو درې روژې هم هره روژه په لس روژو سره بدليږي . دايې مکمله مياشت.

(دکوچني اختر دمياشتي شپږ روژې نيول)

جمهور ، مالکيه ، شافعيه ، اومتأخرين احناف فقهاء فرمايي. چي دروژې دمياشي څخه وروسته دکوچني اختر په مياشت کي شپږ روژې نيول سنت دي.
(لما روى أبوأيوب«رض» قال قال النبي«ص» من صام رمضان ثم اتبعه ستة من شوال، كان كصيام الدهر) ترجمه:أبوأيوب «رض» روايت کوي چي نبی«ع» وفرمايل.څوک چي درمضان دمياشتي روژې ونيسي. وروسته بيا دکوچني اختر دمياشتي شپږ روژې نوري ورپسې کړي.ددې دومره ثواب کيږي لکه دټول عمر روژه نيول.اوبل حديث شريف کي راځي پيغمبر«ع» فرمايي.دروژې دمياشتي روژه دلسو مياشتو دروژوسره برابره ده. او دکوچني اختر دمياشتي دسپږو ورځو روژې ددوو مياشتو دروژوسره برابره ده.نوځکه دادټوله کاله روژه سوه.

«اللهم تقبل منا بقبول حسن واجعل كفارة لذنوبي وسعادة ونجاة في الاخيرة»

تـــــــمـــــــت بـالــــــخــــــير

شمېره	مأخذونه
١	قران المجيد
٢	تفسير القرطبي
٣	تفسير الجمل
۴	تفسير مظهري
۵	بخاري شريف
۶	مسلم شريف
٧	ابو داود شريف
٨	ترميذي شريف
٩	نسائي شريف
١٠	ابن ماجه
١١	مشكوة المصابيح
١٢	مرقات المفاتيح
١٣	ردالمحتار
١۴	فتح القدير
١۵	فتاوى هندية
١۶	فتاوى تاتار خانيه
١٧	بحرالرائق
١٨	مراقى الفلاح
١٩	فقه الاسلام
٢٠	الموسوعة الفقهية ا لكويتية
٢١	همدا ډول نور قسم قسم دمواعظو اوفتوى كتابونه

(دمؤلف ژوند لیک)

قاري مولوي عبدالباري(عرفان) دښاغلي عبدالجليل زوی اودمرحوم الحاج محمد نور لمسی په کال ۱۳۸۰ھ ش دکندهار ولايت دارغنداب ولسولۍ دخواجه ملک په کلي کي زېږېدلی دی.لومړنۍ ديني زدکړي يې دخپلي علاقې په مختلفو مدارسو اومساجدو کي حاصلي کړي دي.دلومړنيو زدکړو ترتکميل وروسته يې ددورة الحديث الکبری زدکړو ته دکندهار ښار په نوريه مدرسه کي دممتازيتوب په درجه خاتمه ورکړه. اوس مهال يې هم ومدارسو ته دتدريس په شکل ښه خدمتونه جاري ساتلي دي.نور هم موږ وخپل قابل ورورته دلازيات خدمت په طمعه يو الله ج دي نور هم بسيطت په علم عمل اخلاص تقوی اوعاجزي کي ورکړي. اوالله ج دي محفوظ په هر مکان او زمان کي ولري. کاتب اخوکم(نور)

(دلوستونکو څخه يوه غوښته)

د ليکونکي يوغوښتنه: داچي ښکاره او ښکاره خبره ده چي انسان محل دخطاياؤ دي نو دټولو لوستلونکو څخه په ډير درنښت هيله کوم که چيري په دې رساله کي زموږ څخه املائي يا کيبورډي غلطي سوې وي د دې پرځای چي رد وکړی بلکي اصلاح ئې کړی اوموږ معذ ور وګڼي:اودمهربانۍ له مخي پرهمدي شمره اطلاع راکړئ ترڅو په راتلونکي چاپ کي يې اصلاح کړو۰۷۰۸۴۹۴۵۵۱:۰۷۰۴۴۰۰۴۰۷،اوهمدغه کتاب دهمدې شمېرو له لاري په واټسف کي هم ترلاسه کولای سی:والسلا م



یادونه:

دکمپيوټر ټول خدمات زموږ دمجتبی مدرسي داداړې سره محفوظ دي دشخصي تغيراتو،تصرفاتو حق هيڅ څوک نه لري



تقريظ

العالم اللبيب ترجمان القران الحاج شيخ مولوي عبدالصمد(بيان)اعزالله الرحمان

الحمدلله السبحان المنان:والصلوة والسلام على خيرالبرية والأنام:امابعد فقد طالعت هذه الرسالة المشتملة على كثير من المسائل الضرورية للخواص والعوام خصوصاً لصوم الرمضان:وفيها فوائد اخر في فضائل الأعتكاف وليلة القدر التي جمعها التلميذ البار:اعني القاري مولوي عبدالباري(عرفان) فوجدت هذه الرسالة وافية لمايحتاج اليه كافة الناس:وبذل فيها جهده وجمع فيها الحوالات والعبارات من الكتب المعتبرة على مذهب امام اعظم ابي حنيفه(رح) ونقل عن كتب المواعظ الحسنة فادعوله وارجو من الله له للمزيد فيمابقى من الحيوة لخدمت الدين المنيف وماذلک من الله بعزيز.وبالأجابة جدير وبالختامة اسأل الله للقارئين العمل بماتحتوي هذه الرسالة من الأحكام والنكت التي هى كالقمر ليلة البدر البرى من الافول والمحاق وفي ميزان العمل ثقال متى يكون الحساب بمثقال.انه هوالمعين فى كل حال. ومنه التوفيق فى الأقوال والأفعال.وأليه المئال.واسأل لي وله ولكل من نظر فيه لنيل المئارب والسؤال. وحسن المئاب

واخير دعوانا ان الحمدلله رب العالمين

يلوح الخط فى القرطاس دهراً :وكاتبه رميم فى التراب

ها أنا عبد الحقير المولوي عبدالصمد (بيان)

لاسليک

١٤٤٣/٨/١١

(تقريظ)

العالم الفقيه مجودالقران فصيح السان

الحاج قاري مولوي عبدالهادي (ابوالأنعام) حفظه الله من الغموم والألام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي مَنَّ علينا بالعلم والأدب:والصلوة والسلام على رسوله خير العجم والعرب: وعلى اله واصحابه الذين كانو من اعلى الحسب والنسب:

امابعد: محترمو مسلمانانو ورونو داچي روښانه اوڅرګند حقيقت دی.

چي الله«ج» دخپل دين او قران تحفظ اوساتنه کوي. ځکه الله«ج» په قران عظيم الشان کي فرمايي. «اِنَّا نَحنُ نَزَّلنَا الذِّكرَ وَاِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ(الحجرات ۹)

ترجمه:بېشکه قران مجيد موږ خپله نازل کړی دی اوموږ يې خپله ساتنه کوو.

نوځکه الله«ج» دهمدې تحفظ او ساتني لپاره قسم قسم اشخاص پيدا کړي دي.

چي بعضي يې دسرپه ښندنه سره ساتنه کوې. بعضي يې ددعوت امر بالمعروف نهى عن المنكر له لاري. بعضي ددېني تعليم اوتدريس له لاري.

بعضي دتصنيف او تدوين له لاري دهمدغه دين اوقران ساتنه کوي. اوعوامو مسلمانانو ورونو دهمدغو کسانو سره د پوره همکارۍ او معاونت له لاري خاصه ساتنه کوي. نوځکه دهمدغه تصنيفي خدمت په لړ کي ښاغلي محترم.

قاري مولوي عبدالباري«عرفان» صاحب هم يو کتاب دروږې فضائل او مسائل په نامه سره دخپلو عامو مسلمانانو ورونو دښه پوهاوۍ لپاره مکمل اوتولني ته دخدمت په پار چمتو کړ. تر تکميل ورسته دتقريظ لپاره نوموړي زموږ څخه دنظر مطالبه وکړه. کله چي ماهم ددغه کتاب په يوحصه کي نظر اوکتنه وکړه يقيناً ډير ښه جالب معلومات يې دحنفي فقهي په ددلائلو سره ليکلي وه. او خاص کرت دوخت دمقتضا ضرورې مسئلي يي په ډېر ښه انداز اوخلاصه سره ليکلي وه. نوموړي ته نورهم دلازيات خدمت ، علم ، اخلاص ، تقوا ، عاجزي ، غوښتونکي يو. الله«ج« دي يې دژوند په ټولو چارو کي موفق. خوښحاله، اوبريالى ولري. والسلام. په درنښت:

اخوكم فى الله الحاج قاري مولوي عبدالهادي (ابوالأنعام)



(تقريظ)

العالم البليغ الحاج مولوي عبدالعزيز.جعل الله عمره غريز

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله ذالطول ولا لاء: وصلى الله على نبيه خاتم الرسول والانبياء والاتقياء: امابعد فيقول العبد المعترف بذنبه الراجي الى رحمة الله عبدالعزيز النقشبندي طريقةً:الحنفي مذهباً:فاني لما نظرت وطالعت بعض المسائل من هذه الرسالة الشريفة التي الفها والتقطها الفاضل اللبيب والفقيه الجيد القاري مولوي عبدالباري(عرفان) فوجدت فضائل الصوم ومسائل الصوم وغيرها موافقاً للحق صريحاً وموافقاً للمذهب نعمان ابي حنيفة(رح) وعسى ان ينتفع بها الصغير والكبير والقاصي والدنى والله يعطي كل مسؤول.اللهم اجعل سعىَ مصنفها ومدونها مشكورا.وعمله مبروراً وصنيعه مأجورا:

په درنــښت

مــولــوي عـــبد الـعزيز صـاحـب

لاسـليک

تقريظ

الصديق المشفيق المولوي اكرام الله(حكمي)المهتمم لمدرسة الاسلامية مصباح القران:اطال الله عمره

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله العلي الوهاب:اتى رسوله محمدبن عبدالله الكتاب والحكمة وفصل الخطاب وجعله احكم داع الى ربه وجعله المربي الأمثل ولقدوة الحسنة لأولى الألباب وجعل وارثي رسالته من امته الربانيين الفقهاء الراشدين المجاهدين في سبيل ربهم: امابعد

فان هذالكتاب في مبحث مسائل الصوم

للقاري مولوي عبدالباري(عرفان) بعدماطالعت بعض مسائل هذالكتاب فوجدت فضائل الصوم ومسائل الصوم بالدلائل المتيقنة:

واخيراً أسأل العلى القدير ان يطيل

عمرالقاري المولوي عبدالباري(عرفان) مع كمال العافية ويجعل النفع بما كتب من مؤلفات ممتداً مادام على وجه الأرض انساناً قابلاً لان ينتفع لدينه ودنياه.

واخير دعوانا ان الحمدلله رب العالمين

په درنـښت

خادم المدرسة المصباح القران ودارالحفاظ

المولوي اكرام الله (حكيمي)



تقريظ

العالم الذكي صاحب العجز المولي عبدالغفار(عمري) حفظه الله الباري

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي علمنا مالم نعلم: الحمد لله الذي شرفنا على سائرالأمم: والصلوة والسلام على فخرالعرب والعجم:واصحابه مانطق السان وكتب القلم:

امابعد فقد سرحت النظر فى التأليف الأخ فى الله القاري مولوي عبدالباري (عرفان) المسمى بالبشتو(دروژي مسائل اوفضائل)فوجدته كنز الأحكام فى مسائل الصيام مشتملاً على درر النفيسه،وجواهرالثمينة،مدللاً بالايات القرانية،والأحاديث النبوية،والمسائل الفقهية،وقدبذل المؤلف الموقر فى جميع هذه الفوائد العلميه،فجهوده المشكورةوقدم للمسلمين تحفة العلمية ثمينة.فجزاه الله خيراً من خزائن رحمته احسن مايجازي عباده المحسنين وجعله في ميزان حسناته ورزقه القبول فى اوطان كله انه على كل شئٍ قدير

وصلى الله على خير خلقه ونور عرشه محمد واله واصحابه اجمعين

په درنښت مولوي عبدالغفار (عمري)

١٤٤٣/٨/١٠